بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** تفتیش او کنټرول

**څانګه:** اداره او منجمنټ، بانکداري او محاسبه

**مولف:** کریم الله مطلوب

ژباړن: خادم احمد حقیقي

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد احسان (احسان)
- عبدالمتین حمیدي

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۶۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کډ ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۹۱-۰



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

ketabton.com - The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی      دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې      هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی      د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو      د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي      پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي      هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي      لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به      لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر      وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک



| څپرکي | سرلیکونه | مخ |
|---|---|---|
| لومړی | د تفتیش په اړه د بېلابېلو سرچینو تعریفونه | ۱ |
| دویم | د تفتیش ځانګړنې | ۱۲ |
| درېیم | د کنټرولرانو د کنټرولي کړنې ځانګه | ۵۸ |
| څلورم | څارنه او څېړنه Supervision | ۸۵ |
| پنځم | د بهرنیو منابعو مرسته | ۹۵ |
| شپږم | د ذخیرو تفتیش Audit stock | ۱۱۵ |
| | سرچینې او اخیستنې | ۱۳۱ |

ketabton.com - The Digital Library

**سریزه**

خدایا توآن کن که ا نجام کار تو خوشنود باشی ومارستگار
نه آنکه در میدان حشـــــــر تو رنجیده باشی وماشرمســا ر

زموږ د ټولنې په ټولو برخو او څانګو کې د اعتماد او باور مسله د یوې اړتیا په توګه رادمخه کېږي. پر دې بنسټ، یو مهم اصل دا دی، چې د تفتیش د عالي موسسې ټول رپوټونه او نظریات په بشپړه توګه موثق او د درېیم لید له اړخه هم تایید شي. یعنې له هغو مسئلو څخه خالي وي، چې د ادارې د کار په تړاو د چارواکو له اړخه پوښتنې پیدا کړي. بله مهمه موضوع هماغه د مفتشینو او په خپله د ادارې د کارکوونکو ترمنځ د باور او اعتماد فضا رامنځ ته کول دی. باید هر مفتش هڅه وکړي، چې له نېکو او ښو اخلاقو په غوره کولو او په نړیوال او ملي کچه د مناسبو کړنلارو په درلودلو او د رښتینولی او صداقت اصل په پام کې نیولو سره، د خپلو نورو همکارانو اعتماد او باور خپل کړي؛ په دغه صورت کې به د دغه مسلک د ودې او پرمختیا په موخه ښې لاسته راوړنې ولرو.

یو مفتش ته د ولس درناوي او باور، چې ترې برخمن کېدای هم شي، په یقین سره د ټولو مفتشینو او د تفتیش د څانګې د نورو کارکوونکو په ډله ییزو صادقانه هڅو او اجراتو کې نغښتی دی.

پر دې بنسټ دا ډېره ګټوره ده، چې تفتیش له مفتشینو سره په عادلانه او یو شانته چلند وکړي او له هغوی سره په متوازنه توګه، خپلې همکارۍ جاري وساتي.

لــه دې امله، زما دغه چمتو شــوی کتاب، د اداري او منجمنت څانګــو زده کوونکو د ظرفیت د لوړېدا او د افغانســتان د اســلامي جمهوري د پالیسیو د پلیتوب په موخه ګټې اخیستنې ته وړاندې کېــږي، چــې د اداري، اقتصادي، ټولنیزو او ســیاسي چارو د کنټرول او تفتیــش په برخو کې ترې کار اخیستل کېږي. هیله ده، چې ځوانان ترې په ګټې اخیستنې سره په راتلونکي کې د خپل ولس او هېواد لپاره د ښو خدمتونو جوګه شي.

من الله توفیق

**مسلک فهم کریم الله مطلوب**

ketabton.com - The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د تفتیش بېلابېل تعریفونه او ځانګړتیاوې وپېژني، څارنه او څېړنه، د بهرنیو منابعو مرسته او د ذخیرو د تفتیش توضېح.

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د تفتیش په اړه د بېلابېلو سرچینو تعریفونه

**ټولیزه موخه:**

د مالي حسابونو د صورتونو په اړه د ټاکلي نظر د څرګندولو په موخه، د مالي حسابي صورتونو خپلواک تفتیش او څېړنه.

**د زده کړې موخې:** زده کوونکي باید د دغه څپرکي په پای کې لاندې معلومات زده کړي.

- د مالي حسابونو په تړاو د معلوماتو وړاندې کول.
- د تفتیش د کار حدود او کچې.
- د حسابي او مالي صورتونو څرنګوالی او ځانګړنې.

### د تفتیش په اړه د بېلابېلو منابعو تعریفونه

**تــر ټولو جامع تعریف:** (د ســتندردونو پر وړاندې د کړنــو دوامداره څېړنه) که څه هم دغه تعریــف لنډ خو د کنټرول او تفتیش بیانوونکی دی، خو که چېرې ټولې کړنې ســتندرډ نه وي؛ نو هغــه مهال به یاد تعریف نیمګــړی وي. موږ په دې برخه کې د تیوریو له یادونې څخه ډډه کوو؛ ځکــه ټول پوهیږو، چې کنټرول او تفتیش یوه وســیله ده؛ یعنې پــه بېلابېلو پړاوونو کې د کړنو د ترسره کېدو له څرنګوالي څخه د ارزونو، څېړنو، یا څارنو یوه وسیله ده. ټولیز یا بشپړ تفتیش، یوه ازموینه ده، چې د لاندې مسئلو لپاره د موخه لرونکو او جوړونکو ارزونو زمینې برابروي:

- مــالي، فزیکي او بشري منابع، چې د لازم اقتصادي توب، ګټورتوب او اغېزمنتوب په پام کې نیولو سره تنظمیږي.

ketabton.com - The Digital Library

- د حساب ورکولو اړیکې رفع او ترلاسه کېږي.

د کړنــو د تفتیــش لپاره معیارونه، کړنــلارې او عملي تجربې د نړیوال تفتیش د عالي ســازمان (انتوسای) له خوا تنظیم شوي دي. د اجراتو تفتیش یې په لاندې توګه تعریف کړی دی:

د ادارو د پروګرامونــو د ګټو او اغېزو پــه اړه خپلواکې ارزونې ته د اجرااتو تفتیش وایي، چې دولــت یې د مقتضي او هدفمند اقتصاد پــه رعایتولو او په پام کې نیولو سره ترسره کوي او موږ د ښــه والي او پرمختګ پر لور بیايي. د تفتیش او کنټرول بنســټونه، چې زموږ په هېواد کې تطبیقي اړخونه لري، د دندو د بېلوالي په تړاو په ډېره ساده بڼه په لاندې توګه وړاندې کېږي:

**لومړی:** د هغو موسســو د ارزونو له مخې، چې د تفتیش چارې ترسره کوي، تفتیش په دوه ډوله ترسره کېږي:

**۱ - وروستنی تفتیش:** دغه ډول تفتیش، د هېوادونو د لوړو موسسو له خوا پر مخ بېول کېږي او د معاملو تر ترسره کېدو وروسته صورت مومي؛ چې له وروستني تفتیش څخه عبارت دی؛ یعنې نومــوړی تفتیــش د کنټرول له هغه ډول څخه عبارت دی، چې د مالي او حســابي کړنو په پای کې تــرسره کېږي. د دغې پلټنې موخه، له دولتي اړخونو څخه د قانوني لګښــتونو او د دولتي ارګان د عوایدو د ترلاســه کېدو په تړاو، د مالي او حســابي قوانینو او موازینو د رعایتولو د څرنګوالي ارزونه ده. وروستنۍ پلټنه هغه مهال وروستنۍ ده، چې په خپل ټاکلي وخت کې ترسره شي، خو په ټینګار سره باید ووایو، چې په اسیايي یا د (اسوسای) په غړو هېوادونو کې تفتیش پر خپل وخت نه ترسره کېږي؛ نو ځکه په پای کې د تفتیش پایله هم نامطلوبه وي.

**۲- مخکنی تفتیش:** دغه ډول تفتیش، د لګښــت د صورت تــر اجرا او ترسره کېدو مخکې په لاره اچول کېږي، د دغه ډول تفتیش موخه له بې ځایو، زیاتو او غیرضروري لګښتونو څخه مخنیوی دی. په یو شمېر هېوادونو کې یوازې د ډېرو مهمو معاملو په تړاو له دغه ډول تفتیش څخه کار اخیستل کېږي.

## بهرنی تفتیش

بهرنی تفتیش، د یوې مرجع د مالي معاملو د صورتونو او اجرااتو له مســوولانه، هدفمندې او خپلواکې ارزونې څخه عبارت دی.

## کورنی تفتیش

کورنۍتفتیــش، له هغې کړنلارې څخه عبارت دی، چې د یوې مرجع د مدیرانو په مرســته یې د خپلــو کورنیو منابعو په ټولــو لازمو عملیاتونو او پړاوونو کې، د درغلیو او سرغړونو، تېروتنو، بې

ketabton.com - The Digital Library

ځايه يا نا اغېزمنو او غير اقتصادي کړنو د کچې د ټيټولو په موخه، ډاډ ترلاسه کوي. کورنی تفتيش د بهرني تفتيش ډېرې ځانګړنې او ځانګړتياوې لري، خو په دې توپير سره، چې کورنی تفتيش ممکن د هغه مديريت امرونه هم اجرا کړي، چې خپل رپوټ ورته وړاندې کوي. بشپړ تفتيش يوه ازموينه ده، چې د لاندې مسئلو په تړاو د يو هدفمند او جوړونکي تفتيش لپاره زمينې برابروي.

- مـالي، فزيکي او بشري منابع، چې د اقتصادي توب، ګټورتوب او لازم اغېزمنتوب په پام کې نيولو او رعايتولو سره تنظمېږي.

- د حساب ورکولو اړيکې رفع او لاسته راځي.

د اجرااتـو د پلټنــې لپاره معيارونه، کړنلارې او عملي تجربې د نړيوال تفتيش د عالي سـازمان (انتوسای) له خوا تنظيم شوي دي. د اجرااتو تفتيش په لاندې توګه تعريفېږي:

د اجرااتو تفتيش، د اداراتو د برنامو د ګټورتوب او اغېزمنتوب له خپلواکې ارزونې څخه عبارت دی، چــې مورډ د ښــه والي او پرمختګ پر لور بيايي او دولت يــې د مقتضي او هدفمند اقتصاد په رعايتولو او په پام کې نيولو سره ترسره کوي.

## تفتيش

**وروســتنی تفتيش:** وروســتنی تفتيش د کنټرول له هغه ډول څخه عبارت دی، چې د مالي او حســابي کړنو په پای کې ترسره کېږي. د دغه تفتيــش موخه له دولتي وجوهو څخه د هغو قانوني لګښتونو او دولتي اورګان ته د عوايدو د ترلاسه کېدو په تړاو، د مالي او حسابي قوانينو او موازينو د رعايتولو له څرنګوالي څخه ارزونه ده، چې د مالي کال په بهير کې يې وړاندوينه شوې او د مالي کال په پای ته رسېدو سره يې تحقق موندلی وي.

تفتيش په حقيقت کې د وجوهو او جنسي شــتو د لګښــتونو د ســموالي او اغېزمنتيا وروستۍ بنــه څېړي او همدارنګه په قانوني بڼه د عوايدو د ترلاســه کېــدو څرنګوالی کنټرولوي. د دولت د بوديجــې په ګټه توپيرونه تثبيت او له قانون سره ســم د منفي پدېدو پر وړاندې مبارزه کوي. که چېــرې د يــادو تعريفونو موخه لاټول او رالنډ کړو، په حقيقت کــې د کنټرول او تفتيش د موخې لنډيز به په لاندې توګه وي.

(لــه نيمګړتيــاوو او سرغړونو څخه مخنيوی؛ د سرغړونو او نيمګړتيــاوو د رامنځ کېدو د لاملونو پېژندنه او د نيمګړتياوو او سرغړونو د لارې بندولو په خاطر د لارو چارو دقيق تشخيص او لټون دی)

د يادې موخې په پام کې نيولو سره محترم مفتشين بايد متوجه وي، چې يوازې د نيمګړتياوو او درغليو تشخيص او عدلي ارګانونو ته يې سپارل، بشپړه پلټنه نه ده؛ ځکه د منفي پدېدو د لاملونو له برېنډولو او پېژندلو پرته، نه شي کېدای، چې پر وړاندې يې مبارزه وشي. د دغه ټکي په پام کې

ketabton.com - The Digital Library

نیولو سره ویلی شو، چې مفتشین به په دې برخه کې د یو ډاکټر په شان عمل کوي؛ یعنې هغوی باید ناروغي او ستونزه تشخیص او لاملونه یې تثبیت او بیایې پر تداوۍ لاس پورې کړي. له دې پرته به ناروغي او ستونزه نه یوازې له منځه نه ځي، بلکې دا چې لا پسې پیاوړې کېږي. همدا راز کله چې د شتمنیو د حیف او میل، د اختلاسونو او ناوړه ګټو اخیستنو ډولونه په ژوره توګه تثبیت او له منځه ولاړ نه شي، په راتلونکي کې به د ستونزمنو حالتونو په غوره کولو سره، نور هم پراخ او پیچلي شي.

**ASOSAI -۱:** د پلټنې او تفتیش د لوړو موسسو له اسیایي سازمان څخه عبارت دی.

**INTOSAI -۲:** د اروپا د پلټنې او تفتیش د لوړو موسسو له نړیوال سازمان څخه عبارت دی.

**ECOSAI-۳:** د لسو اسلامي هېوادونو د څېړنې او تفتیش له سازمان څخه عبارت دی. له پورتنیو سازمانونو سره د کنټرول او تفتیش د اداري تړاو د لاندې موخو پر بنسټ دی:

۱-په خپله د یاد سازمان په لګښت، د غړو هېوادونو د مفتشینو د یو روزنیز پروګرام جوړول.

۲- د سیمینارونو ترتیبول او برابرول.

۳- د تفتیش او څېړنې د اړوندو رسالو خپرول او وېشل.

۴- د غړو هېوادونو د مفتشینو ترمنځ د نظریو د تبادلې او د هر هېواد د شرایطو په پام کې نیولو سره د غړو هېوادونو له نوښتونو څخه د ګټې اخیستنې په موخه، د کنفرانسونو جوړول.

۵- د ټولیز تفتیش په برخه کې د نظریو او تجربو د تبادلې له لارې د غړو موسسو ترمنځ د تفاهم او همکاریو پراختیا. باید یادونه وکړو، چې د دغو سازمانونو عمده او بنسټیزه موخه، د دولتي محاسبې په ټولو چارو کې، د دولت د کنټرول، د مفتشینو د مسلکي پوهې د کچې لوړوالي او د پلټنې او تفتیش په چارو کې له نویو نړیوالو کړنلارو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې، د نظریو تبادله او د تجربو ترلاسه کول دي.

د عربي ژبې د ګرامر له مخې، د تفتیش کلمه د تفعیل پر وزن او د مزید ثلاثي مصدر دی، چې په پښتو ژبه کې د پلټنې په معنا هم راغلی ده.

**تعریف:** د یوې ټاکلې مودې په بهیر کې، د څېړنې او ارزونې له وسیلې څخه عبارت دی او یا په بل عبارت: هغه وروستنی کنټرول دی، چې د اقتصادي او مالي عملیاتو په پای کې پلي کېږي. له دغه کنټرول څخه موخه، د قانونیت او اقتصادي معقولیت، د ترسره شویو لګښتونو د سموالي او د هغو د اغېزمنتیا او د برنامو (پلانونو) د ځانګړنو د بشپړتیا له پلوه د مالي او اقتصادي عملیاتو څېړنه او د نغدي او جنسي شتمنیو د ساتنې تامینول دي.

ketabton.com - The Digital Library

## مفتش

د مفتش کلمه اسم فاعل دی او هغه چاته ویل کېږي، چې د ارزونې (چک کولو) دنده پر غاړه لري.

هغــه مفتــش، چې د حســابونو د ارزونې چارې پر غاړه لري، د حســاب مفتش نومول کېږي.

باید ووایو، دغه مفهوم د لاتین(AUDIRE) له کلمې څخه اخیســتل شــوی، چې د اســتماع او یا اورېدلو معنا ورکوي. هغه مهال حســابي مسوولینو به د خپلو حسابي رپوټونو د اورولو په موخه د مفتشــینو له خوا احضارېدل. په ۱۹ مه پېړۍ کې د ســوداګرۍ د کچې د پراختیا په پایله کې، لوی لوی شرکتونه رامنځ ته شــول، چې په هغو کې به د پام وړ پانګې د څو محدودو کســانو تر ادارې لاندې په کار اچول شوې وې. په همداسې شرایطو کې هغه ګټې، چې د مفتشینو له زیار او هڅو څخه ترلاســه شوې وې، د ســوداګرۍ او تولیز سکټور په چارو کې په ښــکاره توګه تولیزه پاملرنه ځان ته واړاوله.

لکــه څرنګــه، چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د کنټرول او تفتیــش اداره، د تفتیش د نړیوالو سازمانونو غړې ده، نو دلته د دغو سازمانونو په اړه هم لنډ معلومات وړاندې کوو:

## د پاکستان د کنټرول او تفتیش ادارې له انده د تفتیش تعریف

هغه تعریف، چې د پاکستان د کنټرول او تفتیش ادارې له خوا وړاندې شوی، په لاندې توګه دی:

(د هغو بریدونو د تشخیص په موخه، چې د تطبیق وړ قوانینو، مقررو او کړنلارو سره سم او د اقتصادي توب، ګټورتوب او اغېزمنتیا په پام کې نیولو سره، ترې ګټه اخیستنه، د منابعو د تنظیم لامل ګرځي، د تفتیش د ارګانونو یوه خپلواکه ارزونه ده).

پــه داســې حال کې، چې د پولي ارزښــت د تفتیــش په تعریف کې ځینې توپیرونه شــته؛ خو تعریف یې د پورتنیو تعریفونو په پام کې نیولو سره دا موضوع په ښــه توګه جوتوي، چې د پولي ارزښت بنسټ د اقتصادي توب، ګټورتوب او اغېزمنتوب لپاره یو کاري چوکاټ دی.

## د تفتیش پروګرام لاندې مسئلې په ځان کې رانغاړي

۱- د هغــو متوقعه پایلو یا ګټو پرلوري پرمختګ او ترلاســه کول یې، چې د قانون جوړونکو یا نورو واک لرونکو کسانو له خوا طرح شوي دي.

۲- د ادارو، برنامو، کړنو یا دندو... اغېزمنتیا.

۳- آیا اداره په پلان کې له هغو د تطبیق وړ قوانینو او مقررو سره سمه ده؟

## د تفتیش موخه او پولې

د زېرمتونونو او تحویلخونو حســابونه، د حسابونو یوه لومړنۍ او فرعي برخه جوړوي. له دې

ketabton.com - The Digital Library

امله، تفتيش حسابونه په هره مرجع کې د اجرا وړ ګرځوي.

د زېرمتونونــو او تحويلخانــو د حســابونو تفتيش بايد، د هغو اداري مقررو له ســمې طرحې او اجرا څخه د ډاډ حاصلولو لپاره ترسره شي، چې د پېرېدنې، رســيد، وېشــنې، ســاتنې، موجودی، خرڅلاو او د زېرمې د ګدام د پلټنې د تنظيم په موخه رامنځ ته شــوي وي. د تفتيش په پايله کې بايد د زېرمو په کميت او يا په کنټرولي سيستم کې يې ټولې موجودې نيمګړتياوې څرګندې شي.

الف- د پېرېدنې د چارو تفتيش.

ب-  له زېرمو څخه د ساتنې د چارو تفتيش.

ج-  د مصرف شويو زېرمو تفتيش.

د ــ د زېرمو د مديريت تفتيش.

و ــ د تحويلخونو د يادښتونو تفتيش.

ز ــ د تحويلخونو فزيکي کتنه.

د تفتيش او کنټرول موخه

د لاندينيو مراتبو د ترلاسه کېدو په موخه، د موسسو د ادارې له مالي کړنو (مالي صورتونو) څخه کتنه، د تفتيش موخه بيانوي:

۱-  په حساب اخيستلو او حساب ورکولو کې روڼتيا (شفافيت).

۲-  د ستنډرډ، پروخت او اغيزناک تفتيش له ترسره کېدو څخه ډاډمنتيا او په ټوليزه توګه د يوې نړيوالې ستنډرډې کړنلارې په وسيله د دغه تفتيش ترسره کول.

۳-  د نغدي وجوهو او جنسي شتمنيو ساتنه.

۴-  په قانوني او اقتصادي بڼه د دولتي شتمنيو مصرفول.

۵-  د حسابي او رپوټ ورکولو چارو کره توب.

۶-  د اقتصادي او ټولنيزو پرمختياوو پلان د ځانګړنو تطبيق.

۷-  د هغو مرســتو د لګښــتونو له سموالي څخه ډاډمنتيا، چې د دوستو هېوادونو له خوا ورکړل شوي دي.

د کنټرول او تفتيش قانون، د کنټرول او تفتيش د ادارې مقررې او د تفتيش د تعليمات نامې په پام کې نيولو سره، چې د نړيوالو معيارونو پر بنسټ جوړ شوي، د تفتيش موخه: د وزارتونو، ادارو، دولتي تصديو او تر پلټنې لاندې نورو مراجعو، له کړنو څخه څېړنه ده، چې د کنټرول او تفتيش د قانون په (۴) مه ماده کې توضيح شوي. دغه څېړنه د لاندې مراتبو د ترلاسه کېدو په موخه ترسره کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

۱- په حساب اخیستلو او حساب ورکولو کې روښتیا (شفافیت).

۲- د سټنډرډې، پروخت او اغیزناک تفتیش له ترسره کېدو څخه د ډاډ ترلاسه کول او په ټولیزه توګه د یوې نړیوالې سټنډرډ کړنلارې په وسیله د دغه تفتیش ترسره کول.

۳- د نغدي وجوهو او جنسي شتمنیو ساتنه.

۴- د حسابي او رپوټ ورکولو چارو کره توب.

۵- د پلاني، پرمختیایي، اقتصادي او ټولنیزو ځانګړنو تطبیق.

۶- د دولت د عوایدو پلټنه، کنټرول او تحقق او د مصرفولو څرنګوالی یې.

۷- د اقتصــادي او ټولنیزې ودې د پلانونو د تحقــق څرنګوالي او د دولت د پرمختیایي بودیجې له لګښتونو څخه کنټرول.

۸- د دولتي پروژې اغیزمنتوب، اقتصادي توب او ګټورتوب.

۹- د ولسمشرۍ مقام له لارښوونې سره سم، د نادولتي موسسو (انجوګانو) د کړنو څېړنه او د تمویل کوونکو منابعو غوښتنه لکه (W-B او UNDP).

۱۰- پــه هغو مواردو کې، چې پــه دغې اداري پورې اړه لري، د ولســمشرۍ د محترم مقام او د وزیرانو د عالي شورا د فرمانونو، مصوبو، پرېکړو او حکمونو د تطبیق له څرنګوالي څخه کنټرول.

## د تفتیش ځانګړنې

د تفتیش ځانګړنې د هغو د منلو شویو معیارونو او اجرااتو له لاسته راوړنې څخه عبارت دي، چې په وسیله یې کولای شو د کړنو اقتصادي توب، ګټورتوب او اغېزمنتوب وارزوو.

په هغه صورت کې، چې د تفتیش ځانګړنې تثبیت او ونه ټاکل شي، نو د پرتلنې لپاره بالاخره دلاسته راوړنو، پایلو او وړاندیزونو ته به د رسېدو په موخه کوم اساس شتون ونه لري.

مفتشــین په ملي تفتیش کې پــه معمول ډول، د تفتیش د هغو ټولیــزو او د منلو وړ کړنلارو غوښتنه کوي، چې په مرسته یې اکاډمیکي چارې وده او تکامل کوي.

د پیســو پر وړاندې د ارزښــت د اجرااتو تفتیش، د زیاترو کړنو او بېلابېلو دندو د ارزونې په موخه هڅه او هاند کوي، نو پر دې بنسټ، د منلو وړ کومې ټولیزې ځانګړنې شتون نه لري.

پر دې بنســټ، د مالي مفتیشینو په پرتله، د اجرااتو تفتیش مفتشین، په ډېرو ستونزمنو سیمو او ساحو کې فعالیت کوي.

## د تفتیش ډولونه

پورتنــي ټکي د پلټنو پــه برخه کې، یو له بل سره ډېر نژدې اړیکې لــري، چې په دې توګه یو اغېزناک تفتیش او کنټرول رامنځ ته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

په لنډه توګه باید ووایو، که پورتنۍ موخې ترلاسه شي، نو زموږ تفتیش به یو ایډیال تفتیش وي.

پورتنۍ کړنلارې د تفتیش له ډولونو سره کره تړاو لري. پر دې بنسټ، تفتیش، تر تفتیش لاندې مرجع د ټولو کړنو د په بر کې نیولو له پلوه درې ډوله دي:

**ټولیز تفتیش:** د تفتیش دغه ډول، ترتفتیش لاندې مرجع د مالي، حسـابي او اقتصادي کړنو ټول موضوعات په ځان کې نغاړي.

**قسـمي تفتیـش:** دغه ډول تفتیـش، تر تفتیش لانـدې مرجع د مالي او اقتصـادي کړنو ټاکلي موضوعات په بر کې نیسي.

**موضوعي تفتیش:** دغه تفتیش، د دولتي دایرو او موسسـو تر اثر لاندې په ځو متحدالشـکلو واحدونو کې د موضوعاتو څېړنې په بر کې نیسي. د بېلګې په توګه: د بارووړونکو ځو ټرانسـپورټي موسسو لکه د خدمت، صداقت، کاماز او داسې نورو بارووړونکو اتحادیو ترمنځ د فی کیلومترو تمام شـوې بیې څېړل؛ په ځو ادارو کې له تولیدي ظرفیتونو څخه د ګټې اخیسـتنې، د معاملو تفتیش، تسلیم اخیستنې یا د جنسونو د وېش څېړنه او داسې نور.

## د تفتیش د ځانګړنو ډولونه

۱- ټولیزې ځانګړنې.

۲- خصوصي ځانګړنې.

## ټولیزې ځانګړنې

ټولیزې ځانګړنې د معقولو او د منلو وړ اجرااتو له جامع شرحې څخه عبارت دي. د بېلګې په توګه: د منلو وړ ټولیزې اداري کړنلارې کېدای شي د منلو وړ یوه ځانګړنه وي.

## خصوصي ځانګړنې

خصوصي ځانګړنې د یوې ادارې له برنامو، سیستمونو او کنټرولي چارو سره نژدې اړیکې لري.
په تخصصي ډګرونو کې  ممکن د متخصصینو همکاریو ته اړتیا وي.
د تخنیکـي پروژو لپاره کېدای شي، له تخنیکي مفتشـینو او متخصصینو څخه جوړشـوی ټیم کولای شي په بېلابېلو علمي ځانګو کې اغېزناک موثر تفتیش ترسره کړي.
د پیسو پر وړاندې د ارزښت د اجرااتو په تفتیش کې، مفتشین د اجرااتو یا ځانګړنې د مخکې له مخکې ټاکل شویو توقعاتو پر وړاندې، د پروژې د یوې برنامې اجرااتو ته لاسرسۍ مومي.

ketabton.com - The Digital Library

دا چې، يوه ځانګړنه د منلو وړ وي، بايد ټاکلي ځانګړنې ولري؛ لکه: د ډاډ وړ، هدفمند، د درک کولو وړ، د پرتلنې وړ، سم او د منلو وړ وي.

## د تفتيش اثباتيه مدرکونه

د تفتيش اثباتيه مدرکونه، کولای شــو، د تفتيش د پايلو ملاتړ په توګه د راټولو شــويو او ګټه اخيستل شويو معلوماتو په بڼه تعريف کړو.

د (انتوســـای) د تفتيش معيارونه او د (اسوسای) د اجرااتو تفتيش کړنلارې ټينګار کوي، چې د تفتيش اثباتيه مدرکونه بايد لاندې ځانګړتياوې ولري:

– د اداري ترتفتيــش لانــدې برنامې، فعاليت يا دندې په تړاو، د مفتشــينو له قضاوت څخه د ملاتړ په موخه، د کافي والي او وابستګۍ درايت شتوالی.

د حقايقو د تطبيق کفايت او درايت لرل.

له خصوصي کتنو څخه د اثباتيه مدرکونو درلودل.

د مستندو شواهد او مدرکونو درلودل.

اصلي سندونه او مدرکونه.

**پلويتوپ يا وابستګۍ:** د تفتيش له موخې سره تړاو.

کافي: د اثباتيه مدرکونو کافي والي يا بسنه .

د مدرکونو کيفيت.

سطح او ارزښت يې.

د تفتيش اثباتيه مدرکونه د معمول له مخې څلور ډوله وي:

– فزيکي مدرکونه.
– مشهود مدرکونه.
– مستند مدرکونه.
– تحليلي مدرکونه.

## د مدرکونو درا ټولولو له تخنيک او فن څخه ګټه اخيستنه

د مدرکونو د استنباطولو او راټولو لپاره، له لاندې کړنلارو څخه ګټه اخيستل کېږي:

– د سند بيا کتنه او ارزونه.

ketabton.com - The Digital Library

- (د معلوماتو د راټولو په موخه) مرکې
- (د موضوع په اړه د معلوماتو د راټولو په موخه) پوښتنپاڼې.
- د معلوماتو او اطلاعاتو تحليل.
- فزيکي کتنې او څېړنې.
- د تفتيش د مدرکونو تحليل.

له بېلابېلو منابعو څخه د معلوماتو تر راټولو وروســته د مفتش دنده دا ده، چې ياد مدرکونه تحليل کړي.

د مدرکونــو تحليل، د هغو مدرکونو د ســموالي کړنلارې پــه بر کې نيسي، چې د مفتش له خوا کارول شــوي وي. د معلوماتو تحليل، د تفتيش د موخو پر بنســټ، د تفتيش په ځانګړنې پورې د اړوندو لاسته راوړنو په وده او پرمختيا کې مرسته کوي.

د تفتيش د مدرکونو د تحليل پروسه او د لاسته راوړنو او پايلو استنتاج په لاندې توګه لنډيږي.

## خپلو پايلو ته پرمختيا ورکړئ

د پايلو د پرمختيا په موخه، مفتش بايد د لاندو ټکو په تړاو بشپړه پوهه ولري.

- **ځانګړنې:** د کار ځانګړنې بايد څه وي؟
- **شرايط:** شرايط څه شئ دي؟
- **لاملونه:** هغه شرايط او لاملونه چې د قناعت وړ نه وي.

۱ــ د هغو موضوعګانو په ګوته کول، چې په ســمه توګه نه وي ترسره شــوي او د ســمونې او اصلاح اړتيا رامنځ ته کوي.

۲ــ د مديريت له کنټروله بهر موضوعات.

- **د پايلو اغېزمنتيا:** د هغه وضعيت ارزونه او اهميت چې دقناعت وړ وي.

۱- کــه له ځانګړنو څخه سرغړاوي لږ وي، نومفتــش بايد پرېکړه وکړي، چې له خپل رپوټ څخه يې حذف کړي.

۲- په رپوټ کې بايد يوازې، د مهمو او با ارزښتو موضوعاتو يادونه وشي.

۳- مفتش بايد د خپل کار کتنې او پايلې څرګندې کړي.

۴- اصلاحي تدبيرونه- د ادارې لپاره د مفتشــينو تحليل هغــه مهال کاري واقع کېداى شي، چې دغه تحليل د ښــه والي لپاره د ساحو پر تشخيص او د اصلاحي تدبيرونو د وړانديز په وړاندې کولو قادر وي.

ketabton.com - The Digital Library

# د لومړي ځپرکي لنډيز

په دغه ځپرکي کې، د تفتيش او کنټرول د تعريفونو په تړاو هر اړخيز معلومات وړاندې شول.

همدا راز د تفتيش د دندو او کړنو ترڅنګ، د تفتيش د کاري بهير پر بنسټ، هم په ملي او هم په نړيوالو ډګرونو کې، کورني او بهرني بنسټونه د دغه ځپرکي د منځپانګې عمده برخه جوړوي.

بايــد له پامه و نه غورځوو، چې د ټولنيــز ژوندانه په ډګر کې، د نړيوال تفتيش ونډه زياته او د پــام وړ ده، چــې په دغه ځپرکي کې پرې هراړخيز بحث شــوی دی. په معمول ډول، بين الدول تفتيش له نړيوالو پېښــو او احوالونو څخه بحث کوي، چې په واقعيت کې، د نړۍ د هېوادونو له کورنيو اجراتو سره تړاو لري.

**ارزونه:**

۱- د مســلکي زده کړو دغه نــوی کتاب، د دوه کلنې دورې لپاره ترتيــب او د مرتبه مفرداتو له مخې تدريس ته چمتو شــوی. د دې ترڅنګ، هڅه شــوې، څو د تدريس بهير له محصلانو سره همغږي او درسونه د هغوی له اړتياوو سره سم پر مخ ولاړ شي.

۲- په دغه کتاب کې، تر متن وړاندې، د لوست موخه مشخصه شوې ده.

۳- د دغه نوي درسي کتاب منځپانګه، لږه موده په بر کې نيســی، چې د هر کتاب حجم، له ښوونيز پلان سره سم او د محصلانو د وړتياوو په پام کې نيولو سره ترتيب  شوي دي.

۴- د نوي کتاب د متن تر پيلولو وړاندې، بايد يوه يا دوه ذهني پوښتنې مطرحې شي.

۵- په نوي کتاب کې، د ښوونکي له خوا به ارزونه په منظمه توګه د لوست په پای کې ترسره شي.

ketabton.com - The Digital Library

## د لومړی څپرکي پوښتنې

۱- د تفتیش په اړه علماوو چې کوم تعریفونه وړاندې کړي بیان یې کړي؟

۱- هغه تعریفونه، چې پوهانو د تفتیش په اړه وړاندې ویې لیکئ؟

۲- د لومړنیو پایلو تفتیش تعریف کړئ؟

۳- د تفتیش په اړه د بېلابېلو منابعو تعریفونه په ځانګړي توګه د پاکستان تعریف تشریح کړئ؟

۴- د تفتیش په اړه هرخومره چې پوهېږئ، ولیکئ؟

۵- مفتش څوک دی او څه دنده لري؟

۶- د تفتیش ډولونه تشریح کړئ؟

۷- د تفتیش اثباتیه مدرکونه تعریف کړئ؟

۸- کنټرول او تفتیش له یو بل سره څه توپیر لري، ولیکئ؟

۹- د کنټرول تعریف په لنډه توګه تشریح کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# دویم څپرکی

## د تفتیش ځانګړنې

**ټولیزه موخه:**

د تفتیش په برخه کې د شتو فرصتونو څخه زیاته ګټه اخیستنه.

**د زده کړې موخې:** د تفتیش په اړه معلومات لاندې موضوعات په بر کې نیسي:

- ټول مدرکونه باید په مناسبه توګه ترلاسه شي.
- مدرکونه او شواهد له نړیوالو معیارونو سره سم دی او کنه؟
- کافي مدرکونه او شواهد په لاس کې لرو؟
- آیامالي صورتونه له عمده تردیدونو او شکمنو موردونو څخه اغیزناک دي؟
- دغه او دې ته ورته نور موضوعات د دغه څپرکي ښوونیزې موخې دي.
- (د تفتیش ځانګړنې ـ باید څه وي).
- د تفتیش شواهد څه شی دی.
- د تفتیش موندنې.
- (توپیر په څه شی کې دی، څه باید وشي).
- د تفتیش پایلې او سپارښتنې باید انکشاف وکړي.
- د موندنو لاملونه او اغېزې مشخصې کړئ.
- د سپارښتونو احتمالي اغېزې باید په هغه ځای کې چې ممکن وي، اټکل شي.
- د تفتیش د موندنو پر بنسټ، زما په باور، دغه پروژه په اقتصادي توګه نه ده ترسره شوې.

ketabton.com - The Digital Library

هغــه اصــلي لاملونو، چې د دغه وضعیت د رامنځ ته کېدو باعــث ګرځېدلي، د دیپارټمنټ په پلان جوړولو او د څارنې په سیستم کې له کمزورتیاوو څخه عبارت دی.

## د تفتیش د نظر څرګندولو ترتیب

### لومړی پوښتنه:

۱- آیا ټول هغه مدرکونه او شواهد چې ټمه یې کېده، په مناسبه توګه ترلاسه او ارزول شوي دي؟

۲- دغې پوښتنې ته یوازینی ځواب (هو، یا نه) دي.

### دویمه پوښتنه:

۳- که زموږ د لومړۍ پوښتنې ځواب (نه) وي، دا په دې معنا ده، هغه مدرکونه او شواهد چې موږ ترلاســه کړي، له نړیوالو معیارونو سره ســم نه دي، ( د بېلګې په توګه، که موږ و نه شو کړای، د ځینو تجربو د ترسره کولو په موخه، له ځینو ټاکلو ولایتونو څخه لېدنه وکړو، نو طبیعي ده، چې له یاد ولایت څخه به هېڅ راز مدرک په لاس کې و نه لرو.). پر دې بنسټ، د دویمې ګنې پوښتنه چې په لاندې توګه ده، باید داسې مطرحه کړو:

۴- پوښــتنه آیا پر مالي صورتونو ممکنه اغېزې، دومره پراخــې او مادي دي، چې کولای شي، په ناسمه توګه یې لارښوونه وکړي؟

۵- په هغه صورت کې، چې د دغې پوښتنې ځواب (هو) وي، نو زموږ نظر د مسوولیت ادعا یو مشروط رفع کوونکی نظر دی ( چې ستاسې په اړه به د ۵ ګنې بېلګه وي) دا په دې معنا ده، چې ترلاســه شــوي مدرکونه او شواهد په داسې توګه دي، چې موږ پر دې قادروي، چې تصمیم ونیسو، آیا حسابونه یو سم او مناسب کرکټر وړاندې کوي او کنه؟

۶- په هغه صورت کې، چې د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، زموږ نظر به له محدودیت پرته یو مشروط نظر وي ( چې ستاســې په اړه به د ۴ ګنې بېلګه وي) یعنې د حســابونو د سم او مناسب کرکټر د اثباتولو لپاره مو کافي مدرکونه او شواهد ترلاسه کړي، خو له هغو موردونو پرته، چې زموږ د تفتیش نظر په څرګندېدو کې، ورته مراجعه ورکړ شوې ده.

### دویمه پوښتنه:

۱۱- کــه د لومړۍ ګنې پوښــتنې ځواب، لکــه څرنګه چې لېدل کېږي، کافي مدرکونه او شــواهد په لاس کې لرو، (هو) وي، پر دې بنســټ، خپله درېیمه پوښــتنه، چې په لاندې توګه ده، داســې مطرحوو:

ketabton.com - The Digital Library

**درېيمه پوښتنه**

آيا مالي صورتونه، له نړيوالو محاسبوي قوانينو او معيارونو سره سم ترتيب شوي دي؟

۱۲- د دغې پوښتنې ځواب په مستقيمه توګه، د هغو تجربو پر بنسټ، چې د دغې موخې لپاره ترسره کېږي، لاسته راځي.

**څلورمه پوښتنه:**

۱۳- که د څلورمې ګڼې پوښــتنې ځواب (هو) وي، نو دا په دې معنا ده، چې معيارونه ســم دي. پر دې بنسټ، څېله څلورمه ګڼه پوښتنه په لاندې توګه مطرح کوو.

۴- پوښتنه: آيا مالي صورتونه، له عمده ترديدونو او شکمنو موردونو څخه اغيزناک دي؟

۱۴- پــه دې برخه کې موږ، د داســې موردونو لکه د ناڅرګندو عمده شــتمنيو د ارزونې په لټه کې يو. د جنســونو له شــتون څخه ډاډه يو، خو د بيه په اړه يې نه موږ او نه هم تر تفيش لاندې معلومات لري. د بېلګې په توګه، د ترانســپورت وزارت د ډېرو د يوه کان مالک دی، خو نه هغوی پوهېږي او نه موږ، چې له دغه کان څخه څومره مواد رااېســتل شــوي او څومره مواد په کې پاتې دي او همدارنګه د بيې په اړه يې نه موږ معلومات لرو نه هغوی.

**پنځمه پوښتنه:**

۱۵- که د څلورمې پوښــتنې ځواب (هو) وي، فکر کــوم، ناڅرګند موردونه دومره پراخ دي، چې کېدای شي، حسابونه ترې اغيزناک شي. پر دې بنسټ، پنځمه پوښتنه بايد داسې مطرح شي:

۵ - پوښتنه: آيا د عمده او ناڅرګندو او مشکوکو موردونو په تړاو د روڼتيا (شفافيت) په ګډون، مالي صورتونه، يو سم او مناسب نظر وړاندې کوي؟

په دې اړه غواړو، هغه يادښــتونه، چې د عمده ناڅرګندو موردونو د حسابي روڼتيا (شفافيت) په اړه، په مفصله توګه معلومات وړاندې کوي، وګورو.

۱۶- په هغه صورت کې، چې زموږ د دغې پوښتنې ځواب ( هو وي، کولای شو) د هغو تشريحي پاراګرافونــو پــه پام کې نيولو سره، چې د مــوادو په پنځمه ګڼه بېلګه کې ځای پرځای شــوي، يو مشروط نظر وړاندې کړو . دا په دې معنا ده، چې که څه هم يو لړ شکونه او ناڅرګندتياوې شته، چې کولای شي، حســابونه اغيزناک کړي، خو تر تفتيش لاندې مرجع يو يادښت ضميمه کوي، چې په لړ کې يې رامنځ ته شــوې ســتونزه تشريح او په ټوليزه توګه يې تر پوښښ لاندې راولي او زموږ قناعت هم ترلاسه کېږي.

۱۷- که زموږ د پوښــتنې ځواب (نه) وي، په دې معنا سره، چې د هغې ضميمې له شــتون سره

ketabton.com - The Digital Library

سره، چې د موضوع په تړاو ترتفتیش لاندې مرجع له خوا چمتو شوي، حسابونه یو سم او مناسب کرکټر نه وړاندې کوي. پر دې بنسټ، دویمه پوښتنه، چې مخکې تشریح شوې وي، مطرح کوو.

۱۸- په هغه صورت کې، چې زموږ د دغې پوښتنې ځواب (هو) وي، له حسابونو سره باید موافقه و نه کړو. د دغه موضوع په پام کې نیولو سره، حســابونه ناســم دي، او موږ باید مشروط نظر – مخالف نظر، چې ستاسې د موادو په ۶ ګڼه بېلګه کې تشریح شوې ده، وړاندې کړو.

۱۹- که د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، کولای شو، حسابونه ومنو او له هغو اقلامو پرته، چې موږ ورسره هوکړه نه لرو، د حســابونو یو ســم او مناسب کرکټر وړاندې کړو. پر دې  بنسټ، د هغه عدم توافق په استثنا، چې  ستاسې د موادو د درېیمې ګڼې بېلګه ده، باید یو مشروط نظر صادر کړو.

**شپږمه پوښتنه:**

۲۰- کــه د ۴ مې ګڼې پوښــتنې، ځــواب (نه) وي، دا په دې معنا ده، چې حســابونه له هېڅ راز عمده ناڅرګندتیاوو یا شکمنو موردونو څخه اغیزناک نه دي، پر دې بنسټ، د ۶ مې ګڼې پوښتنه، په لاندې توګه مطرح کوو:

۶ - پوښتنه: آیا مالي صورتونه، یو مناسب او سم کرکټر وړاندې کوي؟

یوازینــي څــه چې موږ پر دې قــادروي، چې دغه پوښــتنې ته ځواب ووایو، زمــوږ د تفتیش مدرکونه او قضاوتونه دي.

۲۱- که د دغې پوښتنې ځواب (هو) وي، نو حسابونه به زموږ د قناعت وړ وي، یو سم او مناسب کرکټر وړاندې کوي او موږ هم کولای شــو، چې یو موافق نظر، چې ستاســې په ۱ ګڼه بېلګه کې ښودل شوي، صادر کړو.

۲۲- که زموږ د پوښتنې ځواب (نه) وي، پورتنې دویمه ګڼه پوښتنه مطرح کوو.

۲۳- که د دغې پوښتنې ځواب (هو) وي، فکر کوم، چې حسابونه ناسم دي، له دې امله، باید یو مشروط نظر – مخالف نظر، چې ستاسې په ۶ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوي، صادر کړو.

۲۴- که د دغې پوښــتنې ځواب (نه) وي، فکر کوم، له ناســمو موردونو پرته، حسابونه یو سم او مناسب کرکټر وړاندې کوي، پر دې بنسټ، د عدم توافق له موردونو پرته، چې ستاسې د موادو په ۳ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوي، باید یو مشروط نظر صادر کړو:

**اومه پوښتنه:**

۲۵- که د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، نو حسابونه یا له نافذه قوانینو او مقررو او یا د نړیول

ketabton.com - The Digital Library

تفتيش له معيارونو او يا هم له دواړو سره سـم نه دي، پر دې بنسـټ، د اومې ګڼې پوښـتنه په لاندې توګه مطرحوو:

۷ – پوښتنه: آيا د يو سم او مناسب کرکټر د وړاندې کولو لپاره، رونتيا (شفافيت) ته اړتيا شته؟

۲۶- په دې اړه، غواړو د دې موضوع سـپيناوی وکړو، له دې سره سره، چې حسـابونه له نافذه قوانينو او مقررو او د نړيوال تفتيش له معيارونو سره مطابقت نه لري، آيا يو مناسب او سم کرکټر وړاندې کوي؟

۲۷- که د اومې پوښتنې په ځواب کې (نه) ووايو، نو بايد د دويمې ګڼې پوښتنه مطرح کړو.

۲۸- که د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، فکر کوم، چې حسابونه ناسم دي، پر دې بنسټ، بايد يو مشروط نظر – مخالف نظر، چې ستاسې د موادو په ۶ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوی، صادر کړو.

۲۹- په هغه صورت کې، چې د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، فکر کوم، حسابونه له ناسمو اقلامو پرته، يو مناسـب او سـم کرکټر وړاندې کوي. پر دې بنسـټ، د عدم توافق له موردونو پرته، چې ستاسې د موادو په ۳ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوی، بايد يو مشروط نظر صادر کړو.

**اتمه پوښتنه:**

۳۰- که د اومې پوښـتنې ځواب (هو) وي، فکر کوم، چې تر تفتيش لاندې مرجع بايد حسـابونه شـفاف کړي، څو د يو سـم او مناسب کرکټر څرګندوی وي، له دې امله، د (۸) مې ګڼې پوښتنه په لاندې توګه مطرح کوو:

۸ - پوښتنه: آيا د پورتنۍ موضوع روڼتيا (شفافيت) کافي ده؟

پر دې بنسټ، له ځانه پوښتو، چې آيا وړاندې شوې روڼتيا (شفافيت) کافي ده؟

۳۱- که د اتمې ګڼې پوښتنې ځواب (هو) وي، بايد د څلورمې ګڼې پوښتنه مطرح کړو، څو تصميم ونيسو، آيا مالي صورتونه، له عمده ناڅرګندتياوو او شکمنو موردونو څخه اغيزناک دی او کنه؟

۳۲- که چېرې د ۴ مې ګڼې پوښتنې ځواب (هو) وي، نو پنځمه ګڼه پوښتنه مطرح کوو.

۳۳- کـه د ۵ مـې ګڼې پوښـتنې ځواب (هو) وي، فکر کوم، په حسـابونو کې يـو ډول (روڼتيا) شـفافيت شته، چې حسابونه زموږ د قناعت وړ ګرځېدلي او همدارنګه کولای شي، چې يو مناسب او سم کرکټر وړاندې کړي. پر دې بنسټ، کولای شو، چې د نه توافق وړ له موردونو پرته، چې په ۲ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوې ده، يو مشروط نظر صادر کړو.

۳۴- که د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، نو بايد پورتنۍ دويمه ګڼه پوښتنه مطرحه کړو.

ketabton.com - The Digital Library

۳۵- که د دغې پوښتنې ځواب (هو) وي، فکر کوم، حسابونه ناسم دي. پر دې بنسټ، باید یو مشروط نظر – مخالف نظر، چې ستاسې د موادو په ۲ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوې ده، وړاندې کړو.

۳۶- په هغه صورت کې، چې د دغې پوښتنې ځواب (نه) وي، فکر کوو، چې حسابونه له ناسمو اقلامو پرته، یو مناســب او ســم نظر وړاندې کوي. پر دې بنسټ، د نه توافق وړ مواردو پرته، چې ستاسې په ۶ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوي دي، باید یو مشروط نظر وړاندې کړو.

۳۷- که چېرې د ۴ مې ګڼې پوښتنې ځواب (نه) وي، دا په دې معنا ده، چې حسابونه له هېڅ راز عمده مشکوکیتونو او ناڅرګندتیاوو څخه نه دي اغیزناک. پر دې بنسټ، ۶ ګڼه پوښتنه مطرح کوو.

۳۸- که د ۶ مې ګڼې پوښتنې ځواب (هو) وي، نو ډاډه یو، چې حسابونه یو سم او مناسب کرکټر وړاندې کوي او موږ هم کولای شو، یو موافق نظر، چې ستاسې د موادو په ۱ مه ګڼه پوښتنه کې ښودل شوی دی، وړاندې کړو.

۳۹- که د دغې پوښــتنې ځواب (نه) وي، نو فکر نه کوو، چې حســابونه یو سم اومناسب کرکټر وړاندې کړي؛ پر دې بنسټ، باید ۲ مه ګڼه پوښتنه مطرحه کړو.

۴۰- په هغه صورت کې، چې زموږ د دغې پوښــتنې ځواب (هو) وي، فکر کوو، چې حســابونه ناسم دي. پر دې بنسټ، باید مشروط نظر – مخالف نظر، چې ستاسې د موادو په ۶ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوی دی، وړاندې کړو.

۴۱- که چېرې ۲ مه ګڼه پوښــتنه په (نه) باندې ځواب کړو، فکر کوو، حســابونه له ناسمو اقلامو پرته یو سم او مناسب کرکټر وړاندې کوي. پر دې بنسټ، هغه مواد چې د توافق وړ نه وي، چې ستاسې د موادو په ۳ مه ګڼه بېلګه کې ښودل شوی دی، یو مشروط نظر وړاندې کړو.

د تفتیش د کاري سندونو، مدرکونو او پاڼو وړاندې کول

۱-د تفتیش ټولې څانګې له پلان جوړونې تر رپوټ ورکونې پورې باید د کاري پاڼو درلودونکې وي.

۲- د تفتیــش او کنټــرول اداره بایــد د کاري پاڼو د چمتو کولو، څېړلو او دوســیه کولو لپاره کړنلارې ولري.

۳- د تفتیش کاري پاڼې باید واضحې، د ویلو وړ، مرتبطې، سمې، پاکې او د ګټې اخیستنې وړ وي.

۴- د هغو سندونو، مدرکونو او پاڼو په تړاو، ټول معلومات باید ثبت شي، چې د مفتش له خوا کار ترې اخیستل کېږي.

۵-د تفتیش کاري پاڼې باید په بشپړه توګه مخکنیو پاڼو ته د مراجعو د کړنلارې په څېر، تنظیم شي.

۶- کاري پاڼې باید له قانوني معیارونو سره سم ترتیب شي.

ketabton.com - The Digital Library

۷- ټولې کاري پاڼې باید لاسلیک او نېټه ولري.

۸- د تفتیش کاري پاڼې باید ترتفتیش لاندې مراجعو سره د اړیکو ټول ســندونه لکه ( لیکونه، یادښتونه، کتنې او مکاتیب) په ځان کې راونغاړي.

۹- د تفتیش او کنټرول اداره باید د تفتیش دوسیې او دایمي سندونه د نوې نېټې په درجولو او ساتلو سره وساتي.

۱۰- د تفتیش ټول ترلاسه شوي معلومات، باید په محرمه توګه وساتل شي.

۱۱- د سندونو د ساتلو لپاره باید سم او واضح تدبیرونه ترلاس لاندې ونیول شي.

۱۲- دوسیې باید معیاري منځپانګې او لړلیک ولري.

## د تفتیش د دوسیې یا فایل ډولونه

۱- دایمي دوسیه

۲- کنټرولي دوسیه

۳- د جاري پاڼو دوسیه

## د تفتیش پلټنو د کاري پاڼو ګټې

– د پلان جوړونې په بهیر کې اسانتیاوې رامنځ ته کوي.

– د کمزوریو، تېروتنو، نیمګړتیاوو او سرغړونو په اړه شکایتونه تثبیتوي.

– نظریې او رپوټونه پیاوړی کوي.

– معلومات برابروي.

– د ادارې د جګپوړو چارواکو لپاره د تفتیش کار د څېړلو او ارزولو بهیر اسانوي.

– د مرجع د کنټرول له ځانګو څخه د ډاډمنتیا په موخه، بهرنۍ خپلواکه پروسه، د پلټنې لپاره زمینې برابروي.

## د داخلي مرستو تفتیش پلټنه

له دولتي نافذه قوانینو، تګلارو، کړنلارو او برنامو څخه اطاعت (د ســلوکي او اخلاقي توقعاتو په بر کې نیوونکې).

– د موخو د ترلاســه کېدو په موخه، د حســابي، مالي او نورو وضع شویو کنټرولرانو د سموالي، کفایت او تطبیق څېړنه او ارزونه.

ketabton.com - The Digital Library

- د محاسبې د سیستم د اغېزمنتیا تضمین او د مالیې وزارت د شتمنیو ساتنه.
- د مالیې وزارت له منابعو څخه کافي او اغیزناکه ګټه اخیستنه.
- د ځانګړو څېړنو ترسره کول.
- د مالي معلوماتو او هغو عملیاتو د سموالي او اعتبار تضمین، چې د مالیې وزارت د ریاستونو له خوا چمتو شوي دي.
- له دولتي نافذه قوانینو تګلاروطرز عملونو او برنامو څخه پیروي کول.
- د اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د حسابي کنټرول د صحت او سموالي کفایت او تطبیق څېړنه او ارزونه.
- د محاسبې سیستم د اغیزمنتیا تعین او د یالی ورازت د شمتنیو ساتنه.
- د مالې وزارت له منابعو څخه کافي او اغیزمنه ګټه اخیسته.
- د ځانګړو څپرنو ترسره کول.
- د هغو مالي او عملیاتي معلوماتو د سموالي او اعتبار تضمین چې د مالې وزارت د ریاستونو له خوا چتو کېږي.

## د کورنیو او بهرنیو مرستو تفتیش

بهرني پلټونکي په معمول ډول، هغه حکم له ځانه سره لري، چې په اساسي قانون کې ترې یادونه شوې ده. هېڅوک نه شي کولای، چې هغوی ته په ورسپارل شویو چارو کې لارښوونه وکړي. هغوی خپل رپوټ پارلمان ته وړاندې کوي او هېڅوک نه شي کولای، چې د هغوی رپوټ پټ وساتي.

بهرني مفتشین دغه ټکي په پام کې نه نیسي، څو کورني مفتشین و نه شي کړای، یادې مسئلې د مالیې وزارت چارواکو یا وزیر ته وړاندې کړي. له دې سره سره، چې په وروستیو کلونو کې په دې برخه کې، یو لړ تغییرات رامنځ ته شوي دي.

د هغه رپوټ له مخې، چې د کورني تفتیش د رییس له خوا د مالیې وزارت د دفتر رییس ته وړاندې شوی، د دغو کسانو واک باید محدود شي، که څه هم دغه کسان د تفتیش له کمېټې سره یو ځای کار کوي، خو داسې هم پکې شته، چې په اداره کې کار نه کوي.

بل بنسټیز توپیر دا دی، چې بهرني مفتشین شایي کلني حسابونو تر تفتیش لاندې ونیسي، په دې توګه، داسې یو رپوټ برابروي، چې حسابرسۍ په بر کې نیسي.

بهرني مفتشین شایي د کورنیو مفتشینو اغېزمنتیا د خپل تفتیش په یوه برخه کې وارزوي. هرڅومره، چې کورنی تفتیش ښه وي، په هغومره اندازه د بهرنیو مفتشینو د ډاډ او باور وړ ګرځي او په همداسې ادارو کې یې د خپلې ارزونې کچه راټیټوي.

ketabton.com - The Digital Library

## د بهرنیو مساعدتونو تفتیش

د مرستو په بڼه

هغه مرستې، چې د نړیوالې ټولنې له خوا برابرېږي، په لاندې بڼې وي:

– بلاعوضې مرستې (Grants): دغه مرستې د داسې موخو لکه بنسټیزې پرمختیاوې، ټولنیزې پرمختیاوې، واړه پورونه او داسې نورو هدفونو لپاره ورکول کېږي.

– د بیا ورکړې وړ کریډیټونه (Loan): چې د پورتنیو موخو د ترلاسه کېدو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي او له ټاکټانې سره د بیا ورکړې وړ وي.

— د دولت (مرکز او ولایتونو)، سیمه ییزو چارواکو او مستقلو ارګانونو د بودیجې د پیاوړتیا په موخه بلاعوضې مرستې(ARTF).

– د ټولیزو لګښتونو د تمویل په موخه بلاعوضې مرستې.

– هغه بلاعوضې مرستې، چې د امنیت او قانونیت (LOTFA) د ټینګښت په موخه د کمکي صندوق تر پروژې لاندې د UNDP د مرستو له لارې، د پولیسو د لګښتونو د تمویل لپاره برابرېږي.

– هغه بلاعوضې مرستې، چې د نادولتي سازمانونو، تسهیل کوونکو شرکتونو یا نورو شرکتونو په وسیله صورت مومي.

هغه مفاهیم، چې په معمول ډول د مرستو په برخه کې ترې کار اخیستل کېږي:

۱- د تمویل او بیا ورکړې (بازپرداخت) سیستم لاندې ټکي په برکې نیسي:

– **ابتدايي امانت:** هغه پیسې دي، چې د یوې مرستې په پیل کې، د پروژې د لګښتونو د ورکړې په بهیر کې د اسانتیاوې د رامنځ ته کولو په موخه، اړوند حساب ته لېږدول کېږي. دغه پیسې د پروژې لپاره د یوه ځانګړي حساب تر پرانېستو وروسته، چې په د افغانستان بانک کې پرانېستل کېږي، یاد حساب ته لېږدول کېږي.

– **ځانګړی حساب:** ځانګړی حساب په د افغانستان بانک کې د خزاینو ریاست له خوا پرانیستل کېږي. د پروژو زیاترې ورکړې په دغه حساب کې، له کمېشن پرته اجرا کېږي.

– **مستقیمې ورکړې:** که چېرې د زیاتو ورکړو په بانک کې په ځانګړي حساب کې د عرضه کوونکو او قراردادیانو لپاره په کافي اندازه پیسې موجودې نه وي، نړیوال بانک د – م ۱۶فورم پر بنسټ، چې د مالیې وزارت له خوا یې ترلاسه کوي، یادې پیسې په مستقیمه توګه په تخنیکي ضمایمو او یا د مرستې په تړونلیک کې ټاکي.

ketabton.com - The Digital Library

– **نوي ورکړې یاReplenishments:** هغه پیسـې دي، چې د مالیې وزارت له خوا له ځانګړي حسـاب څخه د پروژو د لګښـتونو په موخه ورکول کېږي، نړیوال بانک ته د مالیې وزارت له خوا د اجرا شویو پیسو د مالي صورتونو تر وړاندې کولو وروسته، بېرته د نړیوال بانک له خوا ورکول کېږي.

– **بیـا ورکــړه (بازپرداخــت) Reimbursement:** هغه پــروژې، چــې د Implement ting Agencies د اجرایي اسـتازي له خوا ترسره کېږي. دغه اسـتازي زیاتـر نړیوال دي او ځېنو ورکړو یې له خپلو منابعو څخه پوره کوي. تر دې وروسته نړیوال بانک د لګښت حساب د هغه صورت پربنسـټ، چې له مالیې وزارت څخه یې ترلاسـه کوي، د یادو نماینده ګیو لګښـتونه ورکوي، چې د ورکــړو دغــه صورتونه، د بیا ورکړې (بازپرداخــت) په نامه یادېږي. باید ووایــو، دغه ورکړې، د افغانستان بانک له لارې نه ترسره کېږي، یوازې د نړیوال بانک په حسابي صورت کې ترسترګو کېږي.

– **د اجرایــي نماینده ګیو لپاره تولیزې ورکړې:** ځېنې وختونه نړیوال بانک، د پروژو لګښـتونه پــه ټولیزه او یا مجموعي توګه مخکې لــه مخکې اجرایي نماینده ګیو لکه UNOPS ته ورکوي. په دې توګه، هغه پیسې، چې د اجرایي نماینده ګۍ له خوا په پروژو کې په مصرف رسېږي، د حساب صورت یې اړوند وزارت یا مالیې وزارت ته لېږي.

– **پور ورکول او پور اخیستل:** ځېنې وختونه پروژې خپلې اضافي پیسې، په لنډ مهاله توګه د پور په ډول د نورو پروژو په واک کې ورکوي، او یا یاده پروژه د خپلو اړینو لګښـتونو د پوره کولو په موخه د لنډمهاله پور غوښتنه کوي. په هغه صورت کې، چې د پور ورکولو او یا اخیستلو موضوع د مرســتو په تړونلیک کې نه وي څرګند شــوې، نو د یادې پروســې د ترسره کولو لپاره باید یو بل مسوول شخص وټاکل شي او دغه لړۍ باید د مالي صورتونو په حساب کې هم درج شي.

– **د مرستو په اړه مهم سندونه:** د مرستو سندونه په ټولیزه توګه دوې برخې لري:

A- د پروژې سندونه

B- د معاملې سندونه

**A – د پروژې سندونه**

– د مرستې تړونلیک

– تخنیکي ضمایم

– له وزارتونو سره تړونلیک

– له اجرایي استازي سره تړونلیک او

- د پروژو د مدیریت د لارښوونې کتاب، چې یوه مالي او عملیاتي کړنلاره ده، په بر کې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

**B – د معاملې ســندونه:** دغه ســندونه هم انفرادي او هم ډله ييز سندونه په بر کې نيسي، چې د يوې پروژې د کار د بهير په موده کې ترې ګټه اخيستل کېږي.

**د م – ۱۶ فورم:** دغه فورم، د اړوند وزارت او ياد ماليې وزارت له خوا ترتيبېږي.

**د م – ۲۰ فورم:** دغه فورم، د مستوفيتونو له خوا برابرېږي، چې په ترڅ کې يې د خپلو لګښتونو صورتونه وړاندې کېږي.

– **د پــروژې د کوډ جوړونــې پاڼه او د D-۱ فورم:** ( دغه فورم، د يوې ورکړې د لګول شــوې بوديجې په تړاو، مفصل معلومات وړاندې کوي.) (د بوديجې او تخصيص فورم)

– **د اخيستلو غوښتنليک:** دغه غوښتنليک، د مستقيمو او تړليزو ورکړو د لومړني امانت د اجرا په موخه، اجرايي استازي ته لېږل کېږي.

– **د لګښــت صورت (SOE):** د نويو ورکړو او بيا ورکــړو د يو نړيوال بانک له خوا د همدغو سندونو له مخې اجرا کېږي.

– **د بانکي حساب صورت:** د ځانګړي بانکي حساب صورت، د اجرايي نماينده ګيو حسابونه او د بانکي تطبيق صورتونه هم، د مالي صورتونو ضميمه وي.

– **د معاملې لوري د حساب صورت:** دغه سند د هغو ورکړو فهرست دی، چې د نړيوال بانک له خوا وړاندې کېږي.ياد ســند، د مســتقيمو ورکړو، د ځانګړي حساب د نوي ورکړو، بيا ورکړو او د بيا تمويل د لومړنيو امانتونو په تړاو وي. دغه ســند کولای شــو، د شفر او اړونده شمېره په دننه کولو سره د نړيوال بانک له وېبپاڼې څخه ترلاسه کړو.

**مالي څارنيز رپوټ:** دغه سند له دوره يي مالي رپوټونو څخه عبارت دی، چې د وزارتونو او ماليې وزارت له خوا ترتيب او نړيوال بانک ته وړاندې کېږي.

## کلني رپوټونه

– د مشورتي کمېسيون، مديره پلاوی او نورو د لېدنې کتنې يادښتونه.

– **د پېرېدنې ســندونه:** د پېرېدنې ســندونه، وړانديزونه، د بيه اخيســتنې پاڼې، د تړونونو د ارزونې رپوټ، د ارزونې کمېسيون لېدنې کتنې، اعلانونه او داسې نور په بر کې نيسي.

– تړونونه، د پېرېدنې امر – دغه ســند يا تړونونه، د کار، جنســونو، مشورې، زده کړې، تفتيش او داسې نورو د وړاندې کولو په موخه ترسره کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

- بېلونه
- ملاتړ سندونه
- د ګمرکي عوارضو د تصفیې سندونه
- د کریډیټونو لیټراف او بانکي ضمانت
- د لېږدونې په درشل د جنس سندونه
- د ثابتو شتمنیو د ثبت دفتر
- د پروژې د پایلې رپوټونه
- **د حســابدارۍ سیســتم:** په هغو پروژو کې، چې د ARTF GRANT (د افغانستان لپاره د نړیوالو مرســتو صندوق) له خوا تمویلېږي، د افغانســتان د شتو اړتیاوو له مخې، په دې هېواد کې د AFMIS (د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم) په نامه، د حسابدارۍ له یو سیستم څخه کار اخیســتل کېږي. د دغو مرســتو د لګښــت له چارو څخه څارنه, د نړیوال بانک له خوا د ګومارل شــوي اســتازی له خوا صورت مومي. باید ووایو، چې د ملګرو ملتونو په پرمختیایي پروژو کې، د دغو پروژو د حســابدارۍ چارې د UNDP موسســې د کارکوونکو پر غاړه دي. دوی دغه چارې د (اتلس) په نامه د مدیریت له معلوماتي سیستم څخه په ګټه اخیستنه ترسره کوي.
- د نړیــوال بانک پرمختیایي پروژې، په معمول ډول د پرمختیایي بودیجې یوه برخه جوړوي. د دغو پروژو د حساب چارې، د SPECIAL ACCOUNT ( دځانګړو ورکړو واحد) په نامه دفتر له خوا، چې د مالیې په وزارت کې مستقر دی، تنظیم او ترسره کېږي.

د ســندونو حسابي یادښــتونه او د نړیوال بانک اسناد او د دغه بانک د پروژو پورې اړوند نور معلومات، د ځانګړو تادیاتو د واحد له خوا په مالیه وزارت کې ساتل کېږي او دغه معلومات ټول د AFMIS په نامه په یو کمپیوټري حسابدارۍ سیستم کې ثبت او ساتل کېږي.

یاد سیستم په داسې بڼه تنظیم شوی، چې د معاملې ټولې خواوې ورته لاسرسی ولرلای شي؛ یعنې په دغه سیستم کې کولای شو، د پوښتنې په درجولو سره، په اتومات ډول خپل ځواب ترلاسه کړو.

د کنټرول او تفیش اداره باید دغه ســافټ ویر ته لاسرســی ولري او د تفتیش د لاغېزمنتیا په موخه باید ترې د کار اخیســتلو وړتیا ولري. په دغه سیســتم کې، هره پروژه او هره مرســته، ځانته ځانګړی کوډ لري او د هرې پروژې د رسیداتو او ورکړو په اړه له اړوند کوډ څخه کار اخیستل کېږي.

په دغه سیستم کې ټولې ورکړې، د م-۱۶ د فورم او بانکي معاملو او زیاتره د بانکي حساب د صورت له مخې، ځای پر ځاییږي.

- **مــالي صورتونــه:** د پروژې مالي صورتونــه، د مالیې وزارت له خوا د نغدي حســابدارۍ او د

ketabton.com - The Digital Library

حسابدارۍ سکټور د نړیوالو معیارونو د کړنلارو په پام کې نیولو سره ترتیبېږي.

### مالي صورتونه لاندې موارد په بر کې نیسي:

– د مالي کال په بهیر کې، د نغدي رسیداتو او د تادیاتو لنډیز.
– د مستقیمو ورکړو، د نویو ورکړو (پرداخت های مجدد) او بیا ورکړو (بازپرداخت ها) لنډیز.
– د ځانګړي حساب لنډیز.
– د بانک د تطبیق صورت.
– مالي صورتونه، په خپله د مالیې د وزیر یا معین له خوا لاسلیک کېږي.
– د حسابي معاملو د پړاوونو تېرول.

**د معاملو ډولونه:** په ټولیزه توګه دوه ډوله معاملې شتون لري:

۱- ورکړې

۲-رسیــدونه

**۱- د ورکړو معاملې:** د عامه اداري واحد Grantmanagement Unite Gmu په اړوند وزارت کــې، د پــروژې د کوډ جوړونــې پاڼــه (Project Coding Sheet) او د D-۱ فورم یا د تخصیص فورم ترتیبوي او د تخصیص او منظورۍ په موخه، د پرمختیایي بودیجې او بهرنیو اړیکو ریاســت ته یې لېږي.

د بودیجــې ریاســت، د پروژې د کوډ جوړونې پاڼه او د D-۱ فــورم، د تخصیص تر ثبتولو او منظورۍ وروســته، اړوند وزارت ته لېږي. د مرجع تر تصویب وروســته، د ځانګړو تادیاتو واحد، ســندونه چکوي او ارزوي. د ســندونو د سموالي په صورت کې به، د شتمنیو چک ترتیب او د اجرا او منظورۍ په موخه یې، د خزاینو ریاست ته لېږي.

کــه د ځانګړو تادیاتو واحد، یاد چک په مســتقیمه توګــه اجرا کړي، مراجعو به یاد چک د مســتقیمو ورکړو د ټاکل شــویو محدودیتونو په رڼا کې، تر څېړنې او غور لاندې نیسي. که چېرې، د مســتقیمې ورکړې په موخه، لــه معقولیت څخه یې ډاډمن شي، نــو د ځانګړو تادیاتو واحد به د ورکــړې غوښــتنلیک ترتیب او د منظــورۍ په موخه، نړیوال بانک ته لېــږي. د ځانګړو تادیاتو واحد د خزاینو ریاســت د منظورۍ تر اخیســتلو وروسته، د مستقیمې ورکړې په موخه د اخیستلو (برداشــت) غوښــتنلیک د حامي ســندونو په ضمیمه، نړیوال بانک ته لېږي. یاد بانک رارسېدلی غوښتنلیک تر غور او ارزونو وروسته اجرا کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د رســېد معاملې: ځېنې رسېدونه، د نوي ورکړې (مجدد پرداختونه)، بیاورکړې (بازپرداخت) او ټولېزې ورکړې (کلي پرداختونو) د لومړني امانت، له مدرک څخه وي.

د معاملو د رســېدونو او د ورکړو د رســېدونو د اجرا پروسه سره یو شانته وي، خو لږ توپیرونه پــه کې لیدل کېږي، هغه هم د ســندونو او مدرکونو د وړاندې کولــو له پلوه، چې په لاندې توګه توضیح کېږي:

په لومړي ګام کې، ځانګړي تادیات، د اخیستنې غوښتنلیک ترتیب او د منظورۍ لپاره د خزاینو ریاســت ته يې لېږي. که چېرې د ورکړې غوښــتنلیک نوی وي، د لګښــتونو هغه صورتونه، چې د ځانګړي واحد له خوا ترتیبېږي هم، د ورکړې له غوښــتنلیک سره ضمیمه کېږي، د یادو لګښــتونو صورتونه، چې د اجرایي نماینده‌ګۍ له لارې ترلاسه شوی، هم د ضمیمې په بڼه ورسره یوځای کېږي.د ځانګړو تادیاتو واحد د خزاینو ریاســت د منظورۍ تر لاســه کولو وروسته، اخیستنه (برداشت) د ورکړې په موخه د حامي ســندونو په ضمیمه نړیوال بانک ته لېږل کېږي؛ دغه ســندونه تر غور او ارزونې وروسته د نړیوال بانک له خوا اجرا کېږي.

د تفتیش کړنلاره په معمول ډول په دوو بڼو ترسره کېږي:

۱- له پورته نه ښکته کړنلاره.

۲- له ښکته نه پورته ته کړنلاره.

۱- پــه لومړی ډول کې، د تفتیش پلان له مالي صورتونــو څخه جوړېږي او د څېړنې په موخه اقــلام او بېلګــې ټاکل کېږي. د دغــه ډول له مخې به مفتش د اقلامــو د څېړلو په موخه، کنټرولي سیســتم تر غور او څېړنې لاندې نیسي او ځېنې حقیقي تجربې هم سرته رسوي. د بېلګې په ډول، که د پېرېدنې موخه اجناس وي، نو د کورنی کنټرول سیســتم، د پېرېدنې د بهیر خطرونو، رســېد، زېرمې او د جنس د وېشــلو مسئلې ته زیاته پاملرنه کېږي. باید څرګنده کړو، چې دغه کړنلاره، په قانوني تفتیش کې زیات کارول کېږي.

۲- په دویم ډول کې، مفتش به د کنټرول ټول سیستمونه تر څېړنې لاندې نیسي او په بېلابېل ډول معاملې له اصلي منبع څخه ټاکي. دغه کړنلاره په معمول ډول په کورنیو او دولتي تفتیشونو کې مناسبه وي. ځکه چې، په دې ډول ارزونه کې، کنټرولي اغېزمنتیا او د معاملو سموالي ته زیاته پاملرنه کېږي.

– د نړیوال بانک د پروژو په تفتیش کې، د هغو مالي صورتونو په اړه، چې د مالیې وزارت له خوا ترتیبېږي، نظر وړاندې کېږي او دغه کړنلاره له پورته نه ښکته اجرا کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

— له هغه ځایه، چې د نړیوال بانک پروژې او برنامې په بېلابېلو ولایتونو کې، د بېلابېلو وزارتونو له خوا پلي کېږي، تفتیش یې په داسې یوه بڼه ترسره کېږي، چې ټولې ساحې په بر کې ونیسي. پر دې بنسټ، له خپلو حامي سندونو سره د م- ۱۶ فورمونه، ترونونه، رپوټونه، ځای، د زېرمې د ثبت دفتر، د کمیت بېل، د معاشونو جدول او داسې نور ټول ارزول کېږي.

— د تفتیش د پیلېدو په موخه اړیکې.

د افغانستان د بیارغونې لپاره د نړیوالو مرستو د صندوق (ARTF) تفتیش:

دغه صندوق عملیاتي بودیجه، د پانګې اچونې برنامې او د ملي یووالي مرستې تمویلوي.

د پولیسو او نور پوځي لګښتونه د دغه صندوق له خوا نه تمویلېږي.

دغــه صندوق تر ۱۳۸۵ کاله پــورې د ۵۹۷ میلیونو ډالرو په شــاوخوا له عملیاتي بودیجې سره مرستې کړې او د ۱۳۸۴ کال د مرستو کچه یې ۲۸۸ ملیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي.

له دغه صندوق سره د ۲۴ هېوادونو له خوا د پیسو مرسته کېږي.

**ARTF** - هغه صندوق ته وایي، چې د بېلابېلو هېوادونو له خوا ورسره مرستې کېږي. د دغه صنــدوق مدیریت د نړیوال بانک پر غاړه دی، لــه هغه ځایه، چې کورني عواید د عادي (عملیاتي) بودیجــې لګښــتونه نــه شي پوره کولای، نو له دې امله، له یادو مرســتو څخــه د هېواد د عملیاتي بودیجې د پیاوړتیا په موخه په ځانګړي توګه د پانګې اچونې د برنامو لپاره، ګټه اخیستل کېږي.

## د تفتیش څرنګوالی

د هغــه مخکني توافق له مخې، چې په دې اړه یې صورت موندلي، یادې مرســتې د بلاعوضو مرســتو له جملې څخه دي، له دې امله، د دغه صندوق د تفتیش موخه یا کړنلاره او میتودولوژي د نړیوال بانک د هغو مرســتو له تفتیش سره ورته دی، چې د پرمختیایي پروژو په برخه کې ترې ګټه اخیستل کېږي، خو د هغه تعلیمات پاڼې له مخې، چې په دې تړاو ترتیب شوی، له دغو مرستو څخه لاندې لګښتونه نا معقول ګڼل کېږي:

– له دغه صندوق څخه د پولیسو او پوځي ارګانونو تمویل معقول نه دی.

– پانګه ییز لګښــتونه لکه: د نړیــوال بانک له هوکړې (توافق) پرتــه، د ځمکې پېرېدنه او د ودانیو جوړول.

– لــه دغو مرســتو څخه د تفتیش اصلي موخه، د هغو لګښــتونو د معقولیــت په تړاو د نظر وړاندې کول دی، چې د دغه صندوق له خوا ترسره کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د ARTF لپاره د حسابدارۍ مشخص ټکي

– د دغه صندوق له وجوهو څخه لګښتونه، د – م ۱۶ د هغه فورم، له مخې ورکول کېږي، چې د وزارتونو له خوا ترتیبېږي؛ او د – م ۱۶ د هر فورم دلګښت سند په جلا ډول ترتیبېږي.

– په ولایتونو کې اجرا شوي لګښتونه، د حسابې سند له لارې، په حسابي سیسټم کې داخلېږي. او د ولایتونو لپاره د حسابۍ مشخص سند موجود دی.

– حامي سند د لګښت له صورت سره یوځای، د – م ۱۶ په فورم کې شامله وجه ښیي.

– معاشونه د – م۱۶ فورم له مخې ثبت او اجرا کېږي.

## د ARTF پلان جوړونه

د یادو مرستو پلان په داسې بڼه چمتو کېږي، چې زیات وزارتونه او ولایتونه په بر کې ونیسي.

د اقلامو بېلګه اخیستنه یا غوراوي:

د تفتیــش وړ اقــلام، د بیې او د معاملو د هغې مرجع د فعالیت په پام کې نیولو سره، چې په کمپیوتر کې ثبت دی، د بېلګې پر بنسټ ټاکل کېږي. د بېلګې اخیستنې د میتودولوژۍ پر بنسټ، له ۴۰ تر ۶۰ ســلنې پورې وزارتونه د بېلګې اخیســتنې لپاره مساعد دی، چې دغه محدوده کولای شي، له ۸۰- ۹۰ سلنې پورې لګښتونه د تفتیش تر پوښښ لاندې راولي.

د تفتیش لپاره د اقلامو د ټاکنې په بهیر کې، لاندې ټکي په پام کې نیول کېږي:

**د معقولو لګښــتونو کچه:** په هغو مراجعو کې، چې د معقولو لګښــتونو کچه پکې زیاته وي، باید د تفتیش لپاره وټاکل شي.

**د نامعقولو لګښــتونو کچه:** هغه مراجعو کې، چې د نامعقولو لګښــتونو کچه پکې زیاته وي، هم د تفتیش لپاره ټاکل کېږي.

**د تېر کال پوښــښ:** هغه مراجع، چې لګښــتونه یې زیات نه وي، خو په تېر کال تفتیش شوي وي، د بیا لپاره باید تفتیش نه شي.

**تر بېلګې اخیستنې وړاندې:** د تېرو کلونو د کتنو له مخې، هغه اداري ، چې د تېروتنو موارد پکې زیات وي، باید د تفتیش لپاره وټاکل شي.

لــه هرې مرجع څخه په منځنۍ توګه له ۳۰-۶۰ پــورې بیلګې د تفتیش لپاره ټاکل کېدای شي. زیاترې بېلګې باید د هغو پېښــو له ډلې څخه وي، چې د ARTF د څارنیز اســتازي له خوا څېړل شوی نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

په ولایتونو او دویم واحدونو کې د تفتیش چارې، د ادارو او وزارتونو په څېر وي. مفتش باید د کورني کنټرول سیستم تر غور او څېړنې لاندې ونیسي.

## د ملګروملتونو د پرمختیايي پروژو UNDP تفتیش

د پرمختیايي پروګرام UNDP د سازمان د تفتیش چارې په بشپړ ډول د نړیوال بانک د مرستو څانګې له تفتیش سره ورته دي. په دې څانګه کې د هېوادونو له خوا د مرسته شویو پیسو چارې، د نړیوال بانک په څېر، د ملګرو ملتونو د دفتر له خوا سمبالېږي.

د UNDP پروژې، NABDP, LOTFA، د سیمه ییزې پرمختیا پروګرام، د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه، د وچکالۍ له منځه وړل، د افغانستان د بشر حقوقو له کمېسیون سره مرسته او ICT یا د مخابراتي شبکو پراختیا په بر کې نیسي. د ملګرو ملتونو پرمختیايي پروګرامونه، دوه ډوله پروژې په بر کې نیسي:

د DEX یا مستقیمې پروژې: دغه پروژې په مستقیمه توګه د ملګرو ملتونو د دفتر له خوا اجرا کېږي، چې د کنټرول او تفتیش د ادارې د څېړنو او تفتیش له محدودې څخه بهر دی. همدارنګه پیسې یې د اجرایي او یا وزارتونو د استازو له دخالت پرته اجرا کېږي.

د NEX پروژې: هغه پروژې دي، چې پیسې یې د اجرایي استازي یا د اړوند وزارت د نماینده په دخالت سره اجرا کېږي. د ملګرو ملتونو په پروګرام کې لګښتونه، په CDR یا د لګښتونو په صورتونو کې وړاندې کېږي. د لګښتونو صورتونه، په هغو درېو میاشتنیو رپوټونو او د تادیاتو په لست پورې اړوندېږي، چې د ملګرو ملتونو د دفتر له خوا طی مراحل شوي وي.

## د ارزونې  وړ سندونه

- د CDR لګښتونو صورت.
- د کال د ربع مالي رپوټونه.
- د پروژې، تخصیص او بودیجې سندونه.
- د مستقیمو غوښتنو لست.
- خدماتي او مشورتي تړونونه.
- د – م۱۶ فورم، د بانکي حساب صورت، د نغدي او جنسي شتمنیو د ثبتولو دفتر.
- نور سندونه لکه: د لېږدونې، ټرانسپورټ، بانکي تضمین، د بیمې او د اجناسو د قیدیت سندونه.
- د پروژې لارښود، د مشورتي ډلو یادښتونه.

ketabton.com - The Digital Library

– د UNDP د حســابونو حسابي سیســتم، د اتلس په نامه په یو نړیول سیتسم کې ترتیب او ساتل کېږي.

د ملګرو ملتونو د پروژو په تفتیش کې باید د CDP سموالی وارزول شي. مفتشین باید په CDP کې د شاملو معاملو لست، د ملګرو ملتونو له مرکزي دفتر څخه انتخاب او تر څېړنې لاندې ونیسي.

د تادیاتو پورې اړوند د لګښــتونو او نور بنسټیز سندونه، چې د ځانګړي حساب له لارې ترسره شوي، د وزارتونو په اجرایي څانګه کې موجود وي او باید له هغې لارې تر ارزونې لاندې ونیول شي.

– د ملګــرو ملتونو په پــروژو کې د رعایت وړ پیرېدنې کړنلارې ترڅنــګ، د پیرېدنې دولتي مقررې هم د تطبیق وړ وي.

– د پولیســو LOTFA هغه لګښتونه، چې د UNDP له خوا ورکول کېږي، سندونه یې باید د اجرایي څانګې او د کورنیو چارو او مالیې وازتونو له خوا وارزول شي.

– د UNDP پــورې د اړوندو پــروژو په پلټنو او څېړنو کې، په معمــول ډول د تفتیش کتنې لاندې نیمګړتیاوې لري:

– نامعقول تادیات.

– بې اساسه تادیات.

– تر بودیجې لوړ لګښتونه.

– د کتګوریو ناسم تصنیف.

– د پیشکیو نه تصفیه.

– هغه مالیات چې ندي تر لاسه شوي.

– د مالیاتو نه وضع کول او بېرته یې نه تادیه کول.

– د تهیې او تدارکاتو د مقررې په پام کې نه نیول.

– اضافي او یا له تړون څخه بهر تادیات، د تړونونو ورک کېدل.

– د پروژې او د قراردادیانو د افر نا بشپړه پاتې کېدنه.

– د جریمې نه اخیستل.

– له منظورۍ پرته د تړون بیا نوي کول.

– د بانکي تضمین نشتوالی.

– د ثابتو شتمنیو د ثبت دفتر نشتوالی.

– د شتمنیو د فزیکي څېړنې نشتوالی.

ketabton.com - The Digital Library

- د پروژو د بشپړېدو په چارو کې ځنډ.
- د نغدي – بیلانسونو د دفترونو د ترتیبولو او د ساتنې نه ترتیب.
- د اداري پر نیمګړتیاوو، کمزوریو، ظرفیتونو او داسې نورو باندې د څارنې نشتوالی.
- د پروژې په ورو پرمختګ او له مرسته شوو پیسو څخه کار نه اخیستل.
- د کلنۍ رپوټ نه برابرول او د مدیریتي سیستم نشتوالی.
- په نړیوال بانک کې د CDR اوQFR-FMR حسابۍ ناسموالی.
- د پروژې د ترل کېدو پر مهال د نغدو او پیشکي پیسو بېرته نه اخیستل.
- له یو بل سره په اړوندو ځانګو کې د پروژې د همغږۍ نشتوالی.

د مرستو د پلټنې او ارزونې په تړاو، د نړیوال تفتیش له ستندردونو سره سم، د تفتیش د نظر څرګندول:

- **د موافق نظر څرګندول:** موافق نظر هغه مهال وړاندې کېږي، چې مالي صورتونه، په ټولو مهمو برخو کې، په مناسبه بڼه او له مالي رپوټ سره په مطابقت ترسره او وړاندې شوي وي.

- د ځانګړې موضوع په ټینګار سره د تعدیل شـــوي موافق نظر څرګندول: په دې برخه کې، هغـــه موضوعات، چې مالي صورتونه اغېزمنوي، د بیا بحث لپاره تر نورو موضوعاتو بیلېږي؛ یعنی هغـــه موضوع، چې پایلې یې په راتلونکـــي پورې تړاو ولري او کېدای شي، په راتلونکي کې پر مالي صورتونو اغیزناک وي.

- **د مـــشروط نظـــر څرګندول:** هغه مهال مطرح کېږی، چې د موافق نظر د وړاندې کولو لپاره امکانات نه وي او د مشروطوالي موضوع په کې جوته وي.

- په مسوولیت کې د نظر څرګندول ( د نظر نه څرګندول) دغه نظر هغه مهال وړاندې کېږي، چې مفتش پر دې و نه توانېږي، چې د تفتیش مناسب مدرکونه ترلاسه کړي.

- **د مخالـــف نظـــر څرګندول:** هغـــه مها ل وړاندې کېـــږي، چې ډېرې عمـــده سرغړونې، مالي صورتونـــه په بې ســـاري توګـــه اغیزناک کړي وي؛ یعنې د روڼتیا د نشـــتوالي او یا د مالي صورتونو د نیمګړتیا له امله، مخالف نظر وړاندې کېږي.

## د تفتیش د لاسته راوړنو ممکنه دلیلونه:

هغه دلیلونه، چې له مخې یې د تفتیش لاسته راوړنې وړاندې کېږي.

- د قوانینو او مقررو په پام کې نه نیول.
- د د ندې په ترسره کېدا کې د کارکوونکو د لارښوونې په موخه د کړنلارې نشتوالی.

ketabton.com - The Digital Library

– د ناظرینو د څارنېز کفایت نشتوالی.

– انساني تېروتنې ( هغه تېروتنې، چې کارکوونکي يې د کار په بهير کې مرتکب کېږي).

– د کړنې او يا دندې د ترسره کېدو په موخه د کفايت نشتوالی (کارکوونکي، مهارت، وجوه او داسې نور...) د سمونې سپارښتونه.

– هغه لوري، چې سپارښــتنه ورته کېږي، بايد مشــخص شي، څو په راتلونکي کې يې اصلاح او تطبيق ته پاملرنه وشي.

– د خبرتيا او د اجرااتو د ښه والي په موخه، د مديريت د ځانگې ځوابونه، بايد د مديريت په ليک کې ځای پر ځای شي.

– همدارنگه مفتش کولی شي، چې د ښو کړنو په تړاو، که وجود ولري هم خپل نظر څرگند کړي.

د تفتيش د رپوټ او د مديريت د ليک د بېلگې په اړه لارښود:

د تفتيش رپوټ، د تفتيش د کار وروســتنې پايله ده، چې د تفتيش موندنې، سپارښــتنې او د نظر څرگندونې په بر کې نيسي. د مرستو او کريدټونو د ارزونې او پلټنې د پايلې په تړاو د تفتيش رپوټ لاندې مطلبونه په بر کې نيسي:

۱- د افغانستان د جمهوري رياست مخاطب.

۲- سريزه.

۳- د تفتيش تر څېړنې لاندې مرجع مسووليت.

۴- د تفتيش حدود او پولې.

۵- نظريې.

۶- د نظر څرگندول.

۷- تاکيدات.

## د مديريت ليک

د مديريــت ليک د سپارښــتنو يوه ټولگــه ده. د چې تفتيش لاندې مرجــع د اداري ځانگې د قناعــت لپاره، د مديريت په ليک کې، د مخکنۍ پلټنې د رپوټ سربېره، نور موارد لکه، د کنټرول پــه سيســتم کې نيمگړتيــاوې، د قوانينو او مقررو په پام کې نه نيونه، په کافي اندازه د ســندونو نه ســاتنه، د لگښــتونو په برخه کې نيمگړتياوې، ناسم اجراات، بيا تمويلول او په معاملو کې نورې سرغړونې هم شاملېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د مدیریت لیک لاندې مطلبونه په ځان کې رانغاړي:

- لرلید، سریزه.
- د تفتیش موخې.
- د تفتیش پراختیا او میتود.

## سیستمونه او کنټرولونه

- د حسابدارۍ نظم یا تنظیم.
- د حسابدارۍ سیستمونه.
- د حسابدارۍ تګلارې، کړنلارې او ډولونه.
- معلوماتي سیستمونه او د کورني کنټرول ځانګه.
- د تېرو کلونو پورې اړوندې مسئلې.
- د پروژو پورې اړوندې لاسته راوړنې.

## د تفتیش کړنلارې د تطبیق څرنګوالی

د ملګرو ملتونو د سازمان د انتوسای (INTOSAI) تفتیش د معیارونو له مخې، د مفتشینو کړنلارې او مسوولیتونه په لاندې توګه دي:

مفتشین مکلف دي، څو ترپلټنې لاندې مرجع له وضعیت څخه بشپړ معلومات ولري؛ لکه: کنټرولي نیمګړتیاوې، د تېروتنو او معاملو یا د نامعمولو پایلو، د ضوابطو د ساتنې او خوندي کولو په تړاو بې کفایتي، چې د درغلۍ، د ناقانونو او یا نامناسبو لګښتونو، تر منظورۍ مخکې کړنو، ضایعاتو، په کار نه پوهیدنو او یا د رښتینولۍ د نشتوالي څرګندوی وي.

د اسیایي تفتیش عالي موسسې (ASOSAI)، د درغلۍ او اداري فساد د اصطلاحاتو په باب داسې تعریفونه وړاندې کوي:

۱- درغلي د هغو عمده حقایقو او معلوماتو پټول دي، چې په تېولیزه توګه د ناقانونو او بې ځایو مالي رسیدونو موندونکی وي.

۲- فساد، د کارکوونکو او یا یو شخص د ګټو د خوندي کولو لپاره د ناقانونو حقوقو د وړاندې کولو یا منلو په وسیله له عامه واکونو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې او یا یې د اغیزناک کولو په موخه له هڅې او کوښښونو څخه عبارت دی.

۳- د تیروتنې یا بې نظمۍ اصطلاح، ترپلټنې لاندې مرجع په ضوابطو یا مالي صورتونو کې، د

ketabton.com - The Digital Library

غیرعمدو تېروتنو یا د موخې د ناسمې څرګندونې یا د ځېنو مبلغونو د ښکاره کولو په معنا ده.

۴- د درغلۍ او تېروتنې یا خطا ترمنځ توپیر دا دی، چې درغلي په قصدي توګه سرته رسېږي، په داسې حال کې، چې تېروتنه یا غیرقصدي وي یا په سهوې سره ترسره کېږي.

## د مفتشینو او دولت مسوولیتونه

### د اداري مسوولیتونه

۱- اداره مکلفه ده، چې له همداسې اداري درغلیو او نورو ګډوډیو او تېروتنو څخه مخنیوي وکړي. همدا راز د هغو شتمنیو د ساتنې او خوندي کولو مسوولیت لري، چې د دوی تر کنټرول لاندې وي.

۲- تر هغه مهاله، چې اداره د تېروتنو د مخنیوي مسوولیت پر غاړه لري، باید د همداسې پېښو د رامنځ ته کېدو په کچه کې د کموالي راوستو په تړاو د سیسټم له اغېزمنتیا څخه ډاډ ورکړي. په ځانګړې توګه د لاندینیو موردونو په تړاو:

– د یوحسابی اغیزناک سیسټم رامنځ ته کول.

– د کورني کنټرول د یو سیسټم مناسب عملیات (د منظورۍ د کنټرولونو او هغو کنټرولونو په ګډون، چې د دندو تفکیک په بر کې نیسي.)

- د مسلکي چلند د دستور په اړه د کارکوونکي له خبرتیا څخه ډاډ ترلاسه کول او له قانوني لزومیتونو څخه ځارنه. همدار راز د دغو قانوني مجبوریتونه په رڼاکې د کړنلارو او شرایطو له کړنې څخه ډاډ ترلاسه کول. مفتشین د درغلیو او یا نورو بې نظمیو او ګډوډیو د مخنیوي مسوولیت لري.

۳- له دې سره سره، چې منل شوي کړنلارې باید داسې طرح او ډیزاین شي، چې له یو مفتش څخه په مناسبه توګه هیله وشي، چې ترتفتیش لاندې مرجع په مالي صورتونو کې د عمده ناسمو څرګندونو په تړاو، که هغه عمدي وي یا ناعمدي، څېړنه وکړي، کېدای شي، یادې ناسمې څرګندونې د درغلیو او اداري فساد او همدارنګه د تیروتنو په وسیله راڅرګندې شي. پر دې بنسټ، مفتش باید د درغلۍ او اداري فساد موضوع د تفتیش ترسره کېدل په دوو پړاوونو کې په پام کې ونیسي؛ یعنې د پلان جوړونې په پړاو او اجرایي پړاو کې.

## د ښاروالیو تفتیش

### لومړۍ برخه:

د ښاروالیو بنسټیز مکلفیتونه او دندې: ښاروالي یو ټولیز حکمي – حقوقي شخصیت دی، چې له قانون او نورو تقنیني سندونو سره سم د ورسپارل شویو دندو له لارې د ښارونو د اوسیدونکو

ketabton.com - The Digital Library

د ښوليزو اړتياوو د تامينولو چارې په مخ بيايي.

د کابل ښــاروالۍ د افغانستان د اسلامي دولت د تشــکيل يوه څانګه ده، چې خپلې دندې او واکونه د ښــاروالیو د قانون په رڼا کې سر ته رســوي. د کابل ښاروالۍ يوه خپلواکه اداره ده، خو د نورو ولايتونو ښاروالۍ د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په عمومي رياست پورې تړلي دي.

ښاروالۍ د خپلو فعاليتونو په ساحه کې، ښاري ټوليزې طرحې (ماسټر پلان) لري، چې د ماسټر پلان د ټوليز پلان طرحه، له ښــاروالیو سره په ســلا د ښــاري پرمختيا وزارت له خوا برابرېږي او د وزيرانو شورا تر منظورۍ او تاييد وروسته پلي کېږي.

له ماسټر پلان څخه څارنه او کنټرول د ياد پلان د طرح کوونکي ادارې او ښاروالۍ پر غاړه دی.

د کابل ښاروال د قانون له حکمونو سره سم د ولسمشرۍ مقام له خوا ټاکل کېږي.

د ښاروالۍ تشکيل او بوديجه د ښاروالۍ له خوا ترتيب، اداري شورا يې تاييد او د ماليې وزارت تر ارزونې وروســته، د قانون له حکمونو سره ســم د دولت په بوديجه کې منعکس او د پړاوونو تېرولو په موخه د وزيرانو شورا ته وړاندې کېږي.

د ښــاروالیو بوديجې له دوو عادي او پرمختيايي برخو څخه تشکيل شوی، چې لګښتونه يې د ترلاسه شويو عوايدو په وسيله تمويلېږي.

په هغو حالاتو کې، چې د پرمختيايي پلان تطبيق د ښاروالۍ له مالي وجوهو څخه ناشونی وي، نو د دولت له بوديجې څخه ورسره مرسته کېږي.

د ښاروالیو عوايد په خپله ښاروالیو پورې اړه لري؛ ښاروالۍ د خپلو ترلاسه شويو عوايدو په پام کې نيولو سره خپل عادي لګښتونه له منظور شوي بوديجې سره سم چمتو کوي. د ښاروالیو د ټولو عايداتي سرچينو پيسې، د ځانګړي حساب له لارې بانک ته تحويلېږي.

د ښــاروالیو دندې او واکونه: ښــاروالۍ او ناحيې هره يوه په خپله محدوده کې لاندې دندې او واکونه لري:

۱- د هغو ښــاريانو لپاره، چې په اړونده سيمه کې اوسېږي، د معيشتي اسانتياوو د برابرولو په موخه د لازمو تدبيرونو نيول.

۲- د اړوندو مراجعو په وســيله، د ښاه ګانو، کاريزونو، حوضونو او د څښــاک اوبو د زېرمو د جوړونې، ساتنې او څارنې په موخه د لازمو تدبيرونو نيول.

۳- په ښــارونو او نواحيو کې د شــنو سيمو ســاتنه او رامنځ ته کول او همدا راز د شنو سيمو پراخول، د اړوندو ســيمو د پاکوالي او نظافت چارو ته پاملرنه او د ژوند چاپېريال ساتنې په موخه د اړينو تدبيرونو نيول.

ketabton.com - The Digital Library

۴- په پلاني ممکنه سـیمو کې د خصوصي پانګه اچونې د جلبولو له لارې، د سـړکونو، سـپورټي ډګرونو، ټولیزو تشنابونو، حمامونو، منډه یی ګانو، مارکیټونو او فرهنګي او مدني مرکزونو د جوړولو په موخه د لازمو تدبیرونو نیول.

۵- له مقررې سره سم د اماکنو د بیو ټاکنه.

۶- له مقررۍ سره سم، د ښاروالۍ د ملکیتونو د کرایې تثبیت.

۷- د اړوندو ادارو په مرســته، د حمامونو، رستورانو، هوټلونو، مېلمستونو، سماوارونو، د لامبلو حوضونو، سالونونو او د نورو خوراکي توکو له پاکوالي او نظافت څخه د ساتنې او څارنې په موخه د اړینو تدبیرونو ترلاس لاندې نیول.

۸- د ژوند چاپیریال ساتنې او د ناروغیو له خپرېدو څخه د مخنیوۍ په موخه د اړوند تدبیرونو په پلي کولو سره، له روغتیايي موسسو سره د مرستې په موخه د اړینو تدبیرونو نیول.

۹- له اړوندې مقررې سره ســم د هستوګنې کورونو او سوداګریزو سیمو د جوړولو په موخه د ځمکې نومرې د وېشلو په اړه د لازمو تدبیرونو نیول.

۰۱- د استملاک قانون له حکمونو سره سم د ځمکو استملاکول.

۱۱- د هستوګنې مرکزونو، سیمو او کوڅو د رامنځ ته کولو او جوړولو او د سړکونو د ساتنې او څارنې په چارو کې د ونډې اخیستنې په موخه د اړینو تدبیرونو نیول.

۱۲- د اړوندو ادارو له خوا، د ترانسپورټي وسایطو د سالمې ودې لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

۳۱- د خوراکــي توکــو په برابرولو او وېشــلو او د ژوندانه خدمتونو د ښــه والي په برخه کې د مرستې په موخه د تدبیرونو نیول.

۴۱- د بیو او د اندازه کولو له وســایلو څخه څارنه (کنټرول) او په اړونده ســیمه کې د متریک سیستم تنظیمول او عامول.

۵۱- د سپورټ او بدني روزنې د پرمختیا په برخه کې د لازمو تدبیرونو نیول.

۶۱- د تنظیفي او د ښاري خدمتونو د نورو ګټورو فعالیتونو په ترسره کولو کې د خلکو د مرستو راجلبول.

۷۱- د اړوندو ادارو د مرستو او همکاریو په جلبولو سره د تاریخي او فرهنګي اثارو او ابدو په ساتنه، څارنه او ترمیم کې د مرستې لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

۸۱- د وګړو د سرشمېرنې ( دیموګرافی)په برخه کې د مرستې په موخه د اړینو ګامونو اخیستل.

۹۱- دقانون له حکمونوسره سم دښاري خدمتونو دمحصول ترلاسه کول.

۰۲- په اړوندو ســیمو کې د اړوندو ادارو په وســیله، د نالوستۍ پر وړاندې د مبارزې، د ټولیزو

ketabton.com - The Digital Library

او فرهنګي زده کړو د کچې د لوړولو، د خلکو د مسـلکي زده کړو، د ټولیزو خدمتونو د شـبکو، د ټولیـزو زده کړو د موسسـو او کتابتونونـو د پرمختیا په چارو کې د مرسـتې په موخه، د لازمو تدبیرونو نیول.

۱۲- د قانون له حکمونو سره سم د لایحو تصویبول.

۲۲- د تر اثر لاندې ادارو او څانګو رهبري کول.

۳۲- اړوند ښار ته د خدمتونو د برابرولو په اړه د ناستو او غونډو رابلل او جوړول.

۴۲- د کلنۍ بودیجې، عوایدو او لګښـتونو پلان د تطبیقولو په برخه کې ګامونه اخیسـتل او په لګښتونو کې د سپما په موخه د تدبیرونو نیول.

۵۲- د اداري شورا د پرېکړو پر اجرا څارنه ( کنټرول).

۶۲- په ښاري سیمه کې د ترافیکي ودانیو او تاسیساتو په اړه د نظر څرګندول.

۷۲- د څارویو د حلالولو د ځای ټاکل او د قصابیو د روغتیایي چارو د ښـه سـمبالتیا په موخه پرې څارنه.

۸۲- د نرخپاڼو وېشل.

۹۲- د شرط پاڼو، ژمنپاڼو، تړونونو او د ښاروالۍ د ملکیتونو د اجارې څېړنه.

۰۳- د ښار په دننه کې د ویالو او لښتیو جوړول، ترمیمول او پاکول.

۱۳- د مراجعینو د منلو چارې سـمبالتیا، او د ښـاریانو شکایتونو ته پر وخت او عادلانه رسېدنه او د خپل واک په دننه د کړنو او پرېکړو څارنه.

۲۳- د اړوندو مراجعو په همکارۍ، د سیمې لومړنیو او بېړنیو ټولنیزو او اقتصادي اړتیاوو ته رسېدنه.

۳۳- د مړو د ښخولو د سیمو ( حضیرو) تثبیتول.

۴۳- د سرې میاشـتې په همکارۍ په وړیا توګه د مجهول الهویه وو کسانو د تکفین او تدفین د چارو د سمبالښت په موخه د تدبیرونو نیول.

۵۳- د فني پلاوي د نظر پر بنسټ، د ورانېدو په درشل ودانیو د ړنګولو په اړه تصمیم نیول.

۶۳- د ښاروالۍ په استازیتوب د مرستو، ورکړو او اعانو منل او په دفترونو کې یې ثبتول.

۷۳- د اړوندې حوزې د امنیتی موظفینو په مرسته د خپلسریو ودانیو له جوړولو څخه مخنیوی.

۸۳- ښاري اصنافو ته د صنفي جوازلیکونو ورکول.

۹۳- د بهرنیو موسسو خدماتي کارکوونکو ته د جوازلیکونو ورکول.

۰۴- د اړونـدو ادارو پـه مرسـته د زېږېدنو، مړینو او بې ځایه کېدنې پـه اړه د موثقو رپوټونو

ketabton.com - The Digital Library

راټولول او ثبتول او اړوندو مراجعو ته يې سپارل.

۱۴- د نرخپاڼو کوټلې تطبيق.

۲۴- د قانونوالۍ او د ټولنې د ټولنيزې ارامتيا او نظم د ټينګښت په برخه کې مرسته.

۳۴- د سيمې د اوسيدونکو له قانوني ګټو څخه د دفاع په برخه کې مرسته.

۴۴- د ټولنې په ودانولو او ښاري فرهنګ په ټينګښت کې هراړخيزه مرسته.

## د ښاروالیو ښاري خدمتونه

ټولې دولتي ادارې او موسســې او نور حقيقي او حکمي اشــخاص مکلف دي، چې د قانون له حکمونو سره سم، د ښاري خدمتونو د ترسره کولو په بدل کې ښاروالۍ ته محصول ورکړي.

## تر خپل ملکيت زياته تصرف شوې ځمکه

کــه چېرې مســتحق کس د ښــاروالۍ له خوا يوه نومره ځمکه ترلاســه کــړې وي، خو د خپل ملکيت په سند کې له درج شوي مساحت څخه زياته ځمکه تصرف کړې وي او پر متصرفه ځمکه باندې ودانۍ هم جوړه کړې وي، نو ودانۍ يې په بشپړه توګه تخريب او اضافه ځمکه بېرته ترې اخيستل کېږي.

کــه تر ملکيت د زياتې ځمکې تصرف، ټوليزې ګټې زيانمنې نه کړي، نو په لاندې ډول اجرات ترسره کېږي:

۱- کــه چېــرې د زياتې تصرف شــوې ځمکې بيه، د ودانۍ تر بيې لــږه وي، نو د ځمکې بيه د ورځې له نرخ سره سم، ښاروالۍ ته ورکول کېږي.

۲- که چېرې د اضافه تصرف شــوې ځمکې بيــه، د ورځې د بيې په پام کې نيولو سره د ودانۍ تر بيې زياته وي، نو د ښاروالۍ له خوا د ودانۍ بيه متصرف ته ورکول کېږي او ودانۍ د ښاروالۍ ملکيت ګڼل کېږي.

ښــاروالۍ مکلفې دي، چې د ښــاري پروژو تعميراتي نقشې په نمونوي بڼه (تيپيک او موډل) ډول چمتو او د ټاکلې بيې په بدل کې يې د اشــخاصو په خوښــه په لاندې توګه د هغوی په واک کې ورکړي:

۱- د هســتوګنې ځمکې د نمونوي نقشې بيه، ټول تمام شوي لګښتونه جمع په سلو کې پنځلس سلنه ګڼل کېږي.

۲- د سوداګريزو او صنعتي ودانيو د نقشې بيه، د ودانۍ د ټولې بيې په سلو کې دري سلنه.

ketabton.com - The Digital Library

که څوک د اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو په موخه، د ښـــاروالۍ په ملکیت کې له شـــاملې ځمکې څخه کار واخلي، مکلف دی، چې ښاروالۍ ته د تهجایي محصول ورکړي.

هغه شـــخص چې سوداګریز مالونه، د ښـــاروالۍ مارکیټ، منډه يي او نورو ملکیتونو ته داخل کړي، مکلف دی، اړونده ښاروالۍ ته د تهجایي محصول ورکړي.

هغه ګاډي چې د ښاروالۍ په تمځایونو کې درېږي، خاوندان يې مکلف دي، چې محصول ورکړي.

ښـــاروالۍ کولی شي، چې د تهجایي محصول د خپلو اړوندو کارکوونکو په وســـیله یا له قانون سره سم د تړونونو پر بنسټ راټول کړي.

## د ښارونو په پاکوالي او سمسورتیا پورې اړوندې چارې

د ښارونو د پاکولو او سمسورتیا پورې اړوندې چارې د نورو اړوندو ادارو د همکاریو او مرستو په راجلبولو د ښاروالۍ له خوا ترسره کېږي. سربېره پر دې د ښار د نظافت او سمسورتیا د ارزښت د څرګندولو او بیانولو په موخه، د ډله ییزو رسنیو له خوا اغېزناک مطالب او رپوټونه خپرېږي.

ادارې او ډله ییزې رســـنۍ مکلفې دي، چې د ښـــارونو او سیمو د نظافت، پاکوالي او سمسورتیا په برخه کې د اغېزناکو مطالبو په خپرولو سره له ښاروالۍ سره مرسته وکړي.

د ښـــار د پاکوالي او سمســـورتیا په اړه، ښاروالۍ، ادارې، ښـــاریان او تصدۍ ګډ مسوولیتونه او مکلفیتونه لري.

هغه شـــخص تادیبېږي، چې په سړکونو، عامو لارو، تفریحځایونو، سیندونو، ویالو او لښتیو کې فاســـد مواد او نورې خاورې خزلې اچوي، چې د ســـیمې پاکوالي ته زیان ورسوي، هغه کسان، چې د سړکونو، عامو لارو او کوڅو اوبو لارې د بندېدو لامل ګرځي، نو د تاوان پر ورکونو مکلف دي.

هغه کســـان، چې د شـــاروالۍ له اجازې پرته، د سړکونو، پیاده رویو په کیندلو لاس پورې کوي، تر تادیب سربېره، د خسارې پر جبرانولو هم مکلف دي.

## د صفايۍ محصول

د صفايۍ محصول، د نغدو پیســـو له هغې ټاکل شوې اندازې څخه عبارت دی، چې هر کال د ښـــاري خدمتونو د ترسره کولو په وړاندې د لاندې شرایطو له مخې له حقیقي او حکمي اشـــخاصو څخه ترلاسه کېږي:

۱- په هغه صورت کې، چې دولت يې د ورکولو توان ونه لري.

۲- د صفايۍ محصول د کفایت او اړتیا د پوره کېدو په اندازه وي.

ketabton.com - The Digital Library

۳- په هغه صورت، چې يې خلک په ورکولو قادر او د هغوی د ځورېدو لامل نه شي.

۴- د صفايي راټول شوي محصول په نورو موردونو کې نه لګول کېږي.

ښاروالۍ د صفايۍ له پيسو څخه د لاندو خدمتونو په ترسره کولو مکلفيت لري :

۱- د ښاري سړکونو کرېږول، قيرول، رغول او روښانول.

۲- د سړکونو د دواړو غاړو او د ښار د نورو سيمو د ويالو او پليو لارو جوړول، تشول او پاکول.

۳- په تمځايونو کې د چتريو (سايه بانونو) جوړول.

۴- د عمومي پارکونو او نورو شنو سيمو ښکلی کول او د ترافيکي څراغونو ساتنه او څارنه.

۵- د عمومي کتارو جوړول؛ ساتنه او څارنه يې.

۶- د ښاري او اطرافي ګاډو لپاره د تمځای (پارکينګ) جوړول.

۷- د مجهول الهويه وو دهغه جسدونو ښخول چې هويت يې نه وي معلوم نا پيژندل شوي.

۸- له ښاره بهر ته د اوبلنو او جامدو کثافاتو لېږودل.

۹- د ګرځندو پلورونکو له شتون څخه د پليو لارو، پارکونو او تمځايونو تخليه کول.

۱۰- د مړو د پرېمنځلو لپاره د پرېمنځلو ځايونو جوړول.

۱۱- د ښار د حمامونو او غسل خانو لپاره د ځايونو ټاکل.

۱۲- د مقبرو (هديرو) لپاره د ځايونو ټاکل او د فاتحې لپاره د سالونونو جوړول.

۱۳- د هغو سيندونو او ويالو لپاره استنادي ديوالونه جوړول، چې د ښار په ساحه کې بهېږي.

۱۴- د ښار د داخلي پلونو او پلچکونو جوړول او رغول.

د حقيقي او حکمي اشــخاصو له نامنقولو جايدادونو څخــه د صفايۍ محصول د بيې د ټاکل شــوي جدول له مخې اخيســتل کېږي؛ يعنې کله چې مفتشينو ته په ښاروالیو او ناحيو کې د مالي، حســابي چارو او د عوايدو د څرنګوالي د څېړنې په موخه دنده ســپارل کېږي، نو دوی دې بايد تر ټولو وروستنې مرعی الاجرا لايحه راوغواړي او د فيصدي له مخې يې، د هستوګنو سيمو، د دولتي ادارو، د توليدي او صنعتي او د سوداګريزو ودانيو له درکه ترلاسه شوي عوايد وڅېړي او وارزوي.

## د تمځايونو (اډو) محصول

ښاروالۍ د ښه ښاري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه، په خپل ملکيت کې شامله يوه مناسبه سيمه د مسافر وړونکو ګاډو د درېدو لپاره ټاکي.

د تمځايونو په اړه هم ښــاروالۍ او هم چلوونکي او يا د ګاډو مالکين يو لړ مکلفيتونه لري. د

ketabton.com - The Digital Library

ښــاروالۍ مکلفیتونه عبارت دي له: د ادارو له موافقې سره ســم د ځمځایونو تثبیتول، احاطه کول، پاکول، اوارول او کرېړ اچول، د ګاډو لارښود او د محصول د راټولو پورې د اړوندو چارو سمبالول.

د دې ترڅنګ د ګاډو مالکین هم مکلف دي، چې له اړوندو مقررو سره سم، محصول ورکړي. د ځمځای د داخلي نظم، دســپلین او نورو لارښوونو په پام کې نیول، د دوی له بنسټیزو دندو څخه ګڼل کېږي.

د مســافر وړونکو ګاډو چلوونکي مکلف دي، چې د ســپرلۍ تر (۲۱) کیلوګرامه په اندازه بار په وړیا توګه ولېږدوي.

دولتي مسافر وړونکي ګاډي د محصول له ورکولو څخه معاف دي.

## د ښاروالۍ د ملکیتونو د کرایې تثبیت

د ښــاروالۍ ملکیتونه اپارتمان، دوکان، سرای، مســافرخونه، رســتورانټ، هوټل، مېلمستون، د مالونو ګدام، ژرنده، غرفه او هر راز هغه غیرمنقول ملکیت او تاسیسات، چې د معتبرونو سندونو له مخې، د ښاروالۍ په واک کې وي، په بر کې نیسي.

په ټولیزه توګه د تړون او کرایې په عقد کې دوه ډوله شخص؛ موجر او مستاجر شتون لري.

## موء جرڅوک دی؟

کرایه ورکوونکی (موجر) هغه حقیقي یا حکمي شخص دی، چې خپل ملکیت په کرایه ورکوي.

## مستاجرڅوک دی؟

کرایه اخیســتونکی ( مســتاجر)، هغه حقیقي او حکمي شخص دی، چې د بل شخص ملکیت په کرایه اخلي.

تړونونه د یوه کال لپاره د اعتبار وړ دي؛ په استثنایي حالتونو کې د تړون تمدیدول، د اړوندې ادارې په پرېکړه ترسره کېږي. د تړون تر پایته رســېدو وروســته، ملکیت د بیا لپاره په کرایه ورکول کېږي؛ باید یادونه وکړو، چې مخکني کرایه کښیناستونکي د لومړیتوب حق لري.

د تړون دواړه لوري مکلف دي، چې د تړون د فسخه کولو حالتونه د تړون په متن کې روښانه کړي؛ له دې پرته دواړه لوري د تړون د فسخ کولو حق نه لري. مګر د تړون د مودې د پایته رسېدو له امله. نور استثنايي حالتونه، له دغه امر څخه مستثنا دی.

که چېرې دواړه لوري غوښتي وي، چې په تړون کې د درج شویو شرایطو په پام کې نیولو سره تړون فسخه کړي، دوی مکلف دي، چې له ټاکلي مودې څخه یوه میاشت مخکې، د تړون د فسخه

ketabton.com - The Digital Library

کولو موضوع مقابل لوري ته ورسوي.

د یوه متر مربع ساحې، د تهجایي د کرایې د ټاکلو لپاره، چې عملا پکې سوداګریز فعالیت روان وي، لاندې فورمول پلي کېږي.

## د کابل ښار د ماستر پلان طرحه او تطبیق

د کابل ښار ماستر پلان د هېواد د پرمختیایي او اقتصادي پلان پر بنسټ، د کابل ښار د راتلونکې پراختیا په موخه، د ښار د وګړو د شاخصونو د ودې، د ښاري ترانسپورټ د سیستم د پلاني جوړښت، د انجنیري شبکو؛ د صنعتي، هستوګني او خدماتي ساحو په پام کې نیولو سره په یوه ټاکلې موده کې پلي کېږي.

ماستر پلان د ودانولو د شرایطو رعایتول، د ماستر پلان د پلي کوونکو اشخاصو، ادارو او موسسو وجیبې تفکیک او ټاکي.

د کابل ښار د ماستر پلان توضیح او پلي کول، د بنسټیزو ودانیو د طرح او تطبیق ریاست پورې اړه لري. د ماستر پلان د پلي کېدو په موخه، د ښار بېلابېلو برخو ته په کتنې سره تفصیلي پلانونه طرحه کېږي.

په اړینو حالاتو کې د کابل ښار د ماستر پلان تعدیل، د ماستر پلان د پلي کوونکي ادارې (ښاروالۍ) په وړاندیز، د وزیرانو شورا په تایید او د ریاست جمهوري په منظورۍ سره ترسره کېږي.

په ښار کې د موسسو او اشخاصو له خوا د پروژو طرح او د ودانیو جوړول، د کابل ښار له ماستر پلان سره سم ترسره کېږي.

د کابل ښار د ماستر پلان د پلی کوونکي ادارې، ترافیکو ریاست، د مخابراتو ادارې، برېښنا، اوبه رسولو، او اطفاییې له اجازې پرته د سړکونو، پلیو لارو او عامه ډګرونو کیندل، جواز نه لري.

د ښار په عامه شنو سیمو کې د هستوګنو، سوداګریزو، فرهنګي او ټولګټو ودانیو جوړول او همدارنګه د ښاري ساحې د ونو پرېکول او لېږدول جواز نه لري.

## د هستوګنو، سوداګریزو او لوړپوړو ودانیو د جوړولو لپاره د ځمکې نومرو وېش او خرڅلاو

هغه شخص د هستوګنې ځمکو د وېش په لست کې شاملېدلای شي، چې د لاندې شرایطو درلودونکي وي:

۱- پــه خپل ، دمېرمنې او یا د کوچني اولاد په نامه د کور یا د هستوګني اپارټمان او د ځمکې نومرې و نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

۲- د اړوندې مرجع له لارې د جایداد نلرو فورمې ډکول او بشپړول.

دولتي کارکوونکي کولی شي، د یوې نومرې ځمکې د ترلاسه کولو په موخه خپل لیکلی غوښتنلیک، اړوندې ادارې ته وسپاري، چې د استحقاق له مخې به ورته د هستوګنې ځمکه تثبیتیږي.

**د ځمکې نومرې د خرڅلاو او وېشلو عقد په لاندې حالتونو کې فسخه کېږي**

که د کمېسیون د پریکړې تر نېټې شپږ میاشتې وروسته یې د هستوګنې ځمکې د نومرې بیه یې نه وي تحویل کړې. یا د ځمکې د بیې تر ورکولو دري کاله وروسته یې، د هستوګنې نومرې (۴۰٪) سلنه ودانیزې چارې نه وي ترسره کړي.

همدارنګه په هغه صورت کې، چې د سوداګریزو او د لوړ پوړي ودانۍ د ځمکې د بیې (۲۰) سلنه د تضمین پیسې یې د کمېسیون د پرېکړې تر نېټې وروسته د یوې میاشتې په موده کې د ښاروالۍ د امانت په حساب کې نه وي تحویل کړي.

**دویمه برخه:**

## په ښاروالیو کې د پلټنې او تفتیش څرنګوالی

ښاروالۍ یو خپلواک بودیجوي واحد او ټولنیز جوړښت دی، چې هم عادي او هم پرمختیایي بودیجه لري. هغه عواید، چې له بېلابېلو مدرکونو څخه ترلاسه کېږي، د ښاروالیو بودیجه جوړوي. پر دې بنسټ، د ښاروالیو عواید له لاندې مدرکونو څخه ترلاسه کېږي:

۱- د مالیاتي منابعو عواید.

۲- د نامالیاتي منابعو عواید.

۳- دلاس مزدوری.

۴- مطالبات.

۵- متفرقه عواید.

۶- ټاکل شوي عواید.

۷- پورونه.

۸- بلاعوضې مرستې.

### مالیاتي عواید

مالیاتي عواید د ټکسونو بېلابېل ډولونه لکه د صفایۍ، د جریمو، جوازلیکونو محصول او د مهندسۍ له فیسونوڅخه عبارت دي په بر کې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

### نامالیاتي عواید

د ژوبڼ د ټکټونو د خرڅلاو، د فاتحه خوانیو او د جنازو د انتقال له عوایدو څخه عبارت دي.

### د ستمزد عواید

د بدرفتو څاه ګانو او شخصي املاکو د پاکولو اجرت او داسې نور ټولنیز خدمتونه.

### مطالبات

مطالبات د ښاروالیو د طلب، د اشخاصو، شرکتونو او دولتي ادارو له ذمت څخه عبارت دی.

متفرقه عواید:

د قبالې او لوایحو د اجرا پر مهال د ودانیو او شخصي جایدادونو له خرڅلاو څخه یو سلنه محصول په ځان کې را نغاړي.

### ټاکل شوي عواید

د هستوګنې ځمکو د نومرو له خرڅلاو او د ښارګوټو، مارکیټونو له جوړولو او د منډه یي ګانو له عوایدو څخه عبارت دی.

### پورونه

له دافغانستان بانک، مالیې وزارت او نورو وزارتونو او دولتي ادارو څخه د پور اخیستل.

### بلاعوضې مرستې

د کورنیــو او بهرنیو منابعو، موسســو او انجوګانو له خوا د نغدي او جنسي مرســتو له ورکړې څخه عبارت دی.

د ښــاروالیو پــه اړوندو څانګو کــې، لاندې ادارې او دفترونه، د دغې ادارې په وســیله تفتیش کېږي:

۱- مصارفاتي چارې، چې عادي بودیجه د اداري ریاســت او پرمختیایي بودیجه د پلان ریاســت له خوا په مصرف رسېږي.

۲- د عوایدو چارې، چې د عوایدو چارو ریاست له لارې ترلاسه کېږي.

۳- خدماتي تړونونه، د اداري ریاست له لارې.

ketabton.com - The Digital Library

۴- د ودانیزو او ترمیماتي چارو ترونونه، د پلان ریاست له لارې.

۵- د هستوګنو ځمکو او د لوړپوړو ودانیو د نومرو وېش پلټنه، د ملکیتونو ریاست له لارې.

۶- د هغو ترونونو او پروتوکولونو پلټنه، چې د ښـــارګوټو، د هستوګنو اپارټمانونو د جوړولو په موخه، له کورنیو او بهرنیو موسسو سره عقد کېږي.

۷- د پلاني عمده ځانګړنو د تطبیق پلټنه.

۸- د خدماتي او ښاري ځانګو څېړنه.

۹- په استملاک ریاست کې، د استملاک شویو ځمکو د بیې تفتیش.

۱۰- د ښاري پلانونو د طرح او تطبیق ریاست د کاري چارو پلټنه.

۱۱- د ښار د سمسورتیا په اړه تفتیش.

۱۲- د نغدي او جنسي مرستو څېړنه او تفتیش.

۱۳- د ودانیزو او ترانسپورتي ګاډو تفتیش.

۱۴- د ښاروالیو له خوا د ښارونو د پاکوالي له چارو څخه څېړنه او تفتیش.

۱۵- د طلباتو او پورونو تفتیش.

۱۶- د ښار د سړکونو د ساتنې او مراقبت له چارو څخه پلټنه.

۱۷- تر جوړېدو لاندې ودانیو د ودانولو له چارو څخه تفتیش.

۱۸- د اداري ریاست د (م-۲۰) د دفتر له مخې د لګښتونو د چارو تفتیش.

۱۹- د متفرقه وو ځانګو تفتیش.

هغـــه مهـــال، چې محترمو مفتشـــینوته د مرکز او ولایتونو د ښـــاروالیو د پلټنـــې په تړاو دنده ورســـپارل کېږي، دوی مکلف دي، چې له لومړي شـــخص سره تر پېژندګلـــوۍ، د صلاحیت پاڼې تر وړانـــدې کولو او د کار د خونې تر تثبیتېدو وروســـته، خپل کاري پلان ترتیب کړي. په دې توګه، د لاندې دفترو او موضوعاتو د څېړلو په تړاو، کاري پلان ترتیبېږي:

- د نغدي اقلامو د ټاکلو په موخه د (م-۲۰) د دفتر، همدارنګه د معاشـــونو او پېرېدنو د بابت تفتیش.

- د تحویلخونو، د نغدي او جنسي معتمدینو او د منظور شوي عادي او پرمختیایی بودیجې په تړاو د جلاجلا استعلامونو لیکل.

- د ترونونو غوښتنه.

- د عوایدو له ریاست څخه، د منډه یي ګانو، مارکیټونو او نورو جایدادونو د ترونونو غوښتنه.

ketabton.com - The Digital Library

- له پلان ریاست څخه د ساختماني او ترمیماتي چارو د ترونونو غوښتنه.

- د لوړپوړو ودانیو، سوداګریزو او هستوګنو سیمو د نومرو د وېشلو او پر اړو کسانو باندې یې د وېشلو او نورو مدرکونو په اړه د معلوماتو غوښتنه.

- د اړوندو ناحیو له لارې ترلاسه شوي عواید او د کال په بهیر کې د ښاروالۍ توحید شوي عواید د تفتیش وړ دي؛ همدا راز، د اټکل شــویو او ترلاســه شــویو عوایدو تثبیت او تشخیص او دبانکي آویزونو او نورو مدرکونو او سندونو غوښتنه. باید ووایو، چې د کاري پلان په ترتیبولو سره، ستاسې کار اسانه کېږي.

د پــلان له ترتیبولو سره جوخت، د نغــدي او جنسي موجودۍ پړاو پیلېږي. که د کاری پلان تر ترتیبېدو مخکې، نغدي موجودۍ پیل شي،ښوالی لري.

**د سندونو په تفتیش کې باید لاندې مراتب په پام کې ونیول شي:**

**الف – په اداري ریاســت کې:** د جنسي، نغدي او د بیه لرونکو سندونو د قید کېدو موجودۍ – د اړونــدو دفترونــو د موجودۍ د پایلو له تطبیق څخه ډاډمنتیــا او د فاضلو او باقي تثبیتول. د نغدي حوالو، مصرفي لګښتي سندونو، د وېش ټکټونو، د ځمکې او ملکیت د ثبت د کارتونو، د رسېد رپوټ د قید کېدو له موجودۍ څخه، ژوره څېړنه.

**د ترونونو د چارو تفتیش:** د بېلګې په ډول، د ناچاپو قرطاســیو او هغې قرطاســې د ترونونو تفتیــش، چې انجنیري جنســونه په بر کې نیسي. د هغو کورونــو او اپارټمانونو د ترونونو تفتیش، چې ښــاروالۍ، د خپلو اړوندو څانګو د ګټې اخیســتنې په موخه، تــرې کار اخلي او په پای کې د هغو ترونونو تفتیش، چې د ښــاروالۍ اداري ریاســت پورې اړه لــري. د دې ترڅنګ، لاندې نور پروګرامونه هم د دوی د کار جز ګڼل کېږي:

- د پیرلو او ترونونو په برخه کې، موظف پلاوی، د اړتیاوو د تثبیتولو چارې وارزوي.

- د ځمکــې د ثبــت کارتونه وارزوي او د نفتي او غوړ لرونکو موادو د څېړنې کچې باید عملي او پلي کړي.

- د پلټنې پر مهال باید د موضوع معقول والي، اغېزمنتوب او اقتصادي توب په پام کې ونیول شي.

- د کال د پای موجودیو څېړنه او پلي کول او د تحویلدارانو او معتمدینو د فاضلو او باقیداریو تثبیتول.

**ب- د عوایدو په ریاست کې پلټنه:**

۱- د هغــو ترونونــو تفتیش، چې د عوایدو له خوا عقد شــوي او پلي کوونکي یې هم همدغه ریاست دی.

ketabton.com - The Digital Library

- د ځلــورو لوریو د ټمځایونو، د میوو او ترکاریو د مارکیټ، د ارتزاقي توکو لکه د وریجو، اوړه او غوړ او د کیمیاوي سرې، د ســون لرګیو، چهارتراشــو لرګیو، ســپینو پرو ړو او د تیلو د منډیو د اجارې تړونونه.

- د ښارونو د نخاس، کله داغي او کله میخي تړونونه.

۲- تر تفتیش لاندې کال د عوایدو د تحویلۍ د اویزونو او سندونو د ثبتېدو د څرنګوالي ارزونه، چې په قیدي توګه باید روښانه شي.

**سربېره پر دې باید لاندې موضوعات هم وڅېړل شي:**

د څېړل شــویو کلونو په بهیر کې، د کابل ښــاروالۍ د عوایدو مجموع؛ له دغو عوایدو څخه څومره یې لګول شــوی او څومره یې د دولت د عوایدو په حســاب لېږدول شوي؛ د دولت حساب ته د عوایدو د نه لېږدېدو په صورت کې، دغه موضوع باید وارزول شي.

## د صفایۍ پیسې د تحویلۍ په موخه تدبیرونه

**ج- د ملکیتونــو د معینیــت پــه برخه کې:** په ټولیزه توګه د ښــاروالیو ملکیتونــه اپارټمانونه، دوکانونــه، سرایونه، مســافرخونې، ګودام، ژرنــده، غرفې او هر ډول هغــه غیرمنقول ملکیتونه او تاسیسات په بر کې نیسي، چې د قانوني معتبرو سندونو له مخې، د ښاروالۍ په واک کې وي.

د سوداګریزو او هستوګنو نومرو د ځمکې وېش (له ماسټر پلان او تفصیلي پروژو سره سم) او د لوړ پوړو ودانیو د نومرو (ســوداګریزه ساحه) د قیدۍ څېړنه. د هغو تړونونو په اړه باید څېړنه وشي، چې د هســتوګنو اپارټمانونو د جوړولو په برخه کې، له بهرنیو او کورنیو موسســو سره عقد شوي او کار یې باید وارزول شي، چې څومره ترسره شوی دی.

**د- د ساختمانۍ معینیت په برخه کې:** (د اساسي ودانیو د طرح او تطبیق ریاست).

۱- د ماســټر پــلان پلي کول او د موجهــو دلیلونو په وړاندې کولو سره په ماســټر پلان کې د تغییراتو او بدلونو وړاندیز.

۲- د ســاختماني ترمیماتي او داســې نورو پر پلاني شاخصونو باندې خبرتیا؛ د پلان د ترسره کېدو کچه او له اړوندو ستونزو سره د زیاتوالي او کموالي څرنګوالي.

۳- له خپلسرو ودانیو څخه د مخنیوي په برخه کې خبرتیا.

۴- په ماسټر پلان کې د هغو شاملو ساحو د تخریبولو په برخه کې له اخیستل شویو تدبیرونو څخه خبرتیا، چې د پارکونو، ښوونځیو، روغتونونو او وړکتونونو لپاره په پام کې نیول شوي، خو په

ketabton.com - The Digital Library

هستوګنو ځمرو تبدیل او د خلکو له خوا ودان شوي دي.

۵- د هغو لوړ پوړو ودانیو (سوداګریزې ساحې) له پر وخت جوړېدو څخه تفتیش او د هغو ځمرو بېرته مستردول، چې په ټاکلي وخت کې نه دي جوړ شوي.

۶- پر دې خبرتیا، چې د کابل ښار د اوسېدونکو د بې کورۍ ستونزې د اوارۍ په اړه په راتلونکي کې د هستوګنې کومې پروژې په پام کې نیول شوي او د مهندسۍ نقشې د طرحې په برخه کې یې څومره پرمختګ شوی.

۷- په ښاري پروژو کې له سپینو نومرو څخه تفتیش.

**و- د پلان ریاست په برخه کې:**

۱- د پرمختیایي بودیجې څېړنه.

۲- د هغو ځمکو د بیې ورکول، چې د هستوګنې او لوړ پوړو ودانیو د پروژو تر استملاک لاندې راځي.

۳- د هغو تړونونو څېړل، چې په دې موخه عقد شوي دي.

۴- د پلاني عمده شاخصونو پلي کول.

**سربېره پر دې، لاندې فقرې دې هم وڅېړل شي او رپوټ دې وړاندې شي:**

هغه جنسونه، چې د قراردادیانو له خوا سپارل شوي، له بېلګو سره یې تطبیق شي.

د ښاروالۍ د اشخاصو، موسسو او دولتي ادارو د ذمت د طلباتو له تصفیې او تحصیل څخه خبرتیا. د جنسي معتمدینو د ذمت اجناسو د کال د وروستیو موجودیو د ترسره کېدو څېړنه او د فاضلو، باقي د پایلو د تثبیت څرنګوالي، تصفیه یې او نور موضوعات، چې د څېړنو په بهیر کې د کنټرول اړتیا رامنځ ته کوي، د ادارې د محترم مقام تر اجازې وروسته به وڅېړل شي.

د ادارې وضعې او تر تفتیش لاندې ادارو د کړنو په بهیر کې د ښه والي او نظم د رامنځ ته کېدو په موخه، باید په وروستني رپوټ کې اصلاحي نظریات وړاندې شي.

د دوستو هېوادونو له خوا د شویو مرستو له څرنګوالي څخه څېړنه باید د لارښوونو او متحدالمالونو له مخې ترسره شي.

- د لګښتونو په برخه کې، د هغو پېرېدنو په اړه، چې په جدولونو کې حواله کېږي، باید د جنس د پېرېدنې موضوع او اړتیایي روښانه شي. په پرچون جنسونو کې باید د نرخ اخیستنې پاڼه او مقایسوي پاڼه، د جدولونو ضمیمه وي. د جنس د تسلیمۍ له صورت، د رسید راپور له ترتیب او د معتمد له لاسلیک څخه باید ډاډ ترلاسه شي او د وېش په برخه کې یې، چې کومې مرجع ته

ketabton.com - The Digital Library

سپارل شوی، د (ف ،س ۵) فورم له مخې باید معلومات وشي او همدارنګه د رسید راپور په بېل او فورم کې د کتنې پلاوي نظر یو اړین امر ګڼل کېږي.

- پــه تړونونــو کې د ټیټ نرخ د تثبیت په موخه، د اویز وړاندې کول او د پرتلنې صورت یې، د ضمیموي پاڼو او د نورو سوابقو او د تړون او شرطپاڼو د داوطلب مجلس د پلاوي د نظر مطالعه، د مفتشینو د کار جز ګڼل کېږي او د تهیه او تدارکاتو له قانون سره سم باید د سموالی او ناسموالي په اړه یې معلومات ترلاسه شي.

د تړونونو تادیاتي حوالې باید پر عایداتو د مالیاتو قانون د (۷۳) او (۶۵) مادې پر بنســټ، په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

- پــه عوایدي تړونونــو کې هم د لوړ افرونو څېړنه مطرحه ده؛ د تړونونو او شرطپاڼو ســوابق او ســندونه باید مطالعه شي، په داوطلبۍ‌کې هغه تر ټولو ټیټ نرخ، چې تثبیت شــوی، تر څېړنې لاندې ونیول شي، چې همداسې موارد د منډیي ګانو، دولتي مارکیټونو او نخاسو کې زیات د بحث وړ وي. همدا راز، د عوایدو په تحویلولو کې د ځنډ موضوع او د سندونو په ضمیمه کې د بانکي آویزونــو شــتوالی د پــام وړ دی، چې په دې برخه کې باید له لازم دقت څخه کار واخیســتل شي. سربېــره پر دې، د مالیــه وو او صکوکو تحصیل هم د قراردادیانــو د وجیبو جز ګڼل کېږي، چې د تفتیش پر مهال باید ورته جدي پاملرنه وشي.

- د ساختماني او ترمیماتي چارو په تړونونو کې، د افرونو په وسیله د تر ټولې ټیټې بیې تثبیت، د بیه لرونکو بېلونو پر بنســټ، د قراردادي حقوقو د ورکړې فیصدۍ د پیش پرداخت موضوع، د تړون د شرایطو له مخې د کار د پرمختګ د فیصدۍ په تړاو د سرکار پلاوي د نظر وړاندې کول، د پروژې د کار په بشپړولو کې د ځنډ موضوع، د اضافه کاریو تثبیت او د تړون لپاره مواد، د تهیې او تدارکاتو قانون له مخې، د مالیې او صکوکو وضع کول او تحصیل هم باید تر څېړنې ونیول شي.

پــه همدې توګه، په ســاختماني پروژو کې د لښــتیو د جوړولو په برخه کــې د اوبو د لارو او کانالیزاسیونونو، اوبه رسولو او د برېښنا سیستم تر غور او مطالعې لاندې ونیول شي. د بېلګې په توګه ښــاروالۍ غواړي، چې د پول ابچکان د سړک د غاړې لښتی جوړه کړي؛ دغه موضوع باید په لومړیو پړاوونو کې د پلان جوړونې پر مهال، په ژوره توګه وڅېړل شي، چې بالاخره د لښتیو اوبه د کومې ســیمې پر خوا بهېږي، په هغه صورت کې چې د اوبه مسیر له عمومي سړک سره وصل شي او د سړک لښتی یې د بشپړو تېرولو امکانات و نه لري، نو طبعي ده، چې اوبه د خلکو کورونه او یا سړک لاندې کوي او خلکو او عامه تاسیساتو ته د پام وړ زیان اړوي. باید ووایو، دا ډول لګښت ته، بې ځایه لګښــت وایي. فني او اداري مفتیش د پلان په پاڼو کې له همداســې موردونو سره په مخامخېدو، باید لومړني او نهایي براوردونه تشخیص کړي.

ketabton.com - The Digital Library

- د ساختماني چارو د تړونونو پروژې، چې د سړکونو د جوړولو او ترميمولو، د لښتيو د جوړولو او ترميمولــو، د ډبرو د اېښــودلو او داســې نورې چارې پــه بر کې نيسي، بايد لومــړني او ثانوي براوردونه ولري؛ بايد يادونه وکړو، چې د ســندونو او براورد د نشــتوالي په صورت کې، ســندونه نيمګړي بلل کېږي، چې بايد ورته پاملرنه وشي. د ســاختماني تړونونو لپاره په پرمختيايي بوديجه کې د تخصيص شتون يو حتمي امر دی او همدارنګه په ښار کې بايد د پروژو د لومړيتوب موضوع هم تر څېړنې لاندې ونيول شي، چې ښاروالۍ په پيل کې کومو پروژو ته لومړيتوب ورکوي.

- د عوايدو د تړونونو په برخه کې، چې د ښــاروالۍ د عوايدو رياست له خوا يې پراوونه وهل کېږي او د منډيي ګانو، دولتي مارکيټونو، نخاســو، تمځايونو او داســې نورو دولتي جايدادونو حق الاجارې په بر کې نيسي، د تړون او شرطپاڼې د شرايطو پر بنســټ، له پولي تعرفې سره بانکي آويز تطبيــق او همدارنګــه د ځنډ موضوع تر پلټنې لاندې ونيول شي او د تــړون په اړه بايد ځرګندتيا موجوده وي. که چېرې مستاجر خپلې مياشتنۍ کرايه د مياشتې تر پايه تحويل نه کړي، نو د (۱۰) ســلنې جريمې تابع وي، چې د قرارداد شويو عوايدو له سرجمع څخه د محاسبې وړ ودی؛ سربېره پر دې، د عوايدو تحويلي صورت بايد د تړون له مبلغ سره تطبيق شي. په دې توګه محترم مفتشين کولي شي، د کنټرول او تفتيش ادارې د اجازې تر ترلاســه کولو وروســته، له مارکيټونو، سرايونو او منډه يي ګانو څخه عيني کنټرول ترسره کړي، څو مستاجرين له خلکو څخه زياتې پيسې وانخلي.

په داسې حال کې، چې د دولتي جايدادونو د اجارې موده د اجارې په لايحه کې تثبيت شوې، خو داســې پېښې رامنځ ته شوي، چې د ځينو ولايتونو ښــاروالۍ خپل يو شمېر ملکيتونه له (۱۰) تــر (۱۵) کلونــو پورې په اجاره ورکړې، چې دغه چارې د افغانســتان د قوانينو له روحيې سره سر نه خوري او ناقانونه ګڼل کېږي. دغه موضوع هم بايد په ژوره توګه وڅېړل شي. محترم مفتشــين د ځمکې د توزيع مديريت د دفتر له مخې د لړليک تر بيرون نويس کولو وروســته لاندې موضوع ته پاملرنه وکړي:

نوم،۲- د پلار نوم ۳- ولديت ، ۴- د تذکرې ګڼه، پاڼه، ټوک، له شــهرت سره ســم د هســتوګنې ســيمه او داسې نور مسايل، چې په ښکاره توګه راځرګندېږي؛ همدارنګه د ښاروالۍ کارکوونکي د سندونو د جعل او تزوير په تړاو پوره پوهه لري؛ د بېلګې په توګه، د يو کس پر نامه باندې کرښه ايســتل او د بل کس نوم ثبتول او درجول، چې دغه موضوع د زياتې څېړنې او ارزونې اړتيا رامنځ ته کوي. بله موضوع، د لوړپوړو ودانيو د نومرو وېش دی؛ د ښــاروالۍ او اړوندو ناحيو انجنيران او کارکوونکــي د نومــرو په وېش کــې زيات رول لري؛ هغه دا چې، کله چــې د لوړ پوړي ودانۍ نومره د مامورينو د ورور، زوی يا د دوی په خپل نامه باندې ووېشل شي، نو ورسره جوخت دويم لاس حاضر دی، ياده نومره په ډالري بيه نه په افغاني، وپيري. که څه هم د دغه موضوع په تړاو د کســانو موندل ګران برېښي، خو مفتشين د خپلو ځانګړو مهارتونو په مرسته کولی شي، د موضوع

ketabton.com - The Digital Library

واقعیت ته لاسرسی پیدا کړي.

- لــه لوړپــوړو ودانیو څخه د څېړنې موضوع او له نوې لایحې سره ســم د فې متر مربع د بیې تثبیتول او د ښــاروالۍ په حســاب کې یې د تحویلۍ صورت، د کاري پروسې بله موضوع ده، چې په دې اړه باید بشــپړه هڅه وشي؛ محترم مفتشین دې د موضوعاتو د پلټنې او څېړنې پر مها ل، د هســتوګنو، ســوداګریزو او لوړ پوړو ودانیو په ګډون د دولتي ځمکو د بیې لایحه راوغواړي او تر څېړنې لاندې یې ونیسي. د لوړپوړو ودانیو د نومرو د تحویلۍ د آویزونو تطبیق باید د مساحې د اصل له مخې وڅېړل شي. د مساحې د اختلاف او پولي توپیر په صورت کې دې د کنټرول او تفتیش اداري د اجازې تر لاســه کولو وروســته، د اداري د فني پلاوی او د ښــاروالۍ د استازي په ګډون د مســاحت کچه واخلي او له ښاري ماســټر پلان سره یې هم تطبیق کړي، چې له تفصیلي پلان سره پــه ټکــر کې نه وي. سربېره پر دې، زیاتره لوړپوړي ودانــۍ، چې د دریو منزلونو د جوړولو اجازه لري، خو د دې پرخلاف، په پنځو یا شــپږو منزلونو کې جوړې شــوي دي، چې دغه لړۍ که له یوې خوا د ښــار یا پروژې څېرې (نما) ته زیان رســوي، له بلې خوا احتمالي خطرونه هم په بر کې لري، لکه څرنګه چې ښېلګې یې په هغو جوړو شــویو هوټلونو کې لېدلی شــو، چې په تایمني سیمه کې ودان شوي دي.

- د هغو ساختماني ښارګوټو او پروژو د جوړولو په تړاو، چې د جوړونې چارې یې له اشخاصو، شرکتونو او بهرنیو موسسو سره عقد او پروتوکول کېږي، باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱- ځمکه د دولت ملکیت دی او که شخصي ده؟

۲- په تړون کې د متعاقدینو وجیبې او مکلفیتونه وڅېړل شي.

۳- د تړون د پیل او پای نېټه وڅېړل شي.

۴- د کانالیزاسیون او د سپتیکو څاه ګانو موضوع ته پاملرنه وشي.

۵- د پروژې د نقشو او اسکیج ترتیب او د بلاکونو، اپارټمانونو او منزلونو شمېر وڅېړل شي.

۶- د پروژې تر بشپړېدو وروسته، د خرڅلاو له درکه د ښاروالۍ ټکس او عواید وڅېړل شي.

۷- له اسکیج سره سم دسړکونو،پارکونو او دسړکونودغاړې لښتیو تثبیتول.

۸- د کافي پانګې او جواز د درلودلو په اړه د ښارګوټي د خاوند د ژمنتیا موضوع څېړل.

۹- د پروژې تر مساحت د زیاتې ځمکې له غصبولو څخه د مخنیوی موضوع باید په پام کې ونیول شي.

۱۰- د هېواد نافذه قوانینو، د ښاروالیو مقررو او لایحو ته پاملرنه.

۱۱- د وزیرانو شورا له خوا د پروژې د منظورۍ او د ولسمشر له خوا د تایید موضوع پړاوونه باید تېر شوي وي.

ketabton.com - The Digital Library

کــه چېــرې د پروژې د جوړولو لپــاره دولتي ځمکه تر بحث لاندې وي، باید د یوې بســوې یا یوه متره مربع ځمکې بیه تثبیت او د لوړو چارواکو له خوا منظور شــوی وي. او پیســې یې باید د مقاولې یا تړون د منځپانګې له موادو سره سم د ښاروالۍ په حساب کې تحویل شي.

سربېــره پر دې ښــاروالۍ حق لري، چې د ځمکې د خرڅلاو ترځنــګ، د بلاکونو د خرڅلاو د فیصــدۍ په توګه یــو ځانګړی ټکس له قرارداد کوونکي لوري سره لاســلیک کړي. باید ووایو، چې دغه ټکس د ښــاروالیو د عوایدو لپاره یو ښــه مدرک ګڼل کېږي. که چېرې ځمکه شخصي وي او د ځمکې مالک وغواړي ښــارګوتی پرې اباد کړي، نو د ښــاروالیو د حقوقو فیصدي باید په تړون کې تثبیت شي. د ځمکې له بیې او اپارټمانونو له خرڅلاو سره د بانکي اویزونو تطبیق هم د مفتشینو د کار جز ګڼل کېږي، چې د نه ترلاسه کېدو په صورت کې، موضوع تر پلټنې لاندې نیول کېږي.

باید ووایو، چې په دواړو حالتونو کې له ښاري ماسترپلان سره د پروژو تطبیقول، یو اړین امر ګڼل کېږي.

- د سړکونو قیرکول او ترمیمول د ښاروالیو له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي؛ که چېرې ښاروالۍ په دغو برخو کې له چا سره تړون لاســلیکوي، نو ســندونه یې باید د ښــاروالیو د پلان یا د پالیسۍ د طرحې او انسجام ریاست له لارې ترلاسه شي. د سړکونو د موضوع په تړاو، چې د فني او اداري څېړنــې اړتیا رادمخه کوي؛ د اداري مســایلو په برخه کې باید لانــدې موضوعات تر څېړنې لاندې ونیول شي:

۱- د تړون مواد، ســاختماني شرکتونه، د جواز او اساســنامې شــتوالي، د کار د وسایطو او نورو وسایلو درلودل، د نورو افرونو په پرتله د بیې ټیټوالي په بر کې نیسي.

۲- بېل بیې پر وړاندې د پولي ورکړې یا تادیې موضوع.

۳- د تهیه او تدارکاتو او پر عایداتو د مالیاتو قانون له مخې، د مالیاتي مکلفیتونو ترسره کول.

۴- د ســړک اوږدوالی، د کار حجم، په کار کې د وروســته پاتی موضوع او د ځنډېدو جریمه څېړل کېږي.

۵- د هغو ســاحو د استملاکولو موضوع، چې د ســړکونو په اوږدو کې واقع ده او له اشخاصو سره یې د تصفیې موضوع.

۶- د ترسره شویو چارو د بېل پر بنسټ د پولي وجوهو ورکړه او د سرکاري پلاوي نظر.

۷- د هغو موادو کنټرول، چې د سړک په رغنیزو او ترمیماتي چارو کې ترې کار اخیستل کېږي، چې په دې برخه کې د مفتشینو له ډلې سره د فني پلاوي شتون اړین دي.

۸-د تــړون لــه محتویاتو سره ســم د پروژې بشــپړول او د زماني ځنډ په صــورت کې د قانوني

ketabton.com - The Digital Library

جریمې وضع کول.

۹- له شرطپاڼې او تړون له موادو سره سم د قراردادۍ له خوا د مکلفیتونو سرته رسول او د قرار داد ورکوونکي لوري (د پروژې مالک) ته د سړک د سپارلو صورت.

**د عوایدو لپاره هغه لایحې، چې د کلتوري معینیت له لارې یې پراوونه وهل کېږي:**

په همداسې موردونو کې پلټنه په داسې توګه ترسره کېږي، چې د ثبت او راجستر کتابونه وکتل شي او د سوداګریزو لایحو شمېر بیرون نویس شي، د لایحو د ټکس اندازه، چې له کومو مراجعو څخه یې منظوري اخیستل شوی، راوغوښتل شي؛ همدا راز په دې اړه، چې د محصول له درکه په څومره شمېر لایحې تحصیل او څومره پاتې دي او همدارنګه په دې برخه کې د ښاروالۍ اجراات مطالبه شي. سربېره پر دې دغه مسله چې د ژوبڼ عواید په کوم حساب کې تحویل شوی او میاشتني، کلني عواید یې وڅېړل شي.

د ښاروالۍ ښاري خدمتونه، چې تر دې وړاندې د بیو د کنټرول په نامه نومول کېده، خو اوس بیې د یاد ریاست له خوا نه کنټرولېږي، ځکه چې اوسمهال په هېواد کې آزاد بازار واکمن دی؛ د دغه ریاست دنده د روغتیایي استازي په شتون په بازار کې یوازې د جنسونو په ځانګړي توګه د خوراکي توکو د روغتیایي او ناروغتیایي اړخ څېړل دي.

- د ښاري پلانونو د طرح او تطبیق په ریاست کې باید د خپلسرو کورونو له جوړولو څخه مخنیوی او د ماستر پلان په سیمه کې د شاملو هغو ودانیو ورانول، چې په خپلسري توګه ودانېږي تر څېړنې او ارزونې لاندې ونیول شي.

## د ښاروالیو د تنظیفاتي چارو څېړنه

۱- د جنسي، نغدي او د بیه لرونکو سندونو د قید کېدو موجودۍ - د اړوندو دفترونو د موجودۍ د پایلو له تطبیق څخه ډاډمنتیا او د فاضلو او باقي تثبیتول.

۲- د نغدي حوالو، مصارفاتي محاسبوي سندونو، د وېش ټکټونو، د زېرمې او ملکیت د ثبت د کارتونو، د رسېد رپوټ د قید کېدو له موجودۍ څخه، ژوره څېړنه.

۳-دا باید وڅېړل شي، چې تر څېړنې لاندې کلونو په بهیر کې، د عوایدو له اړوندو مدرکونو څخه څومره عواید راټول شوی او څومره یې د دولت د وارداتو په حساب کې لېږدول شوی او همدارنګه د عوایدو له راټولو څخه باید بشپړ ډاډ ترلاسه شي.

۴- د څېړنې پلاوی، تر څېړنې لاندې مرجع کې د څېړنې ترڅنګ باید عیني کنټرول هم ترسره کړي، موضوع روښانه او اداره تر کنټرول مخکې په جریان کې واچوي. د بېلګې په توګه:

ketabton.com - The Digital Library

## له ورځنيو عوايدو څخه کنټرول.

باید ووایو، چې د عیني کنټروال په تړاو باید بېل رپوټ چمتو او وړاندې شي.

۵- محترم پلاوی باید دا موضوع وڅېړي، چې د ښــاروالۍ د تنظیف ریاست د ښاري خدمتونو په برخه کې، کوم تدبیرونه ترلاس لاندې نیولي او پلي کړی او پایلې یې څه دي؟

۶- هغه تړونونه، چې د تنظیف ریاست په کچه صورت موندلي، باید په ژوره توګه وڅېړل شي.

۷- دا موضوع باید وڅېړل شي، چې د کابل ښاروالۍ د تنظیفاتو ریاست د تېرو کلونو د باقیاتو او طلباتو د ترلاسه کولو او راټولولو په برخه کې، کوم اغېزناک ګامونه اخیستي دي.

۸- پــلاني ځانګړنــې، په ځانګړي توګه د کابل ښــار د تنظیف پلان وڅېړل شي او په چارو کې د ځنډ او وروسته پاتې کېدو په صورت کې، لاملونه یې وارزول شي.

۹- دا موضوع باید وڅېړل شي، چې د کابل ښاروالۍ د تنظیفاتو ریاست ترڅېړنې لاندې کلونو پــه موده کــې له کورنیو مدرکونو (عادي – پرمختیایي بودیجې ) او بهرنیو منابعو (مرســتو) څخه څومره پیسې ترلاسه کړي، او څومره یې د بیارغونې او بیاجوړونې په چارو کې لګولي او څومره نور یې پاتې دي. لګښتونه باید د قانونیت، اغېزمنتوب او اقتصادي توب له پلوه وارزول شي.

۱۰- د تنظیفاتو په محترم ریاست کې د ټولو شتو کمیو، نیمګړتیاوو او د مقررو د نقض موارد، تر یو بېل سرلیک لاندې، په اداره کې د چارو د ښه والی او ښه تنظیم او انسجام په موخه د سمونې او اصلاحي نظر له وړاندې کولو سره یو ځای د څېړنې د پایلې په رپوټ کې وړاندې شي.

## د ښار د ساتنې او څارنې په برخه کې پلټنې

د ښــار په ســاتنه او څارنه کې، چې د حفظ او مراقبت ریاســت له خوا ترسره کېږي، تر ټولو لومړۍ، د ښــار د پاکوالی او صفایۍ موضوع مطرحــه ده. په دې برخه کې، له اضافي موادو څخه د لښــتیو، پارکونو، ســړکونو، د فرعي کوڅو پاکول، د بار وړونکو ګاډو په وســیله د سړک د غاړو د اضافي شیانو باراخیستنه، چې له ښار ه بهر لېرې سیمو ته لېږدول کېږي، په هر اړخیزه توګه ارزول کېږي. په همداســې موردونو کې د تیلو د تثبیت او ســنجولو، او په هر کیلومتر کې د پیرې تثبیت هم تر څېړنې لاندې راځي. همدا راز د ښــار د پاکوالي په تړاو تدابیر او ترسره شــوی پلان هم باید تر پلټنې لاندې ونیول شي.

## د ژوند چاپېریال ته پاملرنه

د ژوند چاپېریال له طبیعي او روغتیایي منابعو څخه د دوامدارې ساتنې اوثبات په موخه، باید

ketabton.com - The Digital Library

ښاروالۍ د خلکو او اړوندې ناحیې په مرسته، تنظیفي پروګرامونه ترلاس لاندې ونیسي.

ښاروالۍ باید د انځوریزو او غږیزو رسنیو له لارې، د ښار د تنظیفي چارو د سمونې، د نیالګیو د ایښودلو او د کورونو د مخ لښتیو د ودانولو فرهنګ د خلکو ترمنځ دود او تبلیغ کړي.

د ژوند چاپېریال د پاک ساتنې په موخه، د ویالو هراړخیز تنظیم او د کثافات دانیو ایښودل هغه څه دي، چې د ژوند چاپېریال له ککړوالي څخه د مخنیوي په موخه اړین ګڼل کېږي.

ساتل شوې سیمې، لکه شنې ساحې، ملي پارکونه، د طبیعي آبدې او د منظرې ساحې باید خوندي او وساتل شي.

د لوړ پوړو ودانیو د سبتیک څاه ګانو د کیندلو په برخه کې، چې تر ځمکې لاندې اوبه د ککړوالي لامل ګرځي، پاملرنه وشي.

د کابل ښاروالۍ (د سرسبزۍ ریاست) باید له ایښودل شویو نیالګیو څخه په جدي توګه څارنه او ساتنه وکړي.

د ژویو د ساتنې په موخه باید موخې لرونکې چلند ترلاس لاندې ونیول شي. هغه خصوصي کارخانې، چې خوراکي توکي او غیرالکولي مشروبات تولیدوي، باید د چاپېریال ساتنې اصولو او بنسټونوته جدي پاملرنه وکړي.

د ښار په دننه کې ولاړې او ګنده شوي اوبه او د کثافاتو بې وخته لېږدونه، هم د کابل ښار چاپېریال ننګوي، نو د کابل ښاروالۍ باید په دې برخه کې فعالانه او کوټلي ګامونه واخلي.

- د ښار د سمسورتیا او سرسبزۍ له موردونو څخه پلټنه هم د مفتشینو دنده ده، دوی باید دا ټکی په پام کې ونیسي، چې د ښار په کومو سیمو کې نیالګۍ ایښودل شوي؛ د بېلابېلو څانګو د دندو لایحې په ژوره توګه تر مطالعې لاندې ونیول شي. دغه مسئله هم باید وڅېړل شي، چې د پارکونو، د سړک د غاړو او په خپله د سړک د ګلدانیو اوبول په خپل وخت سره ترسره کېږي او کنه؟ زیاتر وختونه لېدل شوي، چې په زرګونه نیالګۍ پېرېدل شوي، خو د سړکونو پر غاړو تر کینولو وروسته، ترې څارنه او ساتنه نه ده شوې او اوبه ورته نه دي رسېدلي، چې بالاخره نیالګۍ وچ او له منځه تللی. د پېرېدنې موضوع هم د مفتشینو له عمده دندو څخه ګڼل کېږي.

د کنټرول او تفتیش اداره د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره باید له مالیې وزارت، نورو وزارتونو او د نړیوال بانک د پروژو له مدیریتونو سره اړیکې ولري.

- د تفتیش په پیل کې د سندونو او معلوماتو راټول: مفتش باید د اړتیا وړ سندونه او معلومات راټول کړي. دغه معلومات، حسابي لارښود، سیستمونه، تشکیلاتي جوړښت، د مرستو په اړه معلومات، د نړیوال بانک د پېرېدنې لارښود، د مرستو توافق لیک او تخنیکي ضمایم یې، د مالي صورتونو مسوده او د (عادي او پرمختیایي) بودیجې په اړه معلومات په بر کې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

۱- د معاملې لوري د حساب صورت.

۲- د بانکي حساب صورت.

۳- د بانک د تطبیق صورت.

۴- مالي څارنیز رپوټونه.

۵- د حسابو لنډیز د (AFMIS له لارې) ترلاسه کېږي.

۶- د معاشونو د ثبت دفتر، د شتمنیو د ثبت دفتر، د لګښتونو د ثبت دفتر، د بیمې د ثبت دفتر، د پیشکیو لړلیک، بانکي ضمانتونه او داسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

هغه موضوعات، چې په دغه څپرکي کې شـامل شـوي دي، د مفتشینو د نظریاتو او د ترسره شـویو بحثونو د ترتیب په اړه معلومات، د تفتیش د نظریاتو د لنډیز په تړاو پوښـتنې او د هغوی د کړنو له غبرګونونه څخه عبارت دي.

پاته دې نه وي، چې د دغه څپرکي عمده موخه د ښاروالیو د کړنو د اغېزمنتیا څرنګوالی په بر کې نیسي، څو زده کوونکي، د ښـارجوړونې په بهیر کې د ښـاروالیو او د ښاروالیو پورې د اړوندو او همکارو ادارو د دندو او چارو، په اړه(باب) معلومات ترلاسـه کړي، چې په ټولیزه توګه، د ښـار او ښاري ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې د پام وړ او باارزښته ټولنیز خدمتونه وړاندې کړي. پر دې بنسټ، د دغه څپرکي په لړ کې وړاندې شوي معلومات، په راتلونکي کې د محصلینو د ذهنیت په وده کې اغېزناک رول لري، همدارنګه په دغه څپرکي کې په ځانګړي توګه د ښار جوړښت او دیوه ښار حیاتي اړتیاوې تر بحث لاندې نیولای شي.

سربېره پر دې، د مدنیت له پلوه ښاري اړتیاوې، د هستوګنې د سیمو د هراړخېزې ودې کنټرول او څېړنه، د اوبه رسـولو سیسـتم، د نوي عصر له اړتیاوو سره سـم د ښار د کانالیزاسیون سیستم، د لېږد رالېږد په موخه د ښـار د ترانسـپورتي سـتونزې له منځه وړل، د وړو او غټو ګاډو لپاره د پارکینګونو جوړول، د ښار د تنګوالي او نه تجهیز په صورت کې، د اوسېدنې یوې مناسبې سیمې ته د ښار لېږدول او دې ته ورته نور شیان چې د حیاتي اړتیاوو له جملې ګڼل کېږي، په دغه فصل کې تر بحث لاندې نیول شوي، چې د ښاروالیو له مهمو دندو څخه شمېرل کېږي.

خـو له دې ټولو اړتیاوو سره سره، کنټرول او څېړنه د هېواد په سـطحه د نن ورځې له ترټولو مهمو ستونزو څخه ګڼل کېږي، چې ښاروالۍ باید ورته جدي پاملرنه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱. د مفتشینو د نظریاتو د ترتیب په اړه څېل معلومات ولیکئ؟
۲. د کار له بهیر څخه به د تفتیش مدرکونه څه وي؟
۳. د تفتیش د کړنې په بهیر کې نړیوال معیارونه شرح کړئ؟
۴. کافي مدرکونه او شواهد څه وخت ترلاسه کېدای شي؟
۵. ولې مالي صورتونه اغېزناک کېږي؟
۶. د ښاروالیو عواید کوم دي؟
۷. د ښاروالیو اداري ریاستونه څه دنده لري؟
۸. د ښاروالۍ د ملکیتونو ځانګه له څه شي څخه بحث کوي؟
۹. د بهرنیو مرستو او مساعدتونو بڼه تشریح کړئ؟
۱۰. پروژه کوم موضوعات تر څېړنې لاندې نیسي؟
۱۱. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروژو د تفتیش څرنګوالي بیان کړئ؟
۱۲. د نړیوال تفتیش ستندرډونه له څه شي څخه بحث کوي؟

ketabton.com - The Digital Library



# د کنټرولرانو د کنټرولي کړنې ځانګه

**ټولیزه موخه:**

په یو وخت کې د کنټرول د اجراات او ډولونو څرنګوالی.

**د زده کړې موخې:** محصلین باید ددغه څپرکي په پای کې وپوهیږي چې:

- په دولتي ادارو کې د اجرااتو کچه.
- په کاري بهیر کې د تفتیش او کنټرول د پلټنې او څېړنې مواد.
- د ادارې د اجرااتو له بهیر څخه به څرنګه ځارنه وشي.
- د دوه ډوله کنټرول په اړه معلومات.
- د تفتیش او کنټرول ورځنۍ اجراات.

## کنټـرول (Controlling)

موسســې ټاکلو موخو ته د رسېدو لپاره، د خپلو کړنو د رهبري کولو په خاطر پر پلان جوړونې باندې لاس پورې کوي. په دغه مسیر کې کېدای شي تل یو لړ ستونزې او محدودیتونه رادمخه شي او د موسســې سیســتم منحرف کړي. دغه ستونزې هره یوه یې کولی شي، د موسسې د انحراف یا په خوځښت کې یې د ځنډ او خنډ لامل شي. پر دې بنسټ، اړینه ده، چې د ټاکلو موخو د ترلاسه کېدو په بهیر کې د موسســې د کړنې د ســاتنې لپاره، باید تل له یوې اصلاحي وسیلې یا د کنټرول له سیستم څخه کار واخیستل شي.

ketabton.com - The Digital Library

کنټــرول د مديرانو له باارزښــتو دندو څخه ګڼل کېــږي، د دې ترڅنګ، چې د هغوی له نورو دندو سره کره تړاو لري، د موسســې د پلانونو او موخو د ترلاســه کېدو په لاره کې اغېزناک لامل شمېرل کېږي.

## توضيح

د مديريتــي کنټرول له کړنلارو څخه موخه، هغه کړنلارې او سيســتمونه دي، چې مديران يې د (موسســې له ســټنډرډونو، برنامو او موخو) سره د (کارکوونکو د چلند او کړنې) له جوړښــت (سازګارۍ) څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه ترې کار اخلي. د کنټرول په بهير کې منظمې برنامې ترلاس لاندې نيول کېږي، چې له مخې يې د اړتياوړ معلومات ترلاسه کېږي او د انحراف د کچې تر ارزونې او سنجولو وروسته، د موخو د ترلاسه کېدو لپاره او د اغېزمنتيا لوړې کچې ته د رسېدو په موخه اصلاحي پلانونه تنظيم او پلي کېږي.

پــه واقعيــت کې د کنټرول پروســه د (بايد وي) او (دي) ترمنځ پرتلنــه وارزوي او د موجوده وضعې او مطلوبې وضعې ترمنځ واټن اندازه کوي. چې له دې لارې کولی شو، پر دې پوه شو، چې آيا د پلان جوړونکو وړاندوينې سمې وې او کنه؟

کنټرول هغه چاره دی، چې بايد په دوامداره توګه پرې اهتمام وشي. د کنټرول پروسه د پلان له لومړنيو پړاوونو څخه پيل او د پای تر پړاوونو او آن کله د پای تر پړاوونو وروسته هم دوام مومي.

### د کنټرول پروسه څلور لاندې پړاوونه په بر کې نيسي

۱ – د کنټرول د معيارونو او ضوابطو ټاکل.

۲ – له ټاکل شويو معيارونو او ستندردونو سره سم د کړنو د پايلو پرتلنه.

۳ – د انحرافونو د کچې تشخيص او د رامنځ ته کېدو د لاملونو څېړل.

۴ – د پلانونو او اصلاحي عملياتو تنظيم او ترسره کول.

### د کنټرول د معيارونو او ضوابطو ټاکل

پلان جوړونه، د موسسې د موخو ژورې پېژندنې ته اړتيا لري. د کنټرول د معيارونو او ضوابطو له ټاکلو څخه موخه، د ژورو او د سنجول کېدو وړ راټولو شويو معلوماتو په چوکاټ کې د موسسې د موخې تعريف او تفســير دی. د معيارونو ټــاکل د پلان جوړونې له ټولو مراتبو، لکه له بوديجه بندۍ او د مقررو او کړنلارو له ټاکلو څخه نيولې، د موســې د تګلارو تر ټاکلو او د ســتراتيژيو تر تنظيم او د برنامو تر تدوينولو پورې له ټولو اړخونو سره څنګ لګوي.معيارونه او ســتندردونه په څو ډوله دي: کمي، کيفي او مختلط.

ketabton.com - The Digital Library

## له موخو او سټنډرډونو سره د کړنو پرتلنه

له (ټاکلو موخو او معیارونو) سره د (کړنو او ترسره شویو عملیاتو پایلې) د پرتلنې په موخه په معمول ډول، له آماري کړنلارو او کمي ځانګړنو (لکه د عوایدو کچه، د بودیجې وضعیت، د تولید بیه او د خرڅلاو لړۍ) څخه کار اخیســتل کېږي. د (پرتلنې او ارزونې) لپاره د ګټې اخیســتنې وړ ځینې کړنلارې په لاندې توګه دي:

**۱- د بېلګې اخیستنې کړنلاره:** که چېرې د تولید کچه زیاته وي، په داسې توګه، چې د محصول یا خدمت د ټولو احادو ځېړنه ناشــونی وي، نو په دې صورت کې یو شــمېر یې د بېلګې په توګه غوره کېږي او له پام وړ سټنډرډونو سره پرتله کېږي.

**۲- د مشاهدې او غیررسمي خبرې اترې کړنلاره:** که چېرې په طبیعي وضعیت کې د کارکوونکي د چلند مشــاهده کافي وي، نو په دې توګه له دغې کړنلارې څخه د کړنې د غیرکمي ارزونې لپاره کار اخیستل کېږي. همدارنګه کولی شو، چې له کارکوونکو سره د خبرو اترو او بحثونو له لارې،په غیر رسمي توګه د هغوی کارونه وارزوو.

**۳- د وړاندوینې کړنلاره:** که چېرې د عملیاتو برنامه، د راتلونکې کړنې د احتمالي وړاندوینې پر بنســټ وي، نو په دې صورت کې له یادې کړنلارې څخه کار اخیســتل کېږي. دغه کړنلاره، د هغه ځــه د مقابلې او مخنیوی لپاره د مناســبو تدبیرونو د نیولو لپــاره امکانات په لاس ورکوي، چې د رامنځ ته کېدو اټکل یې کېږي.

**۴- د رپوټ اخیســتنې کړنلاره:** له لیکلي رپوټونو څخه په ګټې اخیســتنې او د اړتیا پر وخت د شــفاهي څرګندونو په ترلاســه کولو سره کولی شو، د موسسې کړنې وارزوو. خو باید څرګنده کړو، چې یوازې پر دغې کړنلارې باندې بسنه، مطلوب نه برېښي، ښه دا ده، چې دغه کړنلاره له نورو په ځانګړې توګه د مشاهدې او غیررسمي خبرو اترو له کړنلارو سره یو ځای وکارول شي.

## د انحرافونو دکچې تشخیص او د رامنځ ته کېدو د لاملونو څېړنه

انحرافونه له مخکنیو ټاکل شــویو موخو او معیارونو سره د عملیاتي پایلو د پرتلنې په پایله کې پېژندل کېږي. د انحرافونو د تشخیص په موخه باید مهم او ستراتیژیک ټکي په پام کې ونیول شي. په ستراتیژیکو ډګرونو کې د کړنو د پایلو سنجول، د استثنا اصل د کارولو ګټې نندارې تهږدي؛ مدیر یوازې هغه موردونو ته پاملرنه کوي، چې پکې له ســټنډرډونو څخه انحراف ترســترګو کېږي. مدیر ممکن له خپلو کارکوونکو څخه وغواړي، چې یوازې د مهمو انحرافونو په اړه ورته رپوټ وړاندې کړي. مګر مدیر باید د ســتراتیژیکو او باارزښتو ساحو سربېره، کم ارزښته او بې اهمیته ساحې هم په ګوته او مشخصه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## د اصلاحي پلانونو او کړنو تنظيم او ترسره کول

که عمليات تر ستندردونو ټيټ وي، نو د اصلاحي پلانونو او کړنو تنظيمول اړين برېښي. خو ممکن دی، چې اصلاحي کړنې د ( وروستنې پړاو له اجرايي عملياتو) سره يوځای ترسره کړي.

## د کنټرولرانو د کنټرول د کړنې ځانګه:

پر ثابتو شتمنيو له د اخلي کنټرول څخه يوه مهمه موضوع، د ثابتو شتمنيو راجسترول (ثبتول) دي، دغه راجستر د شرکت د ټولو ثابتو شتمنيو، چې مالک يې هم دی، د سندونو له ثبتولو څخه عبارت دي.

مفتشين بايد پر ثابتو شتمنيو باندې کنټرول وازمايي، چې آيا په اغېزناکه توګه عمل کوي او کنه؟ يا لړترلړه په کال کې يو ځل په عيني بڼه د ټولې راجستر شوي ثابتې شتنمۍ شتوالي وڅېړي. همدارنګه د ثابتو شتمنيو پر پېرېدنو او خرڅلاو باندې مناسب کنټرول هم، يو مهم چار ګڼل کېږي. ځکه ثابته شتمني په معمول ډول له عمده پانګونو څخه عبارت وي. د پېرېدنو او خرڅلاو تصويب، يو مهم او کليدي موضوع ده، چې بايد ورته پاملرنه وشي.

## کنټرولران

**د کنټرول تعريف:** کنټرول له هغو پړاوونو څخه عبارت دی، چې په مرسته يې مدير له پلان شويو کړنو سره د ترسره شويو عملياتو سمون او برابروالي سنجوي. يا په بل عبارت، د هرې کړنې څارنه ده، څو له هغې نقشې سره سم وي، چې د ترسره کېدو لپاره يې طرحه شوې ده.

له دې امله، د کنټرول پړاوونه بنسټيزو موخو ته د رسېدو لپاره، د يوه سازمان د فعاليتونو په پلانولو کې کارول کېږي. په دې توګه مخکې له مخکې، د موخو پر لوري د پرمختګ کچه او د پلان په تشخيص، طرحه او اصلاح کې د مديريت وړتيا ښيي.

پر دې بنسټ، ويلی شو، چې کنټرول د (بايد وي) او (دي) ترمنځ پرتلنه ده، چې د دغو دواړو د پرتلنې په پايلې کې دې ته رسو، چې آيا زموږ وړاندوينې سمې وي او هغه څه ترلاسه شوي، چې هيله يې مو درلوده او کنه؟ په واقعيت کې دغه عمل د کنټرول دايمي توب او استمرار باندې ټينګار لري، په دې معنا، چې کنټرول، د برنامې له پيله بيا ترپايه او ان کله د برنامې تر پای ته رسېدو وروسته هم دوام کوي.

## اداري مدير او داخلي کنټرول

د مالي چارو په سمبالښت او داخلي کنټرول کې د اداري مدير ونډه: اداري مدير د (کنټرولر) تر عنوان لاندې، د يوې اداري اداري ځانګه کنټرولوي. بايد ووايو، د ادارې د برياليتوب لپاره بايد

ketabton.com - The Digital Library

کنټرول په اغېزناکه توګه ترسره شي. اداره اړينه بولي، چې ټول حســابونه او يادښــتونه بايد سم او بشپړ وي، څو په لاندې موردونو کې ورسره مرسته وکړي:

- د راکړې ورکړې کنټرول: د ورځنۍ لګښتونو او عوايدو يادښت، دبت تور او کريدت تور.
- د شتمنيو ساتنه: څه ډول شتمنۍ موجودې دي، چېرې دي او څومره ارزښت لري؟

**داخلي کنټرول:** دغه کنټرول د تشــکيلاتي جوړښــت، ميتودونو او کړنلارو په ګډون د ټولو مالي سيســتمونو او نورو کنټرولونو له ارزونې څخه عبارت دی. کورنی تفتيش، چې د اړوندې ادارې له خوا د حقوقي موخو پر بنســټ، ترتفتيش لاندې ادارې د کړنو په سلوک کې د مرستې لپاره پر مخ بيول کېږي، د شتمنيو او منابعو د ساتنې او د حسابي ضوابطو له سمې کارونې څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په خاطر رامنځ ته شوی دی.

**روان (جــاري) کنټرول:** روان کنټرول هغــه مهال ترسره کېږي، چې برنامه او پلان په عمل کې پلي کېږي. دغه لړۍ بيا هم د کنټرول اړتيا رادمخه کوي، څو مالي او حسابي بنسټونه؛ معيارونه او کړنلارې په بشپړ ډول رعايت او په همهاله توګه له ناسمو اجرااتو څخه مخنيوی وشي.

**وروســتنی کنټرول:** دغه کنټرول د مالي او اقتصادي فعاليتونو په پای کې ترسره کېږي. د دغه ډول کنټرول په پرنســيپ کې له هغه څه سره، چې کړنې بايد څرنګه ترسره شــوي وای، د ترسره شــويو مالي او اقتصادي کړنو د وضعې د څرنګوالي پرتلنه د پام وړ وي. يعنې دپرتلنې دغه کنټرول بايد د هغو پيشــبيني شويو معيارونو، نورمونو او موازينو د پايلو پر بنسټ ترسره شي، چې مخکې طرح او منظور شــوي دي. د پورتني تفکيک په پام کې نيولو سره کولی شي، چې له کنټرول څخه په لاندې توګه يو تعريف وړاندې کړو:

کنټرول د ټاکل شويو موخو او موازينو پر بنسټ، د مخکنيو، روانو او وروستنيو کړنو د څېړنې عملې او د کړنو د کره والي، کفايت توب او اقتصادي توب د څرنګوالي تثبيت دی.

کنټرول: يو سازمان د رامنځ ته کېدو پر مهال او ټاکل شويو موخو ته د رسېدو په لاره کې تل له يو لړ ســتونزو او خنډونو سره مخ کېږي، نو اړينه ده، چې د کنټرول يو مکانيزم، چې د ځانګړو او مشخصو کړنلارو د اجرااتو پر بنسټ ولاړ وي او د سازمان د موخو د دوام او بقا تضمين کوونکي او ساتونکي وي، موجود وي.

پر دې بنسټ، د مدير يو له بنستيزو دندو څخه چې له نورو دندو سره يې تړاو لري، کنټرول دی، چې د هغه له لارې کولای شــو، د ســازمان موخې ته د رســېدو په خاطر، د سازمان د غړو له فعاليتونــو او منابعــو څخه په موثره توګه کار واخلو. هېڅ پلان او برنامه له کنټرول پرته په ســمه توګــه نــه ترسره کېږي او همدارنګه کنټرول هم د پلان له شــتون پرته کوم مفهوم او معنا نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

کنټرول په ټولو برخو کې کره او رغنده ونډه لري؛ ځکه چې د کنټرول له برکته ده، چې انحرافات اصلاح کېږي او کړنې له سـازماني موخو سره ســم پرمخ ځي. کله چې سيستم ځانګړو موخو ته د رسـېدو پر لارې حرکت کوي، نو ممکن داســې پېښې رامنځ ته شي، چې کولی شي له اصلي موخې څخه د سيســتم د لېرتوب لامل وګرځي، خو کنټرول د اصلاحي کړنو په ترسره کولو سره د سيستم چارې تنظيموي. کنټرول هغې پروســې ته وايي، چې له پلان شــويو کړنو سره د ترسره شويو کړنو سمونتيا او مطابقت تر غور او څېړنې لاندې نيسي. کنټرول هغو پړاوونو ته ويل کېږي، چې د مدير په مرســته يې له پلان شــويو کړنو سره د ترسره شويو عمليو سمونتيا او تطابق سنجوي او يا په بل عبارت، کنټرول د هرې کړنې له څارلو او مراقبت څخه عبارت دی، څو له هغې نقشــې سره ســم وي، چې مخکې له مخکې د ترسره کولو لپاره يې طرح شوې ده. نو له دې امله، بنسټيزو موخو ته د رسېدو په خاطر د يو سازمان د کړنو په پلانولو کې د کنټرول له پړاوونو څخه کار اخيستل کېږي. پــه دې توګــه کنټرول مخکې له مخکې، د موخو پر لوري د پرمختګ کچه او د پلان په تشــخيص، طرحه او اصلاح کې د مديريت وړتيا ښــيي. پر دې بنســټ، ويلی شو، چې کنټرول د (بايد وي) او (دي) ترمنــځ پرتلنــه ده، چې د دغو دواړو کلمو د پرتلنې په پايله کې دې ته رســو، چې آيا زموږ وړاندوينې ســمې وې او هغه څه ترلاســه شــوي، چې مو هيله يې درلوده او کنه؟ په واقعيت کې دغه عمل د کنټرول دايمي توب او استمرار باندې ټينګار لري، په دې معنا، چې کنټرول، د برنامې له پيله بيا ترپايه او ان کله د برنامې تر پای ته رسېدو وروسته هم دوام کوي.

## د کنټرول ډولونه Types of Controlling

مديران د خپل يا د دواړو لوريو د شرايطو او يا شــته غوښــتنو د تشــخيص له مخې، د کنټرول لــه بېلابېلــو ډولونو څخه کار اخلي او يا هم د کنټرول مديران کولی شي، د کنټرول د مهال او ځای په پام کې نيولو سره، د کنټرول بېلابېلې طبقه بندۍ په پام کې ونيسي. چې په هغو کې (د دايمي کنټرول د کړنلارو پر وړاندې د مهالنۍ او مقطعي کنټرول کړنلارې او همدارنګه د متمرکزو کړنلارو پر وړاندې د غيرمتمرکزه کړنلارې) او ( د کمي او کيفي کنټرول کړنلارې) مطرح کېږي. همدارنګه مديران کولی شي، د اړتيا له مخې له راتلونکي ليدونکی (تر عمل وړاندې) کنټرول او حال ليدونکی (د عمــل د تــرسره کېدو په بهير کې) کنتــرول او تېر ليدونکی (د عمل تر ترسره کېدو وروســته) کنټرول څخه هم کار واخلي.

## راتلونکی کنټرول Feedforward

پــه دغه حالت کــې د عمليې ترسره کېدو مخکــې د عمليې د پايلو د وړاندوينې پر بنســټ، مناسب اصلاحي پلانونه ترلاس لاندې نيول کېږي. د کنټرول دغه ډول او کړنلاره هغه مهال د ګټې

ketabton.com - The Digital Library

اخیستنې وړ ده، چې دقیقو معلوماتو ته د چټکې لاسرسۍ شونتیا موجوده وي، چې یې له مخې، وکولی شو په محیطي شرایطو کې د احتمالي بدلونونو او په عملیاتو کې د احتمالي پرمختګ د کچې وړاندوینه پر خپل وخت وکړو.

### اوسمهاله کنټرول ConcurrentControl

پــه دغه حالت کې، د ترسره کېدو پر مهال د پــلان د هر پړاو عملیات، تر کنټرول لاندې نیول کېږي او هڅه کېږي، چې د عملیاتو په بهیر کې، انحرافي کړنې اصلاح او د زیاتو سرغړونو له رامنځ ته کېدو څخه مخنیوی وشي. د بېلګې په توګه، د روغتیایي کیفیت له پلوه د خوراکي توکو د تولید په څېړنه او یا د پرواز په حالت کې د الوتکې د امنیت په کنټرول کې، له اوســمهال کنټرول څخه کار اخیستل کېږي.

### تېر کنټرول Feedback Control

په دغه حالت کې د عملیې تر پای ته رسېدو وروسته د پایلو څېړل ، اوله پلان څخه د انحراف کچه په ګوته کېږي. د دغه ډول کنټرول په بهیر کې په معمول ډول له ترلاسه شویو پایلو څخه، د راتلونکو عملیو او پلان جوړولو په برخه کې ګټه اخیستل کېږي. د بېلګې په توګه، د تشویق او یا تنبیه په موخه د کارکوونکو د کړنو ارزونه، چې د تېر کنټرول یو ډول ګڼل کېږي.

یو شمېر د نظر خاوندانو بیا کنټرول په دوو عمده ډولو باندې وېشي:

مخه نیوونکي (پیشګیرنده) کنټرول او اصلاحي کنټرول.

### مخه نیوونکی کنټرول

مخــه نیوونکــی کنټرول په ټولیزه توګه د سرغړونو او تېروتنــو د کمولو په موخه ترسره کېږي؛ پر داسې کړنو لکه د قوانینو او مقررو په تدوینولو، د معیارونو په ټاکلو، د انتخابولو د کړنلارو په تنظیمولو او د انساني ځواک د ښوونې په موخه د پروګرامونو په ترلاس نیولو باندې لاس پورې کول، په ټولیزه توګه د همدې هدف لپاره ترسره کېږي. په واقعیت کې، د مخه نیوونکي کنټرول کړنلارې، د کارکوونکو چلند محدود او له ځانګړو قابلیتونو څخه یې په ګټې اخیستنې سره رهبري کوي.

### اصلاحي کنټرول

دغــه کنټرول د ناســمو کړنو او چلند د ســمونې پــه موخه کارول کېږي. پــه دې هدف، چې کارکوونکي له ټاکلو بنسټونو او معیارونو سره همغږي کړي. بیا هم یادونه کوو، چې سازمانونه د خپلو اړتیاوو له مخې باید په مشخصه توګه، د کنټرول له ټولو کړنلارو او ډولونو څخه کار واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

## د کنټرول پړاوونه

موږ کولی شو، چې کنټرول په څلورو پړاوونو کې وڅېړو:

- د معیار ټاکنه.
- د کړنې سنجول.
- د انحرافاتو تشخیص او په ګوته کول.
- اصلاحي اقدامات.

**لومړی پړاو- د کنټرول لپاره د معیار (ستنډرډ) او ضابطې ټاکل:** په حقیقت کې د دقیقو او د اندازه ګیرۍ وړ پایلو په چوکاټ کې د ســازمان د موخو تغییر ته معیار (ستنډرډ) وايي. دغه پړاو، ټول سازماني مفاهیم، لکه پلان جوړونه، ستراتیژۍ، کړنلارې، تګلوري او د بودیجې وېش په بر کې نیسي. د کنټرول ستنډرډونه یا معیارونه بېلابېل ډولونه لري؛ لکه: (کمي معیارونه، کیفي معیارونه، مختلط معیارونه).

**دویــم پــړاو- د معیارونو له موخو سره د عملیو د پایلو پرتلنه او ســنجونه:** په ټولیزه توګه په دغه پړاو کې، پرتلنه تړتولو زیات په کمي اړخونو کې ترسره کېږي؛ لکه: عواید، لګښت او داسې نور...

**درېیم پړاو: د انحرافاتو تشخیص او د لاملونو تحلیل یې:** په دغه پړاو کې، باید د هغو بحراني لاملونو د تشخیص ترڅنګ، چې انحرافات یې رامنځ ته کړي، په هغه برخه کې، چې اصلاحي کړنې به وربانديې تمرکز وکړي، د انحرافاتو د ډولونو پر څېړلو هم لاس پورې شي.

**څلورم پړاو: اصلاحي کړنې: ت**ر هغه وروســته، چې انحرافات تشــخیص او لاملونه یې تحلیل شي، مدیــر په اصلاحي کړنو لاس پورې کوي، چې دغه کړنې، د ماشــین د بدلولو په عملیاتو پورې اړوندې برخې، په ښــه کیفیت د زیاتې عرضې او مناسبو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه هڅې او داسې نور... په بر کې نیسي.

**د کنټرول کړنلارې:** د پرتلنې بنســټیزې کړنلارې د مشــاهدې او غیررســمي بحث کړنلاره: په دغــه کړنــلاره کې، چې د عملیاتو د اجرا له بهیر څخه کنټرول، لــه کارکوونکو سره د خبرو اترو او غیررسمي بحث په بڼه صورت مومي، له لاندې کړنلارو څخه عبارت دي:

**د وړاندوینــې کړنلاره:** دغه کړنلاره په غالب ډول، د احتمالي اندازه ګیرۍ د سیســتم په توګه کارول کېږي.

**د رپــوټ وړانــدې کولو کړنلاره:** دغه کړنــلاره، باید د نورو په ځانګړي توګه د مشــاهدې او

ketabton.com - The Digital Library

غیررسمي  بحثونو له کړنلارو سره یوځای ترسره شي.

**د بېلګې اخیســتنې کړنلاره:** له هغه ځایه، چې محصولات یا خدمتونه د څېړلو وړنه وي، نود بېلګې اخیستنې له کړنلارې څخه ګټه اخیستل کېږي.

**تدبیرونه یا د کنټرول وســایل:** په دې خاطر، چې مدیر وکولی شي، چې کارکوونکي په ســمه توګه کنټرول کړي او ښې اصلاحي کړنې ترسره کړي، باید د کنټرول له ځېنو وسایلو لکه د عملیاتو، بودیجې، آماري او داخلي ارزونې له کنټرول څخه کار واخلي.

**عملیاتي کنټرول:** عملیاتي کنټرول په بېلابېلو لکه (لنډ مهالو، منځمهالو او اوږدمهالو) دورو کې د عملیاتو په تنظیم کې ټاکلې ونډه لري، چې د کنټرول دغه وسیله د کمي او کیفي پلوه د تولید پر کچې د مستقیمې اغېزې په پام کې نیولو سره، له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی.

**بودیجــوي کنټــرول:** مدیران د بودیجې په ټاکلو سره له ټولو کړنو څخه څارنه کوي. سربېره پر دې، د بودیجې له کنټرول څخه کولی شو، د سازمان موخې ته د رسېدو لپاره د پلانونو د بریالیتوب کچې یا له پیش بیني شویو پلانونو څخه د انحراف کچې په ټاکلو کې هم کار واخلو. د بودیجې د کنټرول ډېر خوند په دې کې دی، چې د اندازه ګیرۍ او کنټرول د ګډ بنســټ د کارولو له لارې، د یوې موسسې د بېلابېلو کړنو په همغږي کولو کې مرسته کوي.

**آمــاري کنټــرول:** د کنټرول له نورو وســایلو څخه یو هم دوامدار دوره یــی رپوټونه (اونیزې، میاشــتنۍ و....) دي، چې مدیر کولی شي، د چمتو کېدو غوښتونکي یې شي. مدیر د مخکنې دورې لــه ورتــو معلوماتو سره د هغــوی د پرتلنې، تجزیې او تحلیل سربېره، کولــی شي ګټه ترې  واخلي او پــه مخکنیــو او روانو رپوټونو  کې د توپیرونو او بدلونونــو په پام کې نیولو سره، اړین اصلاحي ګامونه واخلي. پر دې بنســټ، د آماري کنټرول د رپوټونو څېړنه، له مدیر سره مرســته کوي، چې د ســازمان پر کړنو، مسایلو او ســتونزو باندې دوامداره څارنه ولري او په دې  توګه پر خپل وخت اړینې پرېکړې ترلاس لاندې ونیسي.

**ځانګړی کنټرول:** د ځانګړي کنټرول رپوټونه ممکن د ځانګړو معلوماتي واحدونو له لوري چمتو شي. د دغه ډول رپوټونو برابرول، په غیرمستمره توګه او استثنایي حالاتو کې ترسره کېږي. د ځانګړو رپوټونو ارزښــت په دې کې دی، هغه عملیاتو زیاته پاملرنه کېږي، چې داســې ښــکاري، له پام وړ معیارونو څخه انحراف کړی. باید یادونه وکړو، چې د کنټرول لپاره په معمول ډول، له ډېرو وسایلو او تدبیرونو څخه ګټه اخیستل کېږي، چې د سازمانونو د کړنو په څرنګوالي کې د شتو توپیرونو له امله، یو له بله توپیر کوي او موږ هم په دې ځای کې د شتو محدودیتونو په موخه ترې تېرېږو.

ketabton.com - The Digital Library

**د وخت له پلوه د کنټرول ډولونه:** د وخت له پلوه د سازمان کنټرول کولی شو، په دریو ډولونو باندې وویشو:

**لومړني یا مقدماتي کنټرول:** د کنټرول دغه ډول هغه کوي، چې د ســازمان تر ګټې اخیســتنې لاندې انساني، مادي او مالي منابعو د کیفیت او کمیت له انحرافاتو څخه مخکې له مخکې مخنیوی وکړي. د لومړني یا مقدماتي کنټرول تر ټولو مهمه وسیله د سازماني چلند (رفتار) اجرا ده. همدارنګه د انســاني منابعو کنټرول د ټاکنې د شرایطو د پلیتوب او په ســازماني دندو کې د وړتیا او لیاقت د اصل د ارزونې له مخې د کســانو د ګومارلو او انتصاب له لارې ترسره کېږي او یا دا چې د کار تر پیلېدو وړاندې کارکوونکي روزل کېږي. په همدې بنه، د مادي او مالي منابعو مقدماتي کنټرول هم د هر سازمان د ځانګړو فني او مالي کړنلارو په پام کې نیولو سره د اټکل شویو بنسټونو پر بنسټ مخکې له مخکې ترسره کېږي.

**له اجراآتو سره همهاله کنټرول: د** کنټرول اصلي وســیله، فعالیت، سرپرســتۍ او لارښوونه ده. په دغه ډول کنټرول کې مدیران په مســتقیمه توګه تر خپل لاس لاندې کســانو د کړنو څارنه کوي او پــه دې توګــه دې پایلې ته رسي، چې ایا د کار او عملیاتو بهیــر له هغو کړنلارو او موازینو سره سم ترسره کېږي، چې یې وړاندوینه شوې وه او کنه؟ په دغه ډول کنټرول کې، د هر کارکوونکي د دندې شرح د عمل بنسټ ګرځي. د مدیر یا سرپرست مسوولیت دا دی، چې تر لاس لاندې کسانو لــه کړنو څخه د څارنې ترڅنــګ، هغوی ته د کار د ترسره کولو لارې چارې هم ورزده کړي او ډاډ ترلاسه کړي، چې دوی له کړنلارو څخه پیروي کوي.

**د ترلاســه شویو پایلو پرمهال کنټرول:** دغه ډول کنټرول د کار پر وروستنیو پایلو باندې څارنه لري. د کار له پایلو څخه خبرتیا او له ټاکل شویو معیارونو او بنسټونو سره یې پرتلنه، د یاد کنټرول دنده ده. دغه کنټرول، احتمالي انحرافات او اړین اصلاحي اقدامات په ګوته کوي؛ ځکه د تېرو کړنو پایله، د راتلونکو کړنو لپاره د لارښود حیثیت لري.

## د اغېزناکه کنټرول ځانګړنې:

- د یوه اغېزناک کنټرول تر ټولو عمده ځانګړتیاوې عبارت دي له:
- کنټرول باید دقیق وي.
- کنټرول باید پر وخت ترسره شي.
- کنټرول باید د موخې او پلان پر بنسټ پرمخ ولاړ شي.

ketabton.com - The Digital Library

- کنټرول باید معقول او د درک وړ وي.
- کنټرول باید سپما (صرفې) ته نژدې وي.
- کنټرول باید په ستراتیژیکو برخو کې ترسره شي.
- کنټرول باید عیني وي.
- کنټرول باید انعطاف منونکی وي.
- کنټرول باید موندونکی وي.
- کنټرول بابد له سازماني پست سره متناسب وي.
- کنټرول باید د بیا کتنې وړ وي.
- کنټرول باید له فردی توپیرونو سره د انطباق وړ وي.

کله کله داسې هم پېښېږي، چې یوازې د کمیو او نیمګړتیاوو پر اړخونو باندې ټینګار کېږي، خو مثبت او د قوت اړخونه له پامه غورځي؛ په دې صورت کې، کارکوونکي فکر کوي، چې کنټرول د هغوی د کمزوریو او نیمګړتیاوو د جوتولو او د هغوی د تنبیه په معنا ده. له دې امله، د کنټرول په تړاو د دوی کرکې راپارېږي او بالاخره یې پر وړاندې مقاومت کوي. پر دې بنسټ، مدیران د کارکوونکو دغه ډول ستونزو ته باید جدي پاملرنه وکړي.

## د ستراتیژۍ کنټرول

ستراتیژیو له هغه جامع، واحد او بشپړ پلان څخه عبارت ده، چې پر بنسټ یې، د سازمان بنسټیزو موخو ته د رسېدو لاره ټاکل کېږي. یا په بل عبارت، ستراتیژۍ د سازمان موخې ته د رسېدو لپاره د تګلارو او فعالیتونو له جامع پلان څخه عبارت ده.

د کنټرول او تفتیش اداره د هېواد په کچه د دولتي او مختلطو ادارو د مالي او حسابي چارو او فعالیتونو د څېړلو تر ټولو لوړ ارګان په توګه له ویاړونو ډک (۵۰) کلنه کاري مخینه لري، چې د مجربو کدرونو په درلودلو سره خپله ورسپارل شوې دنده د ستراتیژې، کنټرول او تفتیش ادارې د قانون او مقررو له حکمونو سره سم په ښه توګه سرته رسولی او په ټول هېواد کې د تفتیش چارې پر مخ بیایي.

لکه څرنګه، چې د کنټرول او تفتیش د عمومي ادارې، د وظیفوي موخو او پرنسیپونو ترلاسه کېدنه، د افغانستان له بېلابېلو ادارو سره د دغه ادارې د مفتشینو او کارکوونکو د اړیکو په پایله کې بشپړېږي، نو له دې امله، د افغانستان د کنټرول او تفتیش عمومي اداره، د خپلو کارکوونکو د کړنو او د چلند معیارونو ته زیات ارزښت قایل دی او هیله کېږي، چې د دغې ادارې مفتشین او ټول کارکوونکي په رسمي او غیررسمي وختونو کې تر څېړنو لاندې ادارو کې د دندو د ترسره کولو

ketabton.com - The Digital Library

پر مهال د تر ټولو لوړ اخلاقي او مسلکي کړنلارو د کارولو کچه په جدي توګه په پام کې ونيسي.

د کنټرول او تفتيش د عمومي ادارې د کړنلارو او چلند دســتور، د نيک او د منلو وړ اخلاقي چلند ارزښــتونه او معيارونه د ادارې د فعاليتونو په سر کې شــمېري. ځکه چې د منل شوی چلند له دســتور څخه پيروی‌د هېواد، خلکو او دولت په اړه د دغې ادارې د رښــتينولۍ، بې پريتوب او ايماندارۍ اصل منعکسوي. د تفتيش د ادارو او د حسابرسۍ کمېټو د کارکوونکو د کړنې او چلند دســتور، د دغو ادارو د کارکوونکو د اخلاقي بنســتيز اصول په بر کې نيسي، چې د تفتيش د عالي انســتيتوت د نړيوال سازمان (INTOSAI) له خوا د يو ســتندرډ اصل په توګه منل شوی، چې بيا وروســته د دوی له خوا ترتيب، تنظيم او تصويب شــوي هم دي. S-supreme-I-international O-Organization-I-institution- A-Audit. دغه ســازمان په لومړي ځل په ۱۹۵۳ مېلادي کال کې د کيوبا په مرکز هاوانا ښار کې رامنځ ته شو، چې هغه مهال يوازې ۲۴ هېوادونو يې غړيتوب درلود، خو ډېر ژر د دغه ســازمان فعاليتونه نړيوال شــول او اوســمهال د نړۍ ۱۸۵ هېوادونه يې غړيتــوب لــري، له نېکمرغه د افغانســتان د کنټرول او تفتيش اداره هم د دغه ســازمان غړيتوب لري. د دغه ســازمان مديره پلاوي هڅه وکړه، چې د نړۍ په کچه د SAI د غړو ترمنځ د اخلاقي مفکورو بشــپړه همغږۍ رامنځ ته کړي او غړي هېوادونه د رسمي او غيررسمي چارو په بهير کې د خپلې ســيمې او هېــواد د شرايطو په پام کې نيولو سره يې پلي کــړي. د دغه هدف له مخې، د دغه سازمان کاري کمېټه، چې پکې د اتريش، استراليا، ارجنټاين، انګلستان، امريکا، برازيل، پرتګال، جاپان، ســويډن، عربستان، فلپين او کوســتاريکا هېوادونه شامل دي، په ۱۹۹۸ کا ل کې په مونتي ويدويدروګودي کې په خپله شپاړلســمه کنګره کې د کړنې او چلند دغه دســتور يې، چې د غړو هېوادونو د اخلاقي مفکورو بشپړه همغږي کوونکی دی، د يوه قانون په توګه، تصويب کړل.

**د دولت رياست د کنټرول او تفتيش د عمومي ادارې د چلند او کړنې دستور:**

پــه دې خاطر، چې د هغو ټولو ارګانونو بشــپړ باور وپايي، چــې د دغې ادارې کارکوونکي د چارو د ترسره کولو په بهير ورسره اړيکه لري، نو بايد د عامه خدمتونو او مســلکي معيارونو هغه ټول اخلاقي ارزښتونه زموږ د کار په لومړيتوبونو کې وي، چې دغه اداره يې په ګټې اخيستنې سره موږ ته لارښوونه کوي.

د وازتونــو او نورو ادارو د مالي چارو د حســاب پلټنــې د روڼتيا په برخه کې د دولت ريس او پارلمان ته د ډاډ په ورکولو او د مشورو په برابرولو کې د کنټرول او تفتيش ادارې د واقعي ټاکونکي ونډې له مخې، دا اړتيا رامخې ته کېږي، چې بايد د کاري کړنلارو، ټاکلي اصول او پرنسيپونه ولرو.

ketabton.com - The Digital Library

## تړونونه

### د تړون( عقــد) تعریف

تــړون یا قرارداد د یوې کړنــې د ترسره کېدو یا نه ترسره کېدو او یا د ملکیت د لېږد په تړاو د دواړو لوریــو د ارادې لــه توافق څخه عبــارت دی. د سرغړونې په صورت کې، له دواړو لوریو هر یوکولی شي، موضوع محکمې او عدالت ته وړاندې کړي.

### د تړون بنسټیز رکنونه

د یو تړون د لاسلیک کېدو په موخه باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شی:

۱- تــړون پر ایجاب او قبول شــامل وي، یو لوری باید قانونی وړاندیــز وکړي او بل لوري یې قبول کړي.

۲- د دواړو لوریو ترمنځ مباحثات او توافقات باید په قانوني توګه ترسره شوي وي.

۳- د دواړو لوریو رضایت باید په څرګند او حقیقي بڼه موجود وي؛ یعنې عقد په بشپړه ازادۍ سره منعقد کېږي.

۴- دواړې لوري باید حقوقي اهلیت ولري.

۵- د عقد موضوع، چې د وجیبې موضوع جوړوي، باید قانوني او واضح وي.

**هغه مسایل، چې په یو تړون کې مهم ګڼل کېږي، په لاندې توګه دي:**

سنــد: اکثراً سند یا ځانګړې فورمه ( په معمول ډول چاپي وي) باید بشپړه شي. که کوم تړون سند و نه لري، نو نه شي کولی، چې سرغړونکي لوري د خپلو وجیبو په ترسره کولو کې اړباسي.

باید ووایو، چې له سند او مدرک پرته دا نه شو ثابتولی، چې توافق صورت موندلی دی.

د زیــان یاجــبران په ټاکلو کې د دواړو لوریو حق: د تړون له دواړو لوریو هر یو د مقابل لوري له خوا د تړون د نقض یا فسخه کولو په صورت کې باید د زیان د جبرانېدو غوښتنې حق ولري.

**د دواړو لوریــو مکلفیتونــه:** د تړون دواړ لوري، باید د تړون د موضوع د اجرا په موخه یو بل ته ژمن وي. هغه تړون، چې ټول پورتني شرایط ولري، د ارزښت او اعتبار وړ دی؛ د محکمې لپاره بــه دا غیرممکنــه وي، چې پر اجرا باندې یې دواړه لوري اړباسي. دا چې په دقیقه او څرګنده توګه ځومره موده ټاکل کېږي، دا د تړون په څرنګوالي پورې تړلې ده.

**یو تړون باید د لاندې ټکو درلودونکي وي:**

۱- د تړون د دواړو لوریو معرفي.

ketabton.com - The Digital Library

۲- د تړون د موضوع معرفي: هغه وجیبې، چې باید ترسره شي؛ د مالونو، خدمتونو، وسـایلو او داسې نورو مشخصول(همدارنگه کمیت او میعاد) په بر کې نیسي.

۳- تادیات: بڼه او وخت یې.

۴- د تحویلولو جزییات، چې وخت او د تحویلولو مسوول شخص په بر کې نیسي.

۵- محرمیت:باید د دواړو لوریو او ذیدخلو کسانو له خوا وساتل شي.

۶- دواړه لوري د تړون د فسخ کولو حق درلودل.

۷- کـه د کاري محدودیتونو او یا نـورو ملاحظاتو په صورت کې، دواړه لوري په خپلو ژمنو وفا و نه کړي، نو څه مکلفیت لري.

۸- د دغه موضوع څرگندتیا، چې د دغه تړون په اړه به د کوم هېواد قانون د اجرا وړ وي؟

کـه په یو تړون کـې پورتني موضوعات په پام کې ونیول شي، نو یاد تړون به یو بشـپړ تړون گڼل کېږي.

## اداري مدیر او داخلي کنټرول

د مـالي چارو په تامین او داخلي کنټرول کـې د اداري مدیر ونډه: اداري مدیر د (کنټرولر) تر نامـه لانـدې د یوې اداري اداري چارې کنټرولوي. باید ووایو، چې د یوې ادارې د بریالیتوب لپاره کنټرول باید په اغیزناکه توگه ترسره شي. اداره دا اړینه گڼي، چې ټول حسـابونه او یادښـتونه باید سم او بشپړ وي، څو په لاندې موردونو کې ورسره مرسته وکړي:

- **د راکړې ورکړې کنټرول:** د ورځنیو لگښتونو او عوایدو یادښتونه؛ دبت تور او کریدت تور.
- **د شتمنیو ساتنه:** کوم ډول شتمنۍ او په کوم ځای کې موجودې دي او ارزښت یې څومره دي.

## داخلي کنټرول

دغه کنټرول د تشـکیلاتي جوړښـت، میتودونو او کړنلارو په گډون د ټولو مالي سیسـتمونو او نورو کنټرولونو له ارزونې څخه عبارت دی. کورنی تفتیش، چې د اړوندې اداري له خوا د حقوقي موخو پر بنسـټ، د ترتفتیش لاندې اداري د کړنو په سـلوک کې د مرستې لپاره پر مخ بیول کېږي، د شـتمنیو او منابعو د ساتنې او د حسـابي ضوابطو له سمې کارونې څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په خاطر رامنځ ته شوی دی.

هڅه و نه کړئ، چې په یو وار ټولو شیانو ته تغییر ورکړئ، بلکې گام په گام پر مخ ولاړ شئ.

۱- د لیکنیزو بنسټونو له مخې که له مقابل لوري څخه د ځینو موضوعاتو په اړه د معلوماتو د

ketabton.com - The Digital Library

ترلاســه کولو په موخه پوښتنه او ځواب په ناځاپي توګه مطرح شي، نو ممکن ښې پایلې و نه لري. ځکه چې د فوري ځواب غوښــتنه، ســړی د ګډوډۍ له حالت سره مخ کوي او دا کار به ستونزمن هم وي؛ نو له دې امله لیکل، د سازمان په بېلابېلو برخو او رسمي چارو کې ډېر د ارزښت وړ دی. باید ووایو، چې دغه چارې، یوازې د داخلي چارو د ژورې همغږۍ په موخه مهم نه، بلکې له دې اړخه هم د ارزښت وړ دی، چې ملاقات کوونکي او معامله کوونکي د سازمان د تخصص د ټولیزې وړتیا د ســنجولو په موخه هم ترې ګټه اخلي. نو ښــه به دا وي، چې موضوع ګام په ګام مطرحه شي، څو د دې شونتیا رامنځ ته شي، هغه اجراات، چې د پام وړ دي، په بشپړ وضاحت سره ترلاسه شي. پر دې بنســټ، په مباحثو، پوښــتنې او ځواب او همدارنګه په خبرو اترو کې باید له پېژندنې سره جوخت غښتلي ګامونه واخیستل شي، چې دغه لړۍ لاندې موضوعات په برکې نیسي:

۲- د عامیانه ژبې او اصطلاحاتو له کارونې څخه باید ډډه وشي؛ له هغو کلمو څخه کار واخیستل شي، چې یوازې مشخصه معنا افاده کوي. ډېره هڅه وشي، چې خبرې واضحې او څرګندې وي.

۳- اوریدونکی باید ډېر محتاط وي، د هغو ټکو په اړه دې پوښتنې وکړي، چې پرې نه وي پوه شــوي؛ په هغه صورت کې، چې د غږ فشــار او د تلفظ څرنګوالي سره ورته وي، یا له مقابل کس سره د درېیمې ژبې له لارې خبرې کوي.

۴- دا یو مسلم حقیقت دی، چې د غږ د لحن فشار کولی شي، په معنا کې تغییر راولي.

۵- د اشاروي ژبې تغییراتو ته په ژوره توګه پاملرنه وکړئ.

۶- هغه مهم ټکي، چې په اړه یې خبرې شوې، بیا تکرار نه شي.

## د بحثونو پر یادښتولو تمرکز وکړئ

ځېنې وختونه، داسې پېښېږي، چې د یو معلوماتي مطلب په تړاو بحث دوام مومي او همدارنګه په محافلو او مجلسونو کې د پوښتونکي او ځواب ورکوونکي ترمنځ اوږده بحثونه ترسره کېږي. په دې صورت کې، چې په ناســته یا ســیمینار او یا د تحقیق په بهیر کې له یو مجرم یا محکوم څخه اســتجواب صورت مومي، باید د مباحثې د مطلب جزییات یادښت شي. ځکه چې په مباحثاتو کې پــه ټولیزه توګه پر مهمــو موضوعاتو باندې بحث صورت نیسي، یا ځېنې وختونه، مجرم تر فشــار لاندې راځي او یا داچې د خپل وجداني او اخلاقي احساس له مخې، په اجندا کې شاملو موضوعاتو باندې اعتراف کوي.

په دې صورت کې، په همهاله توګه باید موضوع د ســمعي او بصري وســایلو په وسیله ثبت او یا لړترلړه یادښت شي، څو یو لړ اسانتیاوې رامنځ ته شي او دغه لړۍ پر یو مستند او یادښت شوې مباحثې باندې پای ومومي.

ketabton.com - The Digital Library

## د څېړنې رپوټ

له دې امله، چې د څېړنې موضوع او ساحه یې په دقیقه توګه تشخیص او اټکل شي، نو اړینه ده، چې لاندینیو بنسټونو ته پاملرنه وشي.

– په پلان کې د رهبري ارګانونو لارښـــوونې کولی شي، په خپل ذات یو مشـــخص او د درج وړ موضـــوع وي، لکه څرنګـــه، چې د کنټرول او تفتیش اداره هم د خپلو پلانونو په لومړۍ برخه کې، د حکومت حکمونه او پرېکړې په پام کې نیسي.

– د هغه تفتیش رپوټ او مدرکونه، چې مخکې ترسره شوي هم د څېړنې وړ موضوع او ساحه ده، پر دې بنسټ، د بنسټیزو موضوعاتو د تشخیص په موخه، د مخکنیو ارزونو پایلو او د مفتشینو رپوټونو ته پاملرنه، د ځانګړي ارزښـــت وړ وي. د بېلګې په توګه د مخکني تفتیش د پلاوي له خوا تشـــخیص کېږي، چې د کومو برخو وضع مطلوبه نه ده او سرغړونې پکې ترسترګو کېږي، چې په راتلونکو پلانونو کې کولی شو، د بحث وړ ساحې، تشخیص شوې سرغړونه او نیمګړتیا د بیا لپاره کنټرول او وارزوو.

## په مالي چارو کې د کنټرول او مخکني څارنې ارزښت

له مالیې وزارت او نورو دولتي ادارو سره د کنټرولرانو اړیکې ډېرې په زړه پورې او ګټورې وي.

۱- د کنټرول او مراقبت د عمومي مدیر مهمې کړنې:

۲- د محاسبې تفتیش او ورسره د تفتیش او کنټرول ټولیز بنسټونه.

۳- تاریخي مخینه.

۴- د څېړلو صدور (تفتیش اوکنټرول).

۵- د څېړلو کړنلارې ( تفتیش) -------------A- مزایا--------B- نیمګړتیاوې

۶- زیاتوالی او وروستني کنټرول ------------A- مزایا---------B- نیمګړتیاوې

۷- د کورني تفتیش څېړنه ----------------A- مزایا-------- B- نیمګړتیاوې

۸- د حکومت کړنه.

۹- د تفتیش او کنټرول اړتیا.

A- د لګښتونو کنټرول اوتفتیش.

B- د کلنۍ منظورۍ د اصل کنټرول او تفتیش.

C- د تخصصاتو کنټرول او تفتیش.

D- د قواعدو او مقررو کنټرول او تفتیش.

ketabton.com - The Digital Library

E-  د تناسب کنټرول او تفتيش.

F-  د اغېزمنتيا کنټرول او تفتيش.

G- د عوايدو کنټرول او تفتيش.

H- سوداګريز کنټرول او تفتيش.

## تاريخي مخينه

د تفتيش او کنټرول اداره د هېواد په کچه د وزارتونو او ادارو د مالي او حسابي چارو د څېړلو (SAI) يعنـــې (Supreme Audi Institution) تر ټولو لوړ ارګان دی، چې په هېواد کې د فعاليت (۶۰) کلنه مخينه لري او د (انتوسای) – (ريکوسای او اسوسای) د نړيوال تفتيش د سازمانونو غړی سازمان دی. دغه اداره د اسلامي انتقالي دولت د محترم جمهور رييس د ۱۳۸۱/۹/۹ نېټې د (۱۶۰) ګڼې فرمان پر بنســټ د ادارو د مالي او حســابي چارو د څېړلو په موخه د يوې خپلواکه ادارې په توګــه رامنځ ته شــوه. او د دولت د محترم رييــس د د ۱۳۸۲/۱۱/۲۰ نېټې د (۵۴۹۱) ګڼې حکم له مخې د ۱۳۸۳ کال له پيله د يو مستقل بوديجوي واحد په توګه پېژندل کېږي، چې د دولت د دري ګونو قواوو له چوکاټ څخه بهر، د جمهوري رياست تر مستقيم اثر لاندې فعاليت کوي.

## د دغې ادارې موخه او دندې په لاندې توګه دي

۱- د هېــواد په مرکــز او ولايتونو کې د وزاتونو، ادارو، موسســو ، تصديــو دولتي او مختلطو شرکتونو، کوپراتيفونو او نورو مراجعو د مالي او حسابي چارو څېړل.

۲- په حســاب ورکولو او حســاب اخيستلو کې د روڼتيا د شــتوالي په موخه، د عامه شتمنيو له حسابي ثبت څخه ډاډ ترلاسه کول.

۳- تر پلټنې لاندې ادارو کې د لګښتونو د سموالي له څرنګوالي او د دولت د عوايدو له تحقق څخه څېړنه.

۴- د کنټرول او تفتيش اداره د بهرني تفتيش په توګه، د مالي حساب صورتونه (د دولت قطعيه حساب) څېړي.

۵- د فزيکي موجوديو د اجرا له لارې له عامه شتمنيو څخه ساتنه.

۶- د کميــو او نيمګړتياوو پــه ګوته کول، د پولي توپيرونو تثبيتول او تر پلټنې لاندې ادارو ته د څېړنو او پلټنو د پايلو او اصلاحي نظرياتو وړاندې کول.

۷- د ترلاســه شويو توافقاتو له مخې، د نړيوال بانک (UNDP اوARTF او...) د مرستو د قيد، ثبت او لګښت له څرنګوالي څخه څېړنه.

ketabton.com - The Digital Library

۸- د جمهوري رياست د مقام د لارښوونو پلي کول.

۹- په عامه شــتمنيو کې په اغيزناکه توګه د اختلاس د پېښــو تشــخيصول او د لويې څارنوالۍ مقام ته يې لېږل.

۱۰- د منفي پدېدو د موندلو په برخه کې مرسته.

۱۱- د کورني تفتيش، وزارتونو او نورو ادارو ميتوديکي لارښوونه.

۱۲- د اقتصادي پروژو له اغېزمنتيا، ګټورتوب او اقتصادي توب څخه د ډاډ ترلاسه کول.

۱۳- د ادارو د اجرااتو او د دولت د حقوقو د تحصيل په اړه، جمهوري رياســت محترم مقام او پارلمان ته د رپوټ وړاندې کول.

## د څېړنې، تفتيش او کنټرول حدود

د زېرمتونونو او تحويلخونو حسابونه د ادارو د حسابونو لومړني او فرعي برخه جوړوي. له دې امله، د دغو حسابونو تفتيش په هره مرجع کې د اجرا وړ ګرځي.

د زېرمتونونو او تحويلخونو د حسابونو تفتيش بايد د اداري مقررو، له سمې طرح او اجرا څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، چې د پېرېدنې، رسيد، وېشنې، ساتنې، موجودۍ، خرڅلاو او د زېرمو له ستاک څخه د څېړنې چارو د تنظيم په موخه رامنځ ته شوي، اجرا شي او د تفتيش په پايله کې بايد د زېرمو په کميت او يا په کنټرولي سيسټم کې يې ټولې موجودې نيمګړتياوې جوتې شي.

## د زېرمو د تفتيش کليدي کچې

**الف- د زېرمو د پېرېدنې د چارو تفتيش:**

د زېرمو د پيرېدنې په بهير کې بايد لاندې موارد، تر غور او څېړنې لاندې ونيول شي:

۱- پيرېدنې بايد په سمه توګه تاييد او له قواعدو، مقررو او د واک لرونکو چارواکو له حکمونو سره سم او د تر ټولو اقتصادي کړنلارې له مخې ترسره شي.

۲- بايــد ډاډ ترلاســه شي، چې پېرېدنــې د اړوندو څانګو د کاري حجــم او د حقايقو او د مالي وجوهو د شتون پر بنسټ د اړتياوو د تشخيص له مخې، صورت موندلی وي.

۳- د دې ترڅنګ، د وړانديز شويو څانګړنو او کميت له مخې بايد د زېرمتون له پېرېدنې څخه ډاډ ترلاسه شي.

۴- پــه هغــه تړون کې، چې له عرضــه کوونکي سره عقد کېږي، د پېرېدنې لپــاره لازم معيارونه او ځانګړنې ټاکل کېږي؛ نو ټولې پېرېدنې بايد يوازې او يوازې د همهغو معيارونو پر بنسټ ترسره شوي وي.

ketabton.com - The Digital Library

۵- له قراردادي او يا عرضه کوونکي څخه د زېرمتون د پېرېدنې پر بنسټ، بايد د مناصفې له سيستم څخه کار واخيستل شي، په دې توګه له کوم ځانګړي دليل پرته، د اړتيا وړ ټول جنسونه بايد د ترټولو ټيټې بيې له وړانديز کوونکي څخه واخيستل شي.

۶- د ورکړې کچه بايد په تړون کې له توافق شوې کچې سره سم صورت ومومي.

۷- د دولت هغه کارکوونکي، چې د پېرېدنې د تصديق او لاسته راوړلو مسووليت لري، بايد د پيسو تر ورکړې وړاندې د کيفيت او کميت سند چمتو کړي.

۸- د واک لرونکو چارواکو د منظورۍ اخيستلو لـه اړتيا څخه د مخنيوي پـه موخه، بايد د پيرېدنې امرونه په بېلابېلو برخو ونه وېشل شي.

۹- په تشريح شـويو شرايطو کې، هغه تغييرات، چې په قوانينو کې رامنځ ته کېږي، بايد په پام کې ونيول شي.

۱۰- له عامه ګټو څخه د ساتنې په موخه، د هغې پيشـکۍ پيسې په ورکړه کې، چې د تړون يا د دولت د حکم له مخې عرضه کوونکي ته ورکول کېږي، بايد لازم احتياط په پام کې ونيول شي.

۱۱- د اړتيا وړ جنسـونه بايد په ټاکلې موده کې ولېږدول شي او په همهاله توګه د پيشـکۍ له ورکړې سره تطبيق شي.

## د څېړنې، تفتيش او کنټرول کړنلارې

۱- د هغـو متوقعه پايلو يا ګټو پرلوري پرمختـګ، چې د قانون جوړونکو يا نورو واک لرونکو اشخاصو له خوا طرح شوي او ترلاسه کول يې.

۲- د ادارو، برنامو، کړنو يا دندو... اغېزمنتوب.

۳- آيا اداره، له هغو د تطبيق وړ قوانينو او مقررو سره سمه روانه ده، چې په پلان کې په پام کې نيول شوي وو؟

## وروستنی تفتيش او کنټرول

د څېړلو هغه عمليه ده، چې د فعاليتونو په پای کې صورت مومي؛ د دغه ډول پلټنو موخه، د ترسره شويو چارو او هغو چارو ترمنځ پرتلنه په بر کې نيسي، چې بايد ترسره شوي وای.

په دغه تعريف کې ليدل کېږي، چې وروستني کنټرول د چارو او معاملو په پای کې ترسره کېږي، چې په دې توګه ترسره شوې کړنې،له اټکلونو، موخو، قوانينو، مقررو او نورمونو سره پرتله کوي.

ketabton.com - The Digital Library

## کورنی تفتیش او کنټرول

پــه هر سیســتم کې څو ډوله کړنلارې او طرزالعملونه شــتون لري، چې ځينې يې ښــايي، په مســتقيمه توګه د سيستم بنســټيزو دندو ته متوجه وي (د حسابونو کړنلارې) او نورې يې کېدای شي، د سيســتم د اجرااتو په کنټرول پورې تړلې وي (د کنټرول کړنلارې). دغه کنټرولونه نه يوازې د کنټرولونو د غوښــتنو صفت ته نســبت ورکول کېږي، بلکې ياد کنټرولونه د حسابي معلوماتو په بشپړوالي او سموالي کې بنسټيز کنټرولونه هم ګڼل کېږي.

له کورني کنټرول څخه موخه د لاندې موضوعاتو په اړه د ډاډ ترلاسه کول دی:

– ټول هغه حسابي معلومات او نور معاملات چې بايد ثبت شي، په حقيقت کې بايد ثبت شوي وي.

– د حسابي معلوماتو په بهير کې ټولې تېروتنې او د قانون خلاف کارونه بايد څرګند او روښانه شي.

– هغه شــتمنۍ او پورونه، چې په حسابي سيستم کې ثبت شوي، بايد په جاري مبلغ کې هم ثبت شوي وي.

اداره په دواړو برخو کې مسووله وي، هم د حسابي سمو يادښتونو په لاسته راوړلو او هم د کورني کنټرول د سيستم په اغېزمنتيا کې. د کنټرول ماهيت او پراختيا کېدای شي د ادارې د بېلابېلو څانګو په پام کې نيولو سره بېلابېلې وي. له کنټرول څخه کاراخيستنه په لاندې فکتورونو پورې تړلې دي:

– ماهيت، کچه او د معاملاتو دفتر.

– د کنټرول هغه درجه، چې په خپله د ادارې له خوا اجرا کېږي.

– د تصديو جغرافيايي موقعيت.

– د هغو ګټو پر وړاندې، چې يې هيله کېږي، د کنټرول د ترسره کولو لګښت.

## د کورني کنټرول ډولونه

کورني کنټرول په بنسټيزه توګه په اتو ډولونو باندې وېشل کېږي:

– **د دندو تفکيک:** بايد هېڅکله يو کس د يوې معاملې د ثبت او د پړاوونو د تېرولو مســوول نه وي. (څلورې سترګې ترټولو ښې دي).

– **تشکيلات:** تصدي بايد يو تشکيلاتي پلان ولري، چې په لړ کې يې:

– بايد مسووليتونه معين او تشريح کړي.

– د رپوټ ورکولو سيستم مشخص کړي.

– د استازو واک وټاکي.

ketabton.com - The Digital Library

– **تصديق او منظوري:** اړينه ده، چې ټولې معاملې د مســوولو کارکوونکو په وســيله تصديق او منظــورې شي، خو د دغې منظورۍ لپاره بايد يو محدوديت وټاکل شي، چې دغه مســوول کس ترکومه بريده واک لري.

– **فــزيکي:** په فزيکي شتمنيو کې د لاسرسۍ اجازه بايد په مشخصه توګه محدوده شي، چې دغه موضوع، د ځانګړو ساحو لکه د کمپيوتر خونې د ساتنې په موخه برقي کولپونه هم په بر کې نيسي.

– **څارنــه:** ټولــې کړنې، چــې په هره کچه وي، بايــد کنټرول شي. د دغې څارنــې په موخه بايد مسوولیتونه په روښانه توګه انځور شي او له هغه کس سره، چې تر څارنې لاندې دی، اړيکه ونيول شي.

– **پــرســـــونل:** بايد يوه داســې کړنلاره شتون ولري، چې په وسيله يې د هغو واکونو له ترسره کېدو څخه ډاډ ترلاسه شي، چې کارکوونکو ته ورکړل شوي دي. لکه: د نوي استخدام لپاره يوه سمه کړنلاره؛ د روزنې او د معاشونو د پاليسيو راتلونکي پورې تړلې يوه تګلاره.

– **حســابي محاســبې:** دغه کنټرولونه د هغو يادښــتونو په برخه کې شــتون لري، چې د ټولې معاملې ثبت او د پړاوونو تېرول ارزوي.

– منظور شوي وي.
– د ټولو معاملو په بر کې نيوونکي وي.
– ټولې معاملې په سمه توګه ثبت شوي وي.
– د ټولې معاملې پړاوونه په سمه توګه تېر شوي.

– **اداره:** اداره هره ورځ د کنټرول عادي بهير کنټرولوي، چې دغه کنټرول:
– ټوليز څارنيز کنټرولونه،
– د ادارې له حسابونو څخه ليدنه،
– له بوديجې سره پرتلنه،
– کورنی تفتيش،
– له ټولو ځانګړو کړنلارو څخه ليدنه په بر کې نيسي.

## د حکومت فعاليت

حاکميــت د يــوه هېواد د حکومت له لوري د تصميم نيونې لــه واک، د قوانينو له وضع کولو او د اداري وېش له اجرا څخه عبارت دی. په ننني نړۍ کې درې ډوله دولتونه شتون لري، چې د حاکميت د واک درلودونکي دي:

ketabton.com - The Digital Library

## فدرال دولت Fedrol Government

– **مرکزي دولت Unitory Government:** په نړۍ کې ډېری هېوادونه د یونټرۍ سیستم دولتونه لري، دغه هېوادونه، ایالت نه لري او د سیاست ټولې چارې یې د مرکزي حکومت له خوا طرح کېږي.

– **کانفدراســیون دولــت Canfedration Government:** د دولت دغه ډول هم د فدرال په بڼــه وي، خو په دې توپیــر سره، چې په فدرالي دولت کې، مرکــزي حکومت د ایالتي حکومت په پرتله د زیاتو واکو درلودونکی وي، مګر په کانفدراسیون کې د دې په عکس وي؛ چې ژوندې بېلګه یې د سویز هېواد دی.

په ننني نړۍ کې په معمول ډول دوه ډوله سیاسي رژیمونه معمول دي:

## پارلماني سیستم (Parliamentary)

په پارلمان کې د اکثریت ګوند رییس لومړی وزیر وي، په دغه سیستم کې پاچاه او یا ولسمشر تشریفاتي بڼه لري؛ لکه: د انګلستان او هندوستان هېوادونه.

## ریاستي سیستم (Presidential)

په دغه سیســتم کې لومړی وزیر شــتون نه لري او ولســمشر په مستقیمه توګه د خلکو له خوا ټاکل کېږي؛ ولسمشر د اجراییه قوې رییس هم وي، لکه د افغانستان او متحده ایالاتو دولتي سیستم.

## حکومــت

حکومت د واک لرلو په معنا دی، خو په دموکراتیکو نظامونو کې، چې د قواوو تفکیک مشخص شوی وي، حکومت له اجراییې قوې څخه عبارت دی.

دري ګونې قوې عبارت دي له:

- اجراییه قوه ( حکومت)
- قضاییه قوه ( ستره محکمه)
- مقننه قوه ( پارلمان)

په ځېنو هېوادونو کې دولت له پنځو قواوو څخه جوړ دی له دریو ګونو قواوو سربېره، رسنۍ څلورمه قوه او تفتیش پنځمه قوه ده.

ketabton.com - The Digital Library

## فــرمــان

له هغو دستورونو څخه عبارت دی، چې په یوه مورد کې د ولسمشر او پاچاه له خوا صادرېږي او تقنيني اړخ لري.

## حــکــم

له هغو دستورونو څخه عبارت دي، چې پر جمهور رييس سربېره، د جمهور رييس د مرستيال او يا لومړي وزير له خوا هم صادرېږي او همدارنګه حکم اجرايي حيثيت لري.

## د تفتيش او کنټرول بنسټونه او مقررې

د کنټــرول او تفتيــش د قانون، د کنټرول او تفتيش د ادارې د مقررې او د تفتيش د تعليمات نامې په پام کې نيولو سره، چې د نړيوالو معيارونو پر بنسټ جوړ شوی د تفتيش موخه د وزارتونو، ادارو، دولتــي تصديــو او تر پلټنې لاندې نورو مراجعــو ، د کړنو له څېړلو څخه عبارت دي، چې د کنټــرول او تفتيــش د قانون په (۴) مه ماده کې توضيح شــوي دي. دغــه څېړنه د لاندې موخو د ترلاسه کېدو په موخه ترسره کېږي:

۱- په حساب اخيستلو او حساب ورکولو کې روڼتيا (شفافيت).

۲- د ستېنډرډ، پروخت او اغيزناک تفتيش له ترسره کېدو څخه د ډاډ ترلاسه کول او په ټوليزه توګه د يوې نړيوالې معياري کړنلارې په وسيله د ياد تفتيش ترسره کول.

۳- د نغدي اړخونو او جنسي شتمنيو ساتنه.

۴- د حسابي او رپوټ ورکولو د چارو کره توب.

۵- د پلاني، پرمختيايي، اقتصادي او ټولنيزو شاخصونو پلیتابه.

۶- د دولت د عوايدو پلټنه، کنټرول او تحقق او د مصرفولو څرنګوالی يې.

۷- د اقتصــادي او ټولنيــزې ودې د پلانونو د تحقق څرنګوالي او د دولت د پرمختيايي بوديجې له لګښتونو څخه کنټرول.

۸- د دولتي پروژو له اغيزمنتوب، اقتصادي توب او ګټورتوب څخه خبرتيا.

۹- د ولسمشرۍ د مقام له لارښوونې سره سم، د نادولتي موسسو (انجوګانو) د کړنو څېړنه او د تمويل کوونکو منابعو غوښتنه لکه ( W-B اوUNDP ) .

۱۰ – په هغو موردونو کې، چې دغه ادارې ته محول کېږي، د ولســمشرۍ د محترم مقام او د وزيرانو د عالي شورا د فرمانونو، مصوبو، پرېکړو او حکمونو د پلیتوب له څرنګوالي څخه کنټرول.

ketabton.com - The Digital Library

## د دریېم څپرکي لنډیز

په دغه څپرکي کې، په بېلابېلو پړاوونو کې د تفتیش څرنګوالی څېړل شــوی، چې پورتني ټکي ته په پام سره، په ټولیزه توګه کنټرول او ګټې یې د دغه څپرکي عمده ټکي جوړوي.

پــه دې فصــل کې د کنټرولرانو د کار څرنګوالي تر بحث لاندې نیول شــوی. پر دې بنســټ، د کنټرول ډولونه لکه راتلونکی لیدونکی کنټرول، اوسمهاله کنټرول، اصلاح کوونکی کنټرول، مقدماتي یــا مخه نیونکی کنټرول، د کنټــرول پړاوونه، د کنټرول کړنلارې، عملیاتي کنټرول، آماري کنټرول او همدارنګه ځانګړی کنټرول او داســې نور موضوعــات هغه څه دي، چې په دغه څپرکي پرې پراخ بحث شــوی دی. سربېره پر دې په دغه فصل کې د حکومتونو او د ســیاسي منل شــویو نظامونو د سیستم د ډولونو په اړه څېړنې شوې او د حکومتونو د نننې معمولې بڼې په اړه معلومات وړاندې شــوي دي. همدارنګه د حکومتونو د دســتورونو، حکمونو، قواعدو او مقرروو په ارتباط هم په کافي اندازه معلومات د دغه فصل د بحثونو مهم توکي جوړوي، چې له دې جملې، د حکومت دري ډولونه تعریف او تشریح شوي دي، چې د زده کوونکو د معلوماتو په زیاتوالي کې مهمه ونډه لرلای شي.

## د دریېم څپرکي پوښتنې

۱. د کنټرول په اړه، خپل معلومات وړاندې کړئ؟
۲. د کنټرولونو دنده څه او څه وخت وي؟
۳. د کنټرول، څارنې او څېړنې(بررسۍ) ترمنځ توپیر بیان کړئ؟
۴. کنټرول په څو پړاوونو کې سرته رسېږي؟
۵. د دغه څپرکي له منځپانګې څخه مو څه شی زده کړي، خپل معلومات وړاندې کړئ؟
۶. کنټرول څه شی او په کومو وختونو کې ترسره کېږي؟
۷. په کاري بهیر کې د کنټرول موخه بیان کړئ؟
۸. د کنټرولر مسوولیتونه بیان کړئ؟
۹. د کنټرولرانو لاسته راوړنې په ګوته کړئ؟
۱۰. د ټرونونو ډولونه بیان کړئ؟
۱۱. د اغیزناک کنټرول ځانګړنې تعریف کړئ؟
۱۲. د تفتیش د مناسباتو په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ؟
۱۳. د څپرکي د مطالبو په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# لسم ځپرکي

## څارنه او څېړنه

## Supervision

**تولیزه موخه:**

د کنټرولرانو په وسیله د څېړنې او کتنې د بنسټونو او مقررو پلیتوب.

**د زده کړې موخې:**

- د کنټرول، څارنې او ارزونې کلمو ترمنځ د شتو توپیرونو جوتول.
- د کنټرولرانو د دندو څرنګوالي او ټاکلي پړاوونه یې.
- کاري بهیر او اغېزمنتیا یې.
- د څارنې او د څارنې د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کېږي.
- د پرېکړو نیول او پلیتوب یې.

### بررسي (څېړنه)

بررسي یوه دري کلمه ده، چې د تحقیق په معنا ده او مورږ یې په پښــتو کې د ((څېړنې)) په معنا ژباړو. له هغه ځایه، یعنې تفتیش او تحقیق دوه کلمې دي، چې هره یوه بېله معنا لري؛ نو د تفتیش په چارو کې باید د بررسۍ (څېړنې) کلمه و نه کاروو. ځکه چې څېړنه د مراجعو له دندو څخه ده، چې په مستقیمه توګه د تحقیق (څېړنې) موضوع هغوی ته سپارل شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

## بازرسي (رسېدنه)

بازرسي هم یوه دري کلمه ده، چې د سـندونو د ارزونې واک د تفتیش په معنا دی، چې موږ یې په پښتو کې پر (رسېدنه) ژباړو. د دغه ادارې (تفتیش او کنټرول) له لوري د رسېدنې د کلمې کارونه مانوس دی، خو دا باید له پامه و نه غورځوو، چې د تفتیش د اجرااتو په بهیر کې د بازرسۍ (رسېدنې) کلمه کارول کېږي.

## ارزونه

د پلي کېدو په معنا ده، همدارنګه د ارزښـت ورکولو، د یو څه د ارزښـت ټاکلو او د یو څه د ارزښت څېړلو او تامینولو په معنا هم راغلې ده.

هغه شـخص، چې د حسـابونو د ارزونې چارې پر غاړه لري، د حساب مفتش په نامه یادېږي. باید ووایو، دغه مفهوم د لاتین(AUDIRE) له کلمې څخه اخیسـتل شـوی، چې د استماع کولو او یا اورېدلو معنا ورکوي. هغه مهال به حسـابي مسـوولین د هغوی د حسابي رپوټونو د اوریدلو په موخه د مفتشینو له خوا احضارېدل. په (۱۹) پېړۍ کې د سوداګرۍ د کچې د پراختیا په پایله کې، لوی لوی شرکتونه رامنځ ته شـول، چې په هغو کې به د پام وړ پانګې د څو محدودو کسـانو تر ادارې لاندې په کار اچول شوي وو. په همداسې شرایطو کې هغه ګټې، چې د مفتشینو د زیار او هڅو په پایله کې ترلاسه شوي وو، د سوداګرۍ او تولیز سکټور په چارو کې په ښکاره توګه تولیزه پاملرنه ځان ته واړاوله.

لکـه څرنګه، چـې مو مخکې یادونه وکـړه، د کنټـرول او تفتیش اداره، د تفتیـش د نړیوالو سازمانونو غړې ده، نو په دې برخه کې د دغو سازمانونو په اړه هم لنډ معلومات وړاندې کوو:

**ASOSAI:** د اسیایي تفتیش او بیا رسېدنې له لوړ سازمان څخه عبارت دی.

**INTOSAI:** د اروپا د څېړنې او تفتیش د عالي موسسو له نړیوال سازمان څخه عبارت دی.

دغه اداره د پورتني سازمان له خوا په رسمیت پېژندل شوې ده.

له پورتنیو سازمانونو سره د کنټرول او پلټنې د ادارې تړاو د لاندو موخو له مخې وي:

۱- د یاد سازمان په خپل لګښت، د غړو هېوادونو د مفتشینو لپاره د یو روزنیز پروګرام جوړول.

۲- د سیمینارونو ترتیب او برابرول.

۳- په تفتیش او څېړنې پورې د اړوندو رسالو خپرول او وېشل.

۴- د غړو هېوادونو د مفتشینو ترمنځ د فکرونو د تبادلې او د هر هېواد د شرایطو په پام کې نیولو سره د غړو هېوادونو له نوښتونو څخه د ګټې اخیستنې په موخه د کنفرانسونو جوړول.

ketabton.com - The Digital Library

۵- د ټولیــز تفتیـــش په برخه کې د افکارو او تجربو د تبادلې له لارې د غړو موسســـو ترمنځ د تفاهم او همکاریو پراختیا. باید یادونه وکړو، چې د دغو ســـازمانونو عمده او بنســـټیزه موخه، د دولتي محاســـبې، په ټولو چارو کې د دولت د کنټرول، د مفتشـــینو د مســـلکي پوهې د کچې د لوړوالي او د څېړنې او تفتیش په چارو کې له نویو نړیوالو کړنلارو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې، د نظریو تبادله او د تجربو ترلاسه کول دي.

له هغه ځایه، چې محترم مفتشـــین د تفتیش په بهیر کې له عوایدو او لګښـــتونو سره سروکار لري، نو پر دې بنسټ اړینه ده، چې تر ټولو مخکې باید بودیجه وپېژنو.

## مونیتورنګ د څه لپاره (Monitoring)

مونیتورنګ یعنې ګواښنه، نصیحت، خبرداری او تهییج کول ته وایي، چې دا ټولې چارې د یوه مفتـــش پـــه دنده کې داخلې دي. په دې معنا، چې یو مفتش باید د منشـــاء، پرتلنې، توافقاتو او عمل جریان د روښـــانولو لپاره له ځانګړو نښو څخه کار واخلي. د تفتیش یو شمېر لویو سازمانونو د دغې موخې لپاره معیاري نښې ټاکلي دي. که چېرې ټاکلي نښې شتون و نه لري، یا مفتش د کوم لامل له امله، له ناټاکلو نښـــو څخه کار واخلي، نو د نښـــو مفهوم باید په روښـــانه توګه په اړوندو پاڼو کې وړاندې شي.

د ارزونې لپاره په ځانګړي توګه د تفتیش د مدرکونو په موندلو او ارزولو کې له ارزونکي سره د مرستې په موخه ، چې د مفتشینو د کار د پایلو، سپارښتنو او رپوټونو ملاتړي دي، اړینه ده، څو کاري پاڼـــې (خپـــل ماقبل او مابعد ته) یو بل ته راجع شي. باید ووایو، چې یو بل دغه رجعت، باید کاري اصـــلي منبـــع په روښـــانه توګه په ګوته کړي. دا هم باید له پامه و نه غورځوو، چې یوه ښـــه مراجعه، د ټولو پاڼو واضحه، منطقي او لومړني مراجعې ته اړتیا لري.

د تفتیش عالي ســـازمان زیاتره هغو معلوماتو ته هم لاسرسی لري، چې له سیاسي، سوداګریزې او امنیتي پلوه محرم او حســـاس ګڼل کېږي. یادســـازمانونه او کارکوونکي یې باید د مسلکي اړینو پاملرنو تمرین وکړي، څو دا ډاډ ترلاسه شي، چې دغه معلومات په سمه توګه ساتل کېږي؛ همدارنګه هغـــه کړنـــلارې او کنټرولونه په پام کې ونیول شي، چې د کاري پاڼـــو د فزیکي محافظت ډاډ پرې حاصلېږي. په همدې توګه، دا معمول دی، چې له څېړل (بررســـی) شوې اداري سره د اړیکو کاري پاڼې او د مونیتورنګ تســـوید شـــوي رپوټونه تر هغه مهاله، چې د خپرېدو لپاره یې پېژندل شوي کړنلارې تعقیبېږي، باید محرم وســـاتل شي. د تفتیش عالي ســـازمانونه بایـــد تفتیش پورې د اړوندو معلوماتـــو د محرمـــوالي اړتیـــا، له هر هغه قانـــون سره پرتله کړي، چې د خلکو لپاره د همداســـې معلوماتو د آزاده خپرېدا اجازه ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library

## د بررسۍ (څېړنې) ډولونه

د بررسۍ (څېړلو) د ډولونو له توضیح څخه موخه دا ده، چې د کنټرول او تفتیش کارکوونکي پــر دې پــوه شي، چې د څېړلو د ډولونو او د څېړلو د کړنلارې ترمنځ توپیر شــته. ځکه د بررســۍ ډولونه عمده او تر ډېره کچه بنسټیز دي، خو د بررسۍ کړنلارې متعدد او بېلابېل دي، چې په دې توګــه کېدای شي، بېلابېل تکتیکونه او څو اړخیز میتودونه وکارول شي. په ټولیزه توګه د کنټرول او تفتیش اداري او د کورني تفتیش د څانګو د دندو ماهیت د بررسۍ په ډولونو پورې تړلي دي، چې په لاندې توګه توضیح کېږي:

**۱- قسمي بررسي:** له هغه بررسۍ څخه عبارت ده، چې په یوه ارګان کې د فعالیت یوه برخه یا یوه موضوع تشــخیص شي او بیا هماغه برخه یا موضوع تر کنټرول او تفتیش لاندې ونیول شي. د بېلګې په توګه په یوه بودیجوي اداره کې، یوازې د پېرېدنو لګښتونه او یا د حق الزحمې، اضافه کارۍ لګښتونه او یا هم د جنسونو د وېش او ساتنې موضوع؛ او یا په یوه سوداګریزه تصدۍ کې د وارداتو، صادراتو یا د تصدۍ اداري لګښتونه او داسې نور، چې همدغه تر څېړنې لاندې موضوع او برخه کولی شي، د قیدي کړنلارې په مرسته پلی شي او یا له مفصله کړنلارې څخه کار واخیستل شي؛ یعنې له همدغه مشــخصې موضوع څخه، چې د بېلګې په توګه (۱۰۰) قطعه ســند په بر کې نیسي، یوازې (۲۰) قطعه او یا هم د هماغه موضوع ټول ســندونه انتخاب شي. نو قیدي او مفصل یوازې یوه کړنلاره جوتوي، نه د څېړنې ډول.

**۲- پرتلیزه موضوعي برسي:** د څېړنې دغه ډول، په څېنو وختونو کې د څو مشــخصو ارګانونو، هغه هم د ځانګړې موضوع په تړاو، د مالي، حسابي او اقتصادي کړنو د څرنګوالي د پرتلنې په موخه تــرسره کېــږي. د بېلګې په توګه، په دوو یا تر دوو زیاتو ارګانونو کې د طلباتو له شــتوالي، تفکیک او تحصیل څخه بررسۍ او یا هم په پرتلیزه توګه په دوو یا تر دوو زیاتو بودیجوي ارګانونو کې د اضافــه کارۍ د حق الزحمې په ورکولو کې د قانوني بنســټونو د رعایتولو څېړل، د څو باروړونکي ترانسپورتي موسسو لکه: (۱ نمبر، ۲ نمبر او ۳ نمبر ګاماز) ترمنځ د في کیلومتر ټامې شوې بیې څېړل، یا په څو دولتي روغتونونو کې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو پرتلیزه څېړنه او داســې نور. همدغه څېړنه هم کېدای شي، په قیدي یا مفصله کړنلارې پلې شي، چې دغه کړنلارې نه شي کولی د څېړنې ډول افاده کړي.

**۳- بشــپړه یا کمپلکســه بررسۍ:** له هغه بررســۍ څخه عبارت دی، چې د یو ارګان ټول مالي، حســابي او اقتصــادي فعالیتونــه په بر کــې نیسي. د مثال پــه ډول په یوه بودیجــوي ارګان کې د لګښــتونو ټولې برخې، چې د هماغه ارګان د فعالیتونو جز ګڼل کېږي، لکه پېرېدنې، معاشــونه، د ماکول لګښــتونه، د کوپوني توکو، تجهیزاتو، ترمیماتو، تعمیراتو او داســې نورو لګښــتونه او یا په

ketabton.com - The Digital Library

یوه سوداګریزه موسسه کې اداري، د وارداتو، صادراتو، ځانګړو او داسې نورو لګښتونه او یا په مستوفیت کې د عایداتو ټولې برخې، چې د عوایدو په تصنیف کې شامل دی او د لګښتونو ټولې ځانګې، چې د لګښتونو په تصنیف کې شامل دي؛ د څېړنې دغه ډول هم کولی شي، په دواړو کړنلارو هم په قیدي او هم په مفصله بڼه پلي شي. (ځانګړي) څېړنې هم په حقیقت کې د یادو څېړنو له ډولونه څخه دي. په همدې توګه، د بررسۍ کړنلارې کېدای شي، بېلابېلې وي؛ د بېلګې په توګه عیني، اسنادي، د روان او اوپراتیفي کنټرول بررسۍ، د کار د تطبیق بررسۍ، د ازمویښتي اندازه ګیرۍ بررسۍ او داسې نورې کړنلارې، چې د موضوع د ماهیت په پام کې نیولو سره توپیر کوي.

## د پروسې بررسي

له هغه بررسۍ څخه عبارت ده، چې د یو ارګان ټول مالي، حسابي او اقتصادي فعالیتونه په بر کې نیسي. د مثال په ډول په یوه بودیجوي ارګان کې د لګښتونو ټولې برخې، چې د هماغه ارګان د فعالیتونو جز ګڼل کېږي، لکه پېرېدنې، معاشونه، د ماکول لګښتونه، د کوپوني توکو، تجهیزاتو، ترمیماتو، تعمیراتو او داسې نورو لګښتونه او یا په یوه سوداګریزه موسسه کې اداري، د وارداتو، صادراتو، ځانګړو او داسې نورو لګښتونه او یا په مستوفیت کې د عایداتو ټولې برخې، چې د عوایدو په تصنیف کې شامل دي او د لګښتونو ټولې ځانګې، چې د لګښتونو په تصنیف کې داخلې دي؛ د څېړنې دغه ډول هم کولی شي، په دواړو کړنلارو هم په قیدي او هم په تفصیلي بڼه پلي شي. (ځانګړي) څېړنې هم په حقیقت کې د یادو څېړنو له ډولونه څخه دي. په همدې توګه، د بررسۍ کړنلارې کېدای شي، بېلابېلې وي؛ د بېلګې په توګه عیني، اسنادي، د روان او اوپراتیفي کنټرول بررسۍ، د کار د تطبیق بررسۍ، د ازمویښتي اندازه ګیرۍ بررسۍ او داسې نورې کړنلارې، چې د موضوع د ماهیت په پام کې نیولو سره توپیر کوي.

## د اغېزو بررسي

د څېړنې دغه ډول، په ځینو وختونو کې د څو مشخصو ارګانونو، هغه هم د ځانګړې موضوع په تړاو، د مالي، حسابي او اقتصادي کړنو د څرنګوالي د پرتلنې په موخه ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، په دوو یا تر دوو زیاتو ارګانونو کې د طلباتو له شتوالي، تفکیک او تحصیل څخه بررسۍ او یا هم په پرتلیزه توګه په دوو یا تر دوو زیاتو بودیجوي ارګانونو کې د اضافه کارۍ د حق الزحمې په ورکړه کې د قانوني بنسټونو د رعایتولو څېړل، د څو باروړونکي ترانسپورټي موسسو لکه:

(۱ نمبر، ۲ نمبر او ۳ نمبر ګاماز) ترمنځ د فې کیلومتر تمامې شوې بیې څېړل، یا په څو دولتي روغتونونو کې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو پرتلیزه څېړنه او داسې نور. همدغه څېړنه هم کېدای شي، په قیدي یا مفصله کړنلارې پلي شي، چې دغه کړنلارې نه شي کولی د څېړنې ډول افاده کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## ارزونه Evaluation

**د ارزونې تعریف:**

ارزونه هغه مقطعي سنجونې او څېړنې ته وايي، چې په وسیله یې، د پروژې یا پروګرام له بهیر څخــه ډاډ ترلاســه کېږي. یعنې د ارزونې په لړ کې دا خــبره جوتېږي، چې پروګرام یا پروژه څومره خپلو موخو ته رسېدلې او یا موخو ته یې په رسېدلو یا نه رسېدلو کې کوم لاملونه دخیل و.

## ارزونه په دریو پړاوونو کې ترسره کېږي

**۱- د پــروژې تر پیلېدو مخکــې (PreProject Evaluation):** دغه ارزونه په معمول ډول، د ګټو اخیســتونکو او یا یو چاپېریــال د پرمختیايي او ځواکمن توب وړتیاوې د تشــخیص په موخه ترسره کېږي. په دغه پړاو کې زیاتره د پروژې له لګښتونو او ګټو (Cist Benefit Analysis) څخه تحلیل ترسره کېږي.

**۱- منځنــي ارزونه:** (Mid-term Evaluation) د دوره يي ارزونې موخه په دوو ډولونو باندې وېشل کېږي:

– د محیطي او یا ټولیزې موخې د بدلونونو پر وړاندې د پروژې د انعطاف وړ سمبالښت.

– لومــړی تفتیــش له پروژو څخــه ترسره کېږي، چې د پــروژې تر طرحې، ډیزایــن او پیلېدو وروسته ترلاس لاندې نیول کېږي.

**۱- ۳- د تاثیراتــو ارزونــه:** (Impact Evaluation) دغه ارزونه د لاندینیو معلوماتو د ترلاســه کولو په موخه په لاره اچول کېږي

– له لوړ موثریت سره د پروژې د مقاصدو ترلاسه کول.

– د ګټېو اخیستونکو ملي پلانونو او پرمختیايي موخو ته د لاسرسۍ په موخه د همکارۍ کچه.

– د هغو ځانګړتیاوې ساتنه، چې د پروژې د بقا لامل ګرځي.

**د ارزونې د اغېزناکي ترسره کېدو لپاره باید لاندي ټکي په پام کې ونیول شي:**

– د روښانو او د ټاکلو وړ موخو درلودل.

– د هغو کلیدي ځانګړنو درلودل، چې د موخو د ترلاســه کېدو په موخه وکولی شي، له ترسره شویو او یا روانو فعالیتونو څخه یوه روښانه انګېرنه وړاندې کړي.

– د هغــو ځانګړنــو په اړه د معلوماتو درلودل، چې بهیر تشریح او د کار په وســیله رامنځ ته شوي بدلونونه راڅرګند کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د ارزونې پړاوونه:**

- د ځانګړنو ټاکنه.
- د مقاصدو ټاکنه.
- د میتــود ټاکنه. (عملیاتي تعریف، د نفوســو او محیط مطالعه او د منظمو او ســاده نومرو درلودل)
- د وړاندیز وړاندې کول.
- د پوښتنې طرحه؛ د پای ته رسېدو ساحوي ازموینه.
- د معلوماتو راټولول.
- د رپوټ مسوده.
- د وړاندیزونو ترلاسه کول.

## څارنه Supervision

**تعریف:**

څارنه یو مدیریتي فعالیت دی، چې په وســیله یې تر څارنې لاندې کســانو کې مثبتې اغېزې راځي، څو د موســســې موخې ته د رســېدو په موخه خپله مثبته ونډه ادا کړي او یا په بل عبارت، څارنــه له هغې پروســې ته ویل کېږي، چې یې په لړ کې، د یــوې دورې فعالیتونه د څارونکي تر څارنــې او کنتــرول لاندې نیول کېږي، څو ټولې څانګې خپل کار یا فعالیتونه په داســې بڼه پر مخ بوځي، چې د پروګرام مطلوبې موخې ترلاسه شي.

## د څارنې موخې

- باید مناسبې لارښوونې ترسره شي، څو د پام وړ موخه ترلاسه شي.
- د روانو فعالیتونو د ترسره کېدو لپاره باید مرسته وشي.
- باید ګټورې مشورې وړاندې شي.
- د مرستې او همکارۍ پر وخت باید د لوړو چارواکو له خوا تقویه شي.
- ستونزې باید درک او وپېژندل شي.
- د کارکوونکي نیمګړتیاوې باید په ګوته شي.
- د کاري کفایت کچې ته وده ورکړله شي.

ketabton.com - The Digital Library

- کاري پلان تشریح شي.
- له ټاکلي پلان سره سم باید دندې پر مخ ولاړې شي.

## څارونکی څوک دی؟

څارونکی هغه څوک دی، چې د مدیریت په منځنۍ کچه کې دنده ترسره کوي. څارونکی د یوه ملګري، مشاور، لارښود، جوتوونکی، ښوونکی او د چارو د سمبالوونکي په توګه چارې پر مخ وړي.

## د یو څارونکي د دندو پولې:

هـــر څارونکی دنده لري، څو له دریو ډلو خلکو سره کار وکړي: لومړی د خپل ترڅارنې لاندې کارګرانـــو سره، دویم د خپل کچې کارکوونکـــو سره، درېیم تر خپل کچې لوړو څارونکو سره، نو پر دې بنسټ، دی له دغو دریو ډلو کسانو سره باید په پوره هوښیارتوب او صمیمیت سره کار وکړي.

**یو ماهر څارونکی باید لاندې ټکي په پام کې ونیسي:**

- ستونزې تشخیص او په ګوته کړي.
- د حقایقو په ترلاسه کولو کې نوښت.
- په عادلانه توګه له خلکو سره خبرې اترې.
- هر هغه چاته د شخصیت منل، چې ترلاس لاندې یې کار کوي.
- د حقایقو سنجول او ژوره ارزونه.
- د کاري بدیلونو موندل.
- د پرېکړو ترسره کول او پلي کول یې.
- د چارو په ترسره کولو کې له انعطاف او نرمښت څخه کار اخیستل.
- په چارو کې موضوعي کړنلارې ترلاس لاندې نیول.
- له کاري محدودې بهر د تر څارنې لاندې کارکوونکو په اړه باید د معلوماتو د ترلاســه کولو هڅه و نه شي.
- د معلوماتو په ساتنه کې له بشپړ غور او دقت څخه کار اخیستل او له کاري اړتیا پرته باید افشا نه شي.
- له کارګرانو سره په چلند کې باید فردي توپیرونه په پام کې ونیول شي.

ketabton.com - The Digital Library

# د څلورم څپرکي لنډيز

دغه څپرکي لاندې محتويات په بر کې نيسي:

په دغه څپرکي کې د څارنې په پړاو کې د څارونکو د دندو برید او د څارنې بنې تشریح شوي؛ همدارنګه دغه موضوع هم جوته شوې، چې د څارنې متصدي (څارونکی) د خپل کار په تړاو څه دندې لري؟ همدا راز دغه موضوع ته هم کتنه شوي، چې د څارونکي د چارو اغېزمنتيا په څه کې نغښــتې ده. د دغه کتاب د اړوندو څپرکو د محتوياتو د لنډيز تر مطالعې وروســته به محصلين د تفتيش او کنټرولرانو د دندو په اړه د پام وړ معلومات ترلاســه او د ښــوونکو د ښو تجربو په پايله کې به موږ د هغوی د ظرفيت د لوړتيا شاهد واوسو.

دا هم بايد له پامه و نه غورځوو، چې دغه کتاب نه يوازې د محصلانو د ظرفيت د لوړتيا لپاره ګټــور دی، بلکــې د تفتيش او کنټرول نظام د نورو مينه والو لپاره يــې هم مطالعه اړين او ګټور ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- آيا څارنه د تفتيش د فعاليتونو يوه څانګه ده؟

۲- د تفتيش او کنټرول چارې څه وخت تر څارنې لاندې نيول کېږي؟

۳- له چارو څخه د څارنې موخه څه شی ده؟

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د بهرنیو منابعو مرسته

**ټولیزه موخه:**

په دغه څپرکي کې د هغو مرستو د تفتیش او کنټرول په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شوي، چې د بهرنیو منابعو له خوا د افغانستان د دولت په واک کې ورکول کېږي.

**د زده کړې موخې:** دزده کوونکي باید ددغه څپرکي په پای کې معلومات ترلاسه کړي چې:

- د تفتیش او کنټرول له ځانګې سره لېوالتیا.
- د ځارنې تفتیش په تړاو معلومات.
- د مرستو بنې او د پرمختیایي پروژو تحلیل.

### د بهرنیو مرستو تفتیش

د ۲۰۰۲ کال د مارچ میاشــتې له ۲۰ مې د ۲۰۰۲ د مي تر ۱۳ مې نېټې پورې، چې د ۱۳۸۱ کال د کب میاشتې له ۲۹ نېټې سره سمون لري، له افغانستان سره د بهرنیو منابعو د مرستو رپوټ.

د هغو منابعو د مرستو لنډیز، چې د نړیوالو مرستو د ۰۵۰۵۷۷ ګڼې صندوق له پیسو څخه د افغانستان د بیارغونې (ARTF) لپاره ورکړل شوي دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳۸۱ | ۱۳۸۱ | د ټولو مجموعه | مغایرت |
| واقعي | د ټولو مجموع | بودیجه | د ټولو مجموعه |
| ډالر | ډالر | ډالر | ډالر |
| امریکایي | امریکایي | امریکایي | امریکایي |

ketabton.com - The Digital Library

**۱ (b) کتګورۍ؛ د ثابتو شتمنیو لګښتونه:**

د ثابتو شتمنیو اصطلاح د هغو لګښتونو لپاره کارول کېږي، چې له محدودیت پرته د جنسونو لکــه: فرنیچــر موبل او د دفتر د نــورو تجهیزاتو د برابرولو لپاره، لکه څرنګه، چې د افغانســتان د اسلامي انتقالي دولت په بودیجه کې هر کال تخصیص ورته بېلېږي، ټاکل شوي وي.

**۲ کتګورۍ؛ د متخصصینو او د زده کړې خدمتونه:**

د هغو ښوونیزو پروګرامونو لګښتونه دي، چې د بهر مېشتو افغانانو له خوا چمتو کېږي.

د تکراري او ثابتو ټام شوو لګښتونو د معقولې کتګورۍ په پام کې نیولو سره، د ۲۰۰۳ کال د جــون په ۳۰ مه نېټه، د متخصصینو د خدمتونو لپــاره د ۲۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه او د ښــوونېزو چارو د سمبالښت په موخه د ۵ میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه د مرستې ټرونلیک په پام کې نیول شوی و.

## د مرستو بنې

د افغانســتان د مشروع دولت، منتخب ولســمشر او انتخابي پارلمان په شــتون سره، چې ټول د افغانستان د خلکو د ارادې ممثل دی، نړیواله ټولنې ته نه ښایي، چې خپلې مرستې د افغانستان دولت له کنټرول پرته په مســتقیمه توګه په مصرف ورســوي. د یادو بودیجو لګول د افغانســتان د مالیــې محــترم وزارت له لارې له دې سره سره، چې یــاد وزارت د ظرفیت له کموالي سره لاس او ګرېوان دی، ډېره اغېزناکه او ګټوره ټامېږي او د فساد د کچې په راټیټېدو کې رغنده رول لوبولای شي.

نړیوالې ټولنې ته نه ښایي، چې مخکې له مخکې ډیزاین شوې پروژې زموږ پر دولت باندې وتپي. اړینه ده، چې د هېواد په مالي او اداري سیستم کې د بنې او محتوا له پلوه سمونونه رامنځ ته شي.

همــدا راز د لوړ پوړو دولتــي چارواکو له خوا د قانون رعایتول او د مســوولیتونو درک کول، هغــه څه دي، چې د ادارې په اصلاح او په هېواد کې د فســاد د کچــې په راټیټېولو کې کارنده او کوټلې ونډه لري.

باید ووایو، چې په انګلیسي ژبه د ټرونونو عقدول، یو له هغه شــیانو څخه دي، چې په هېواد کې په بې ســاري توګه د فســاد د خپرېــدو لامل ګرځېدلی. دغه ټرونونــه زیاتر وختونه د محترم جمهور رییس د حکم له مخې د ادارو له خوا نه دي اجرا شوي؛ ځکه د مرستندویې ادارې له انده، د افغانستان په زیاترو ادارو کې د ظرفیت د لوړوالي مکانیزم ګټور او اغېزناک نه دی، نو له همدې امله، له ډېرو لګښتونو سره سره یې بیا هم لاسته راوړنې د قناعت وړ نه دي. پر دې بنسټ، اړینه ده، چې اړوندې ادارې په دې برخه کې کوټلي او اغېزناک ګامونه واخلي.

موږ وړاندیز کوو، چې د دولت ټول لوړ پوړې چارواکي دې په خپلو اړوندو ادارو او وزارتونو

ketabton.com - The Digital Library

کې په پراخه توګه د فســاد پر وړاندې مبارزه پیــل او ټولې ادارې او وزارتونه د کنټرول او تفتیش د ادارې د پلټنــو د پایلــو په تطبیق کې، چې تر ډېره بریده د لارښــوونې او توصیې بڼه لري او تر ډېره کچه له نیمګړتیاوو او سرغړونو څخه د مخنیوي او د دولت د حقوقو د تحصیل لامل ګرځي، جدي پاملرنه وکړي.

## د حسابدارۍ سیستمونه

- د ډبل انټري سیستم او د حسابدارۍ ساده سیستم.
- د حسابدارۍ نغدي او تعهدي (سوداګریز) سیستم.
- د مراجعو حسابونه ممکن د تعهدي حسابدارۍ د سیستم پر بنسټ وي، خو د دولتي ادارو حسابونه د نغدي حسابدارۍ د سیستم له مخې ترسره کېږي.

## د حسابدارۍ ډولونه

- مالي حسابداري.
- د ټمام شوې بیې حسابداري.
- د مدیریت حسابداري.

دولتي حســابداري، د ټمام شــوې بیې حسابدارۍ او د تعدیل شوې مالي حسابدارۍ له ترکیب شوی سیستم څخه عبارت دی.

## مالي صورتونه

**بیلانــس:**

هغه حســابي صورت دی، چې د یوه شرکت، کمپنۍ او یا تصدۍ مالي وضع (شــتمنۍ، پورونه او پانګه) ښیي.

د یوې موسسې د مالي وضعې صورت په معمول ډول « له بیلانس او د ګټې او زیان له صورت » څخه جوړېږي. یو بیلانس تل متوازن وي؛ موږ نه شــو کولای، داســې یو بیلانس جوړ کړو، چې متوازن نه وي. ټول بیلانسونه، د شتمنیو، پورونو او پانګې تر سرلیک لاندې یو له بله بیلېږي.

## شتمني

هغه څیزونه دي، چې پولي ارزښــت لري. په هر حالت کې، د شــتمنیو مجموع د پانګې جمع پورونو له مجموع سره مساوي دی.

ketabton.com - The Digital Library

### پورونه

هغه دي، چې نورو لکه «انفرادي اشخاصو، شرکتونو او یا موسسو » ته د ورکړې وړ وي .

### پانګه

د شتمنیو او پورونو د مجموع له توپیر څخه عبارت ده. یعنې:

پانګه = شتمنۍ_ پورونه.

### کــریــډټ تــور

کریډت تور له هغو انفرادي اشــخاصو، موسســو او تصدیو څخه عبارت دی، چې موسسه ترې پوره وړي وي.

### دبت تورونه

له هغو اشخاصو، موسسو یا تصدیو څخه عبارت دي، چې له موسسې څخه مقروض وي.

### لیــجــر

د حساب  یو ګروپ دی، چې په پاڼو کې یې حسابونه د کتاب یا د کارتونو په بڼه جمع کېږي.

### ټولیز لیجر

هغــه کتاب دی، چې  د فرعي لیجر سربېره د موسســې ټول حســابونه په بر کې نیسي.  دغه حسابونه د موسسې مالي وضعه جوتوي.

### فرعي لیجر

دغــه لیجر د «کتاب یــا کارتونو» په بڼه یو بېل لیجر دی، چې د ورته ډول حســابونو څخه د حساب یوه شمېره لري. دغه حسابونه د یو حساب په ځانګړي توګه د ټولیز لیجر په اړه په تفصیل سره معلومات وړاندې کوي. « د بېلګې په توګه: د ترلاســه کېدو وړ حســابونه، پیشــکي او داسې نور ».

### د حساب میزان

د حساب له هغه مبلغ څخه عبارت دی، چې ښیي، دغه مبلغ یو ډبت دی  او که کریډت.

### د حسابونو جدول

هغه جدول دی، چې له نمبرونو سره د ټولیز لیجر ټول حسابونه پکې په ترتیب سره  تنظمېږي.

ketabton.com - The Digital Library

### ژورنـــال

هغه ځانګړی کرښې لرونکی کتاب دی، چې پکې ټولې معاملې په ترتیب سره ثبتېږي.

### د اصلي یا لومړنی ثبت کتاب

ټول ژورنالونه هغه کتابونه دي، چې معاملې په سر کې پکې درجېږي.

### د یو حساب پرانیستنه

په لیجر کې د یو نوی حساب د جوړولو له عملیې څخه دی.

### لېږد (انتقال)

له ژورنال څخه لیجر ته د حسابونو د رسولو له عملیې څخه عبارت دی.

### د ګټې او زیان صورت

هغـه رپــوټ دی، چې په معمــول ډول په یوه ټاکلې موده کې د یوې موسســې خالص عاید، لګښت، ګټه یا زیان ښیي.

### د کار پاڼه

لــه هغه کالم لرونکې پاڼې څخه عبــارت ده، چې د ګټې، زیان او بیلانس صورت د ترتیبولو په موخه ټول معلومات پکې ځای پرځای کېږي.

### له یوه لوري بل لوري ته توازن

د ژورنال د کالمونو د توازن په اړه یوه کړنلاره ده. تر هغه وروسته، چې د ژورنا ل ټول کالمونه جمع کېږي، باید د ډبټ کالم د مبلغو مجموع له کریډټ سره مساوي وي.

### بانکي اصلاح

هغه کړنلاره ده، چې په بانک کې د هغو شــتمنیو د توپیر له عواملو څخه ډاډ ترلاســه کېږي، چې د یوې موسسې په عمومي لیجر کې د بانکي حساب په وسیله ښودل کېږي.

### د نغدي رسیداتو ژورنال

د ژورنال هغه ډول دی، چې په هغه کې د مشــتریانو ټولې پولي معاملې، چې بانک ته تحویل شوي، د ورکړې نېټې په ترتیب سره درجېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د نغدي ورکړې ژورنال

هغــه ژورنــال دی، چې په هغه کې ټول صادر شــوي چکونه د معاملــې د صادرېدو نېټې په ترتيب سره درجېږي.

## د تحويل خونې ژورنال

هغه ژورنال دی، چې پکې د تحويل خونې د غوښــتنې ټولې معاملې، د هغې نېټې په ترتيب سره، چې له تحويلخونې څخه سامان اخيستل کېږي، درجېږي.

## د مخکني لېږد ژورنال

هغــه کاملا لرونکی ژورنــال دی، چې په هغه کې د مخکني لېــږد د فورمو هغه ټولې معاملې ثبتېږي، چې د لېږد نېټې  په ترتيب سره، د پلاوي له خوا تصديقېږي.

## د رسيد او د متفرقه ورکړې ژورنال

هغه ژورنال دی، چې هغه ټولې پيســې چې د بانک حســاب ته راځي، او ټولې هغې ورکړې، چې د چک له مخې نه دي ترسره شــوي، د بېلګې په ډول « د کريډټونو د ليټراف په اړه د بانک خبرتياوې او داسې نور» د نېټې او لېږد په ترتيب سره پکې ثبتېږي.

## د حسابي معاملو د پراوونو تېرول

يو له هغو شــيانو څخه، چې د خدمت د ترسره کېدو په ډګر کې کاري روڼتيا تمثيلوي، په يوه ټاکلــې موده کې د خپلو اجرااتو د څرنګوالي په اړه د مســوولينو له خوا د دقيقو حســاب ورکولو صورت دی.

د حساب ورکولو په بهير کې د دقيقو شمېرنو او ارقامو وړاندې کول او د طرحه شويو پلانونو د نــه تطبيــق په صورت کې د موجهو دليلونو څرګندول، هغه څــه دي، چې کولای شي، د ادارو د تفتيش په برخه کې يوه ښه بېلګه او د کړنو د حساب ورکولو په بهير کې د ولس د قناعت لامل شي.

که چېرې رسمي ادارې و نه شي کړای او يا و نه غواړي، چې د خپلو عوايدو او لګښتونو په اړه دقيقې شــمېرنې وړاندې کړي، نو دا لړۍ له مســووليتونو څخه د مسوولينو د تېښتې په معنا ده، چې په خپله د حقايقو او واقعيتونو د پټولو صحنې نندارې ته ږدي.

محترمو وزيرانو او د دولتي ادارو مســتقلو رييســانو ولس ته د حکومت د حســاب ورکولو په بهير کې، د خپلو اړوندو ادارو د فعاليتونو رپوټ په اجمالي بڼه ولس ته وړاندې کړل، چې په دې

ketabton.com - The Digital Library

لړ کې د کنټرول او تفتیش اداري هم په دغه پروســه کې په برخه اخیســتنې سره، د هغو ترلاســه شویو پیسو کره شمېر، چې په دولتي ادارو کې د شته نیمګړتیاوو او نورو لاملونو له امله، د دولت خزانې ته نه وې انتقال شــوې، په ګوته کړې، خو د اړوندو ادارو مسوولینو، نه د حساب ورکولو د پروسې په بهیر کې او نه تر هغې وروسته د خپلو دغو نیمګړتیاوو دلیلونه ولس ته وړاندې کړل، چې اړوندې ادارې باید په دې تړاو خپل مسوولیتونه رفع کړي.

د کنټرول او تفتیش اداره د خپلو مطروحه پلانونو له مخې، د پولي سندونو یوه څېړونکې اداره ده. دغه اداره په دولتي ادارو کې د اشخاصو او افرادو له ناوړې ګټې اخیستنې او اختلاسونو څخه د مخنیــوي په خاطر، د تېرو کلونو په شــان ان تر هغو پــه دقیقه توګه پراخ پلانونه تر لاس لاندې لري، چې له هغو سره سم به په دې برخه کې ګامونه واخلي.

د کنټرول او تفتیش ادارې د تېر کال لاسته راوړنې ښیي، چې په دولتي ادارو کې د مسوولینو او کارکوونکو په وســیله لا هم اختلاســونه، ناوړې اخیســتنې او نورې بې غورۍ په ښــکاره توګه ترســترګو کېــږي، نو دغه اداره خپله دنده بولي، چې پــه دې اړه لاپرېکنده ګامونه واخلي او په دې توګــه د دولت لــه لمنې د ټولو منفي پدېدو مظاهر، ناوړې ګټې اخیســتنې او قانون ماتونې پاکې کړي او موجود سیستم له فساد څخه وژغوري؛ ځکه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هم نړیوالې ټولنې او هم ولس ته ژمن دی، چې اړوندې چارې په شفافه توګه ترسره او د عامه شتمنیو د ضیاع مخه ونیسي. پر دې بنسټ، د کنټرول او تفتیش اداره د نورو دولتي ادارو ترڅنګ، د دغې هیلې د پوره کېدو په موخه دنده لري، چې د دولتي ادارو د عوایدو او لګښــتونو صورت په عملي توګه تر خپلې څارنې لاندې ونیسي.

## د تفتیش کړنلارې

**۱- د تفتیش ډولونه:** د کورني او بهرني تفتیش ترمنځ اړیکې.

**۲- د ثبــت او ارزونې سیســتمونه:** معمول ســمبولونه، د ګرافیک چارتونــه، د کورني کنټرول (ICQS) پوښتن پاڼې او د لستونو چک کول.

**۳- دبررســۍ کړنلارې:** فزیکــي کتنې، مکرر اجــراات، د درېیم لورى تایید، ضمانت، مســتند شواهد، پېژندنه او غیرمعمول اقلام.

**۴- په تفتیش کې د بېلګې اخیستنې بنسټیزې کړنلارې:** د باور کچې، د ټاکنې کړنلارې (تصادفي شمېرې، واټنه ییزې بېلګې اخیستنې او طبقه بندۍ شوي بېلګې اخیستنې.

**۵- د تفتیش له پاڼو او دوسیو څخه کته اخیستنه.**

ketabton.com - The Digital Library

## یقین، باور او اعتبـــار

۱- مقنن او تفتیش شــوي اداري باید د تفتیش د لوړو موسســو پر اجرااتو باور او له عیب او بدګومانۍ څخه یې خالي او د درناوي په درلودلو سره ورباندې اعتماد ولري.

۲- مفتش باید داسې کړنې ترسره کړي، چې د همکارانو ترمنځ نېکې اړیکې رامنځ ته او هغوی د خپل مسلک پرمختیا او ودې ته وهڅوي. همکاري، ګډه هڅه او حرفوي ملاتړ د تفتیش مسلک بنسټیزه ایډیا او اړین کرکټر ګڼل کېږي.

- د تفتیش لوړو موسسو ته عامه درناوي او باور، د مفتشینو د تېرو او روانو ډله ییزو کارونو پایله ده. پر دې بنسټ، اړینه ده، چې مفتشین مناسب چلند ولري.

۳- مقنن، تفتیش شوې اداري او عامه خلک باید د تفتیش د لوړو موسسو د اجرااتو په ناپلیتوب او رښــتینولی باندې بشـــپړ ډاډه وي. د سند رعایت (د کړنو دستور) د مناسبو خدمتونو د وړاندې کولو چارې تضمینوي.

۴- اعتبـــار د ټولنې د ټولو ځانګو یوه بنســـټیزه اړتیا جوړوي. تـــر ټولو مهم اصل دا دی، چې د تفتیش ټول رپوټونه او نظریات په بشـــپړه توګه کـــره او موثق وي او د نظر خاوند درېیم لوري له خوا هم موثق او د منلو وړ وارزول شي.

۵- د تفتیـــش د لوړو موسســـو اجـــراات د اخلاقي بنســـټونو د رعایتولو په تـــړاو باید د قانون جوړونې او قضاوت د ازموېښت له ټولو پړاوونو څخه تېر شوي وي.

## رښتینولی

۱- رښتینولي د (کړنې دستور) بنسټیز ارزښت جوړوي. مفتشین پر دې مکلف دی، چې د څېړلو پـــه بهیر او تر رســـېدنې لاندې اداري لـــه همکارانو سره د اړیکو پر مهـــال، د کړنې چلند ټول لوړ معیارونه لکه (رښتینولي او د نیت خلوص ) په پام کې ونیسي او په دې موخه چې عامه باور ترلاسه شي، باید د مفتشینو کړنې له بدګومانۍ او عیبونو څخه خالي وي.

۲- رښـــتینولي لـــه دې اړخه، اټکل کېـــدای شي، چې له صداقـــت ډکه، عادلانـــه او معقوله ده. رښتینولي د مفتشینو لپاره دا اړتیا رامنځ ته کوي، چې په خپلو اجرااتو کې اخلاقي معیارونه رعایت، واقعیتونه، استقلالیت او مسلکي سټنډرډونه پلي، عامه ګټې په پام کې ونیسي او د دندې د ترسره کولو پر مهال له مطلق رښتینولۍ څخه کار واخلي او په خپل ذهن کې تل د عامه ګټو په پلویتوب پرېکړو ته لومړیتوب ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

## استقلال او واقع بینـــي

۱- تر پلټنې لاندې مرجع او له ذينفعو ډلو څخه مســتقل توب د مفتشــينو وجيبه ده او دغه امر، د دې غوښــتنه کوي، چې مفتش داسې کړنې ترسره کړي، چې استقلاليت يې تل د زياتېدو په حال وي او هېڅکله زيانمن نه شي.

۲- مفتشــين بايد هڅه وکړي، چې نه يوازې تر پلټنې ادارو او ذينفعو کســانو او ډلو له منفي اغېــزو څخه مســتقل او په امن وي، بلکې له مســئلو او پايلو سره په چلنــد کې هم واقعيتونه په کوټلي توگه په پام کې ونيسي.

۳- مفتشين بايد له هره پلوه خپلواک او ناپېيلي وي.

۴- د مفتشينو خپلواکي بايد په هېڅ حالت کې د شخصي او بهرنيو گټو په پام کې نيولو له اړخ زيانمنې نه شي. د بېلگې په توگه، مفتشين د فشار د واردولو او بېلابېلو تبعيضونو او امتياز ورکولو له لارې بايد په انتفاعي مسئلو کې له مداخلې څخه ډډه وکړي.

۵- حقايقو ته د رسېدو په موخه بايد مفتشين په بشپړه توگه خپل ناپېيلتوب وساتي؛ په ځانگړې توگه د رپوټونو د وړاندې کولو په چارو کې. د مفتشينو رپوټونه بايد سهي او د واقعيتونو پر بنسټ چمتو شــوي وي او راټول شــوي ســندونه او مدرکونه بايد د نړيوا ل تفتيش د لوړو سازمانونو له معيارونو او بنسټونو سره سم وي.

۶- مفتش بايد ترپلټنې لاندې او اړوندو ادارو له معلوماتو څخه په پوره بې پلوۍ سره گټه واخلي.

– مفتــش کولای شي، له ترپلټنــې لاندې ادارې پرته، له نــورو ادارو څخه هم اړين معلومات ترلاسه کړي، خو بايد په هېڅ صورت، د همداسې معلوماتو ترلاسه کېدنه، د تفتيش پايلې تر اغېزې لاندې راو نه وي.

## د پروژې مطـالعـه

د کافي معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه له پروژو او مراجعو څخه د پروژې د سندونو او پاڼو مطالبه اړين گڼل کېږي.

## د احتمالي گواښ تشخيص

خطر يا ريسک پر مرجع باندې د يوې پدېدې د منفي اغېزو له احتمال څخه عبارت دی.

## د تفتيش معيار

د تفتيش له معيارونو څخه د گټې اخيســتنې موخه دا ده، چې د تفتيش اجراات تقويت او د

ketabton.com - The Digital Library

تفتیش له پایلو څخه ډاډ ترلاسه شي. هر هېواد د تفتیش په برخه کې ځانګړي معیارونه لري، چې د تفتیش په بهیر کې ترې ګټه اخلي او دغه معیارونه د هېوادونو د تفتیش په قانون کې هم تصریح شــوی دی. سربېره پر دې، هغه هېوادونه، چې د تفتیش د نړیوال ســازمان ISOSAI INTOSAI غړي دي، د یاد سازمان د معیارونو پر رعایتولو هم مکلف دي.

**د نړیوال تفتیش معیارونه په څلورو برخو وېشل کېږي:**

۱- بنسټیز پرنسیپونه ( پلان جوړونه- اجراات – رپوټ ورکول)

۲- ټولیز معیارونه.

۳- ساحوي معیارونه.

۴- رپوټ ورکول.

که چېرې د انتوســای معیارونه د تفتیش ټولې اړتیاوې پوره نه کړي، نو په دغه حالت کې دې د شتو مقررو په رڼا کې د څېړنو په تړاو پرېکړه او قضاوت وشي.

**۱- د تفتیش مقدماتي پلان جوړونه او ارزونه.**

د تفتیش پلان لاندې مطالب په بر کې نیسي:

- د تفتیش موخه او د کار پولې.
- ترتفتیش لاندې مراجعو فعالیت او اړوند خطرونه.
- د تفتیش د ترسره کېدو لپاره د اړتیا وړ منابع.
- د پیلېدو او پای ته رسېدو نېټه.
- د مخکنیو تجربو په پام کې نیولو سره د معلوماتو برابرول.
- د تفتیش پایلې څه وخت او له چا سره باید شریکې شي.
- د ولایتونو په ګډون د تفتیش پروګرام.
- د کورني کنټرول د سیستم څېړل.

یاده څېړنه له اجرااتو او د موخو له ترلاســه کېدو څخه د ډاډ د حاصلېدو په موخه په لاندې برخو کې طرحه کېږي:

۱- د اجرااتو د اغېزمنتوب او ګټورتوب په موخه.

۲- د مالي او عملیاتي رپوټونو د کره والي په موخه.

۳- له نافذه قوانینو او مقررو سره سمون ورکول.

ketabton.com - The Digital Library

## تحليلي څېړنه (بررسی)

مفتش د مرستو د څېړلو د مخكنيو معلوماتو پر بنسټ، د تېر كا ل د مالي صورتونو او د تفتيش د رپوټونو په تړاو يوه تحليلي څېړنه ترسره كوي. دغه كار د مالي صورتونو د څېړلو په تړاو له مفتش سره د لازياتو معلوماتو په ترلاســه كولو كې مرســته كوي. په دې توګه، دوی كولای شي، غيرمتوقع توپيرونه او تېروتنې تشخيص كړي.

**- د محتوا (اصلي) ارزونه**

ياده ارزونه د معاملو تفتيش په بر كې نيسي، چې په قيدي او اختياري توګه انتخاب شوې ده.

قيدي انتخاب يا په تصادفي يا هم په قضاوتي بڼه ترسره كېږي.

د معاملې تفتيش يوازې د نړيوال بانک د مرستو په برخه كې د اجرا وړ وي.

**A- د مستقيمو وركړو تفتيش:**

مستقيمې وركړې د نړيوال بانک د معاملې لوري د حساب له صورت څخه، چې پولي معاملې دی، تر ارزونې لاندې نيول كېږي.

## د بازرسی بڼه

– د حامي او مصارفاتي سندونو په وسيله د وركړو غوښتنې.
– تړونونه او د اړتيا وړ نور سندونه، د مدركونو او جزيياتو د موندنې په موخه ارزول كېږي.

**B-د ټوليزو وركړو تفتيش:**

د ټوليزو وركړو څېړنه او پلټنه هم د نړيوال بانک د معاملې لوري د حســاب صورت له لارې صورت مومي.

– د اجرايي استازي د تړون په پرتله د وركړل شويو پيسو څېړل.
– د وركړې د غوښتنې څېړل.
– د AFMI له لارې د وركړو د غوښتنې څېړل.

**C- د ځانګړي حساب تفتيش:**

د هغو لګښــتونو وركړې، چې له ځانګړي حســاب څخه صورت موندلی، د ځانګړي مدركونو، د ۱٦- فورم، د D-I فورم د لګښــتونو ســندونو، د پروژې كوډ ګذاري شــوې پاڼې، تړونونو او نورو اړوندو سندونو په پرتله بايد مطالعه او پرې كتنه وشي.

**۱- د AFMIS په سيســتم كې د معاملو د صحي ثبت څېړل:** د وركړو د تفتيش او څېړلو په تړاو، مفتشــين مكلف دي، لكه څرنګه چې په تړون كې هم ترې يادونه شوې، چې ترڅېړنې لاندې

ketabton.com - The Digital Library

کال د ورکړو او د ترون تر پایه د نورو ورکړو د سندونو له سمې طبقه بندۍ (کتګوري) او تصنیف، همدارنګه د ټولې پیسې، تخصیص او بودیجې له همغږۍ څخه ډاډ ترلاسه کړي.

۲- **فزیکي بررسۍ او د تفتیش نورې کړنلارې:** د ترتفتیش لاندې مرجع له مالي او حسابي چارو څخه د ډاډ د ترلاسه کېدو په موخه، باید نورې څېړنې لکه د څارنې، بیا کتنې، بیا محاسبې او داسې نـــورې فزیکي څېړنې، چې د تفتیش جز ګڼل کېږي، ترسره شي. په دې برخه کې باید نغدي وجوه، د معاشونو نورم، شتمنۍ، اجناس، د کار پرمختګ، د مالونو د څارنې او ساتنې چارې او داسې نور موارد وڅېړل شي.

د پلټنې پورې د اړوندو سندونو او پاڼو وړاندې کول، چې په یوه فایل کې ترتیبېږي.

## سیاسي ناپېیلتوب

د رښـــتیني ناپېیلتوب ســـاتل، د تفتیش د لوړو موسســـو یو له ترټولو مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. پر دې بنسټ، مفتشین باید له سیاسي نفوذ څخه خپله خپلواکي وساتي او تل په ناپېیلې توګه چلند وکړي؛ ځکه چې د مفتشـــینو اجراات، تر ډېره کچه له قانون جوړوونکي چارواکو، اجراییوي ادارو او دولتي دفترونو سره نژدې تړاو لري.

باید ووایو، د ســـیاسي مســـوولیتونو منل او د سیاسي فعالیتونو ترسره کول، د تفتیش د مسلکي چارو اجراات تر خپلې اغېزې لاندې راولي او همدارنګه د ســـیاسي فعالیتونو او مســـوولیتونو منل کېدای شي، په دې برخه کې د مسلکي ټکرونو لامل وګرځي.

## د ګټو تضاد

که چېرې مفتشـــینو ته دنده وســـپارل شي، چې تر پلټنې لاندې یوې مرجع ته مسلکي خدمت یا مشورې ورکړي، باید دغه دندې ډېر په دقت سره سرته ورسېږي، څو اجرا یې د ګټو د ټکر لامل ونه ګرځي. په ځانګړې توګه مفتشین باید له دې څخه ځان ډاډه او باوري کړي، چې د ده مشورې او خدمتونه، د تفتیش د څېړلو پر مسوولیت او واک؛ د تفتیش پر منجمنټ او اداره باندې د منفي اغېزو لامل نه ګرځي.

مفتشـــین باید د ډالیو او بخششـــیو له ترلاســـه کولو څخه د ډډې کولو له لارې، چې د تفتیش استقلالیت او رښتینولۍ اغیزناکه کوي، د ګټو له هر راز ټکر څخه ځانونه وساتي.

همدا راز مفتشین باید د تفتیش شویو دفترونو له کارکوونکو او آمرانو سره له نژدې راشه درشه او له هغو نورو اړخونو څخه ډ ډه وکړي چې ممکن، د مفتشـــینو ځواک، وړتیا او اســـتقلالیت تر خپلې اغېزې لاندې راولي.

ketabton.com - The Digital Library

مفتشـــین باید د خپلو شـــخصي موخو او ګټو د ترلاســـه کېدو په برخه کې له خپل رسمي نفوذ او مقام څخه کار وانخلي او همدارنګه له هغو اړیکو څخه ډ ډه وکړي، چې شـــکونه، ګومانونه او تردیدونه زېږوي.

مفتشـــین باید له ترلاســـه شویو معلوماتو څخه د خپلو یا نورو شـــخصي ګټو د ترلاسه کېدو او تامین لپاره د یوې وسیلې په توګه کار وانخلي.

ترلاســـه شـــوي معلومات باید نورو ادارو او کسانو ته افشا نه شي او نورو ته د زیان رسولو او ځورولو وسیلې په توګه ترې کار و انه خیستل شي.

## تحلیلي څېړنه

۱- له ګډون کوونکو څخه ډېر لږ شمېر یې د پیرېدنې لپاره مساعد وو.

۲- د بیو د راټیټولو په موخه د ګډون کوونکو د شمېر لست کافي و.

۳- هغه څه چې د محرمیت غوښتنه کوي، باید د مرجع له لوري په پام کې ونیول شي.

۴- د هغو توکو په اړه، چې له هېواده بهر پیرېدل شوي، باید ډاډ ترلاسه شي.

۵- په هر تړون کې د پیسو اندازه له ۲۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو لږ یا مساوي وي.

۶- لږ ترلږه د پیرېدنې دري نرخپاڼې له دوو یا دریو هېوادونو څخه ترلاسه شوي وي.

۷- په نرخپاڼو کې غوښتنه وشي، چې د توکو کیفیت، نوعیت او نورې ځانګړنې باید  څرګندې شي.

۸- د پیرېدنې نرخپاڼې باید ارزول شـــوي وي او په دې برخه کې باید د پیرېدنې له تر ټولو ښه میتود څخه ګټه اخیستل شوي وي.

۹- د هغو توکو په اړه، چې د هېواد له دننه څخه پیرېدل کېږي، باید ډاډ ترلاسه شي، چې:

۱۰- په هر تړون کې د پیسو اندازه له ۲۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو سره مساوي او یا تر هغې لږه ده.

۱۱- لږترلږه باید دري نرخپاڼې له دریو مرجعو څخه ترلاسه شوی وي.

۱۲- د پیرېدنې نرخپاڼې باید ارزول شـــوي وي او دې په برخه کې باید د پیرېدنې له تر ټولو ښه میتود څخه ګټه اخیستل شوی وي.

۱۳- د هغو توکو په اړه، چې له نماینده ګیو یا د UN له مربوطاتو څخه پیرېدل شـــوي دي، باید ډاډ ترلاسه شي، چې:

۱۴- د توکـــو او خدمتونو د هر قلم لپاره د هر تړون د پیســـو اندازه باید تر ۱۰۰۰۰۰ لږه نه وي او یا ورسره مساوي وي.

ketabton.com - The Digital Library

۱۵- پــه مقدمــاتي توګه، د کليو د اوبو د برابرولو او روغتيايي چارو لپاره هم له دغه ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

۱۶- د هغو خدمتونو او توکو په برخه کې، چې له اعلان څخه پرته پيرېدل شوي، بايد داډ ترلاسه شي، چې:

۱۷- په هر تړون کې د پيســو اندازه تر ۵۰۰۰ امريکايي ډالرو او د همداســې تړونونو لپاره ټوله اندازه يې تر ۲۵۰۰۰۰ امريکايي ډالرو لږه وي.

۱۸- پيرېدل شوي توکي لاندې شيان په بر کې نيسي:

- کتابونه او مجلې.
- درسي توکي ( ويډيو او د تفتيش وسايل په بر کې نيسي).
- پرزې.
- د بعدي تعليمي مرکزونو د جوړېدو په موخه اجناس او خدمتونه ( چې په هغو کې له ليرې واټن څخه ښوونيزې چارې سمبالېږي).
- د افغانستان د انتقالي اداري د "Webpage" د جوړولو په موخه د اړتيا وړ اجناس او خدمتونه.

۱۹- ۱- د اړتيا وړ توکي يوازې له يوې مرجع څخه د ترلاسه کېدو وړ وي او که له زياتو.

۲۰- د اړتيا وړ توکي له موجود تړون سره سم پيرېدل شوي او کنه.

۲۱- مسووله قراردادي د فعاليت تر پړاوه د کار د ګرانتي په موخه، له يو ځانګړي چمتو کوونکي څخه د مهمو اقلامو د پېرېدنې غوښتونکي وي.

## د تفتيش کړنلارې

۱- په ټوليزه توګه، شــمېرې هغه مهال په ســمه بڼه څرګنديږي، چې د ســموالي لپاره يې نورې تطبيقي شمېرې موجودې وي، ترڅو ورسره پرتله شي. د بېلګې په توګه، د يوې بيې معقوليت هغه مهال تاييدېږي، چې له هغې بيې سره، چې د ورته توکو لپاره ورکړلې شــوې، پرتله شي؛ همدارنګه د اړوندو شــمېرو پرتلنه، د اقتصاد د متخصص لپاره د انفلاســيون کچې پــه څېر اغيزناک او ګټور معلومات برابروي.

۲- پــه تفتيش کې د اړوندو شــمېرو سيســتماټيکه پرتلنه او شــننه د تحليــلي ارزونې په نامه يادېــږي. يــاده عمليه له هغې کړنلارې څخــه عبارت دی، چې د تفتيش پــه بېلابېلو پړاوونو او د بېلابېلو موخو لپاره ترسره کېږي.

## د تفتيش د پلان جوړونې په پړاو کې تحليلي کړنلارې

۱- د پلان جوړونې په مرحله کې له تحليلي کړنلارې څخه موخه، په تفتيش کې د نويو کچو د

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونو مشخصول دي. مثلا د هغو کچو مشخصول، چې بودیجه په سمه توګه نه د اجرا شوې یا په بل اصطلاح، له هغې کړنلارې څخه عبارت دی، چې په وسیله یې کولی شو، هغه رسمې ساحې په ګوته کړو، چې د تفتیش په بهیر کې باید تر غور او کتنې لاندې ونیول شي.

۲- د بنســتیزې شننې هغه کړنلارې، چې د پلان جوړونې په مرحله کې کارول کېږي، په لاندې توګه دي:

– د نویو لګښــتونو د کچو د تشــخیص په موخه د تېر کال له تخصیص یا بودیجې سره د روان کال د بودیجې یا تخصیص پرتلنه؛ د هغه تعطیل شــویو لګښــتونو تشخیص، چې په روان کا ل کې باید د اجرا وړ و نه ګرځي.

– د اضافي لګښتونو او د بودیجې د تنظیم د ستونزو د تشخیص په موخه، له وجه تخصیص یا بودیجې سره د روان کال د لګښتونو پرتلنه.

– د کوم عمده کموالي یا زیاتوالي د جوتولو په موخه، چې که د اداري د فعالیتونو په کچه کې رامنځ ته شوی وي، د تېرکال له لګښتونو سره د روان کال د لګښتونو پرتلنه.

## د تفتیش د اجرایي پړاو تحلیلي کړنلارې

۱- د تفتیش په اجرایي پړاو کې کولی شــو، له بېلابېلو لارو څخه په ګټه اخیســتنې سره تحلیلي کړنلارې وکاروو. باید ووایو، چې له یادې عملیې څخه په مالي صورتونو کې د ځېنو ځانګړو شمېرو د ســموالي په تــړاو د مدرکونو او شــواهدو د برابرولو په موخه ګټه اخیســتل کېږي. دغه عملیه یوازې د ځېنو مشــخصو موضوعاتو په تړاو د تطبیق وړ وي. یعنې هغه مها ل، چې مفتش د هغو معلوماتو له مخې، چې د حســابي سیســتم خپلواکو سرچینو یې برابر کړي وکولی شي، چې په مالي صورتونــو کې د یوې شــمېرې د دقیق والی پــه اړه وړاندوینه وکړي، چې بایــد په کومه بڼه وي. ورپسې پیشبیني شوې شمېره له مالي صورتونو یا له هغې حقیقي شمېرې سره پرتله کړي، چې په مالي صورتونو کې انعکاس موندلی.

## د بېلګې په توګه

که مفتش د هغو مدرکونو او شــواهدو له مخې، چې یې له موثقو ریاستونو څخه ترلاسه کړي وي، دا معلومــه کــړي، چې په روان کال کې له یاد وزارت سره ۱۰۰۰ مرســتې شــوي، چې د هرې مرســتې بیې ۱۰۰ ډالره دي، نو په دې صورت کې مفتش کولی شي، چې د ټولو مرســتو مجموعي پیســې، چــې ۱۰۰۰۰۰ امریکایي ډالره کېــږي، وړاندوینه وکړي. په هغه صــورت کې، چې د یادو مرســتو شمېرې په مالي صورتونو کې د ۱۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو څرګندوی وي، مفتش کولی شوي،

ketabton.com - The Digital Library

دا پایلـه واخلي، هغه مدرکونه چې دی یـې د تحلیلي کړنلارو له لارې لاس ته راوړي، د تفتیش پر ډېرو فرعي موخو باندې د لاسبرى کېدو ډاډ حاصلوي، خو باید څرګنده کړو، چې د تفتیش د نورو فرعـي موخو په تړاو لکه د قوانینو او مقررو د رعایتولو په اړه ډاډ نه ترلاسـه کېږي. یعنې د دغه تحلیلي تجربې یا وړاندوینې ماهیت په دې اړه، چې آیا مرسـتې له قانون سره سـم اجرا شـوي او کنه، هېڅ راز ډاډ او اطمینان نه شي وړاندې کولی.

۱- له تحلیلي کړنلارو څخه کولی شـو، چې د معاشـونو، رسیداتو، اجناسو، خدماتو او د مرستو په تفتیش کې کار واخلو.

۲- تحلیلي کړنلارې، د هغو مفصلو تجربو په کموالي کې ډېره مرسـته کوي، چې باید په تفتیش کې د اجرا وړ وګرځي، خو دا باید له پامه و نه غورځوو، که چېرې مفتشین له تحلیلي کړنلارو څخه په ګټه اخیسـتنې سره د اجناسـو په اړه د مدرکونو او شواهدو د ترلاسه کېدو غوښتونکي وي، نو باید له لاندې لارښوونو څخه ګټه واخیستل شي:

– تحلیـلي تجربـې، د تحلیلي کړنلارو یوازینۍ طریقه ده، چې کېـدای شي، (د واقعي ماهیت لرونکـي) مدرک په توګه ترې ګټه واخلو. پر دې بنسـټ، مفتش بایـد ارزونه وکړي، چې ایا هغه شمېرې، چې دی یې چک کوي، کېدای شي، د وړاندوینې وړ وي او کنه.

– تحلیلي یا د وړاندوینې وړ تجربې، یوازې هغه مهال د اجرا وړ وي، چې له حسـابي سیستم څخه بېل، د پام وړ او قانع کوونکي معلومات په لاس کې وي. د بېلګې په توګه، د معاشونو په اړه یوازې د کارکوونکو له ریاست څخه معلومات ترلاسه کولی شو.

د مساعدتونو د بیارغونې په اړه د تفتیش د نظر څرګندونې

۱- د تفتیـش د کړنـې اصـلي او عمده موخه دا ده، څو پر بنسـټ یې وکولی شـو، د کلنۍ حسابونو په اړه خپل نظر څرګند کړو.

۲- مخکې پر دې ورسـېدو، چې د نظر څرګندول د تفتیش د رپوټ په کومه برخه کې مناسب او معقول برېښي، خو دې ته هم باید پاملرنه وکړو، چې باید څرنګه تصمیم ونیسو، چې د تفتیش د نظر څرګندونې څه ډول وي.

۳- د نظر د څرګندولو په تړاو، د یو لړ پوښـتنو او ځوابونو په وړاندې کولو سره تصمیم نیول کېږي، چې دغه پوښتنې د نظر څرګندونې ته د رسېدو لپاره په دغو موادو کې وي.

۴- د هغو کسانو لپاره مو، چې د دغه دیاګرام په تړاو ستونزې لري، د دغو معلوماتو یو مرتب متن چمتو کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## ممکنه دلیلونه یا د تفتیش هنرونه

پــه پورتنــي تعریف کې لیدل کېږي، چې (کنټرول) په خپل ذات کې له ټولو اړخونو او اجزاوو سره د کتنــې ټــول پړاوونه په بر کې نیسي. د همدغه ماهیت په لرلو سره، د کنټرول ادارې د خپلو ندو اړخونه نور هم پراخوي.

د دغې ادارې حســابي تفتیش له نړیوالو بنسټونو او معیارونو سره سم او د ستونزو له پلوه په درېو کچو کې پر مخ وړل کېږي:

- لومړۍ کچه: تفتیش د قوانینو، مقررو، فرمانونو، مصوبو او د تفتیش د داسې نورو سندونو د رعایتولو له کتنې څخه عبارت دی، چې د تفتیش په دې کچه کې، کتنه لاندې موارد په بر کې نیسي:

۱- آیا په مرجع کې مالي فعالیتونه په اصولي توګه پلي شوی او کنه؟

۲- آیا د ترتفتیش لاندې ادارې مالي رپوټونه په مطلوب او موثقه توګه چمتو شوي او کنه؟

۳- آیا تر تفتیش لاندې مرجع په خپلو کړنو او اجرااتو کې له قانون سره سم کړنې ترسره کړي او کنه؟

د تفتیــش پــه دغه کچه کې زموږ موخه دا ده، ترڅو دا خــبره جوته شي، چې ایا د ادارې مالي صورت، د مالي وضعیت او د مالي اجرااتو پایله په مطلوبه او ســمه توګه، منعکس کړي او له بلې خوا، ایا منل شوي حسابي ټولیز پرنسیپونه، چې یې تطبیق د تېرو کلونو له اجرااتو سره سم وي، په ښه توګه ترسره شوي او کنه؟

بالاخــره د تفتیش له دغې کچې څخه موخه دا ده، چې دې ته ورســېږو، ایا د پام وړ اداره په خپلو مالي اجرااتو کې قوانین، مقررې او کړنلارې رعایت کړي او کنه؟

**- د تفتیش دویمه کچه: د معقولیت او اقتصادي توب کچه**

د معقولیــت او اقتصــادي توب له پلــوه تفتیش دا دی، ترڅو پر دې پوه شــو، چې ایا اړونده اداره، له خپلو منابعو، لکه انساني ځواک، ماشین الاتو، نغدي او جنسي شتمنیو او داسې نورو څخه پــه موثــره او اقتصادي توګه ګټه پورته کړې او که نــه. د تفتیش دغه کچه، د موجودو نیمګړتیاوو پــه ګــډون، د ادارې د غیراقتصادي اجرااتو نااغېزمنتوب، د ادارې د اړتیــا وړ معلوماتو د برابرولو سیســتم، د غیرمنقولو ملکیتونو له ګټې اخیســتنې څخه اداري او جنسي کړنلارې او داسې نور په بر کې نیسي.

د دغې کچې تفتیش موخه دا ده، څو هغه لارې وپلټلی شي، چې په اجرااتو کې د ښه والي او په لګښتونو او تمام شوې بیې کې د ټیټوالی لامل ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

**په لنډه توګه له اقتصادي پلوه تفتيش لاندې ټکي تر ارزونې لاندې نيسي:**

– د مناسبو بيو او ترسره شويو لګښتونو په پام کې نيولو سره، دچمنوشويو جنسونو او خدمتونو لپاره د اړتيا شتوالی.

– د موجودو منابعو او نغدي او جنسي شتمنيو د ساتنې لپاره د کافي تدبيرونو شتوالي.

– له شتمنيو څخه معقوله او مناسبه ګټه اخيستنه.

– د خرڅ شويو مالونو او جنسونو او يا ترسره شويو خدمتونو په بدل کې د کافي عوايدو ترلاسه کول؛ په لنډه توګه، مفتيشـــن د څېړلو په دې برخه کې مکلفيت لري، څو د ادارې مالي، حســابي او اقتصادي فعاليتونه په تحليلي بڼه د معقوليت او اقتصادي توب له پلوه وڅېړي او وارزوي.

**- د تفتيش درېيمه کچه: د اغېزمنتوب او د موخو د تطبيق کچه:**

د تفتيش دغه کچه له زيات ارزښت څخه برخمن دی او د فعاليتونو او اجرااتو له قانونيت، معقوليت او اقتصــادي تــوب څخه د ډاډ تر حاصلېدو وروســته، بايد وارزول شي. د ارزونـــې په دغه کچه کې، ليدل کېږي، چې ايا د پرګروامونو د موخو په ترلاسه کولو کې له ښو لارو چارو څخه ګټه اخيستل شوې او کنه؟

په ټوليزه توګه تفتيش په دغه کچه کې په دې معنا ده، چې په وسيله يې مورږ دې ملې ته رسو، چې آيا د چارو مطلوبې پايلې ترلاسه شوي  او کنه؟

آيا هغه موخې، چې د واک لرونکو چارواکو له خوا مشخص او ټاکل شوي، ترلاسه شوي او کنه؟

آيا اداره هغه نورې لارې په پام کې نيولي او کنه، چې په وســيله يې کولی شــوای، په لږ وخت مطلوبو پايلو ته ورسېږي؟

ketabton.com - The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډيز

دغــه څپرکي لانــدې محتويات په بر کې نيسي: هغه ټکي، چــې د کورنيو او بهرنيو ارګانونو د کاري بهير په تفتيش او کنټرول کې کره ونډه لري. په ځانګړې توګه، د تفتيش او کنټرول د کاري بهير د زده کړې لپاره د (انتوســای) نړيوال تفتيش، تر بحث لاندې نيول شوي، ترڅو محصلين هم وکولی شي، د خپلو درسونو په جريان کې له دغو مهارتونو څخه پوره ګټه واخلي.

همدارنګه د بهرنيو مرســتو او کورنيو مرســتو بنه او د دې ترڅنګ د حســابدارۍ سيستم، د تفتيش کړنلارې، تحليلي څېړنه، د نړيوالو مرستو صندوق، له ماليې وزارت څخه د معلوماتو ترلاسه کول، د پروژې څېړل او د افغانســتان د پرمختيايي پروژو مرســتې د دغــه څپرکي نور موضوعات جوړوي.

بايــد ووايو، چې د دغــه څپرکي د موادو د برابرولو لپاره د (انتوســای) له تفتيش، پرمختياوو، توضيحاتو څخه ګټه اخيســتل شــوې، چې له شــک پرته د هغو لوســتونکو او کسانو لپاره، چې د تفتيش او کنټرول په برخه کې کار کوي هم مطالعه يې ډېره ګټوره او اړينه ګڼل کېږي.

**د څپرکــي محتــوا:** په ټوليــزه توګه د دغه څپرکي د مــوادو په برابرولو کې، چې اوســمهال د لوســتونکو په ځانګړې توګه د محصلينو د مطالعــې لپاره وړاندې کېږي، له دغو منابعو څخه ګټه اخيستل شوې دي:

۱- د ځېنو پوهانو له کتابونو څخه.

۲- له انټرنټي سايټونو څخه.

۳- د هېواد له داخلي سيمينارونو څخه.

۴- له کنفرانسونو څخه .

۵- له بهرنيو سيمينارونو څخه .

ketabton.com - The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې

۱- د بهرنیو مرستو د تفتیش په اړه خپل معلومات بیان کړئ؟

۲- د مرستو د تمویلوونکو نومونه واخلئ؟

۳- د مرستو بنې تشریح کړئ؟

۴- د حسابدارۍ او مالي صورتونو سیستمونه تعریف کړئ؟

۵- د حسابي معاملو د پراوونو تېرول تشریح کړئ؟

۶- اعتماد و اعتبار تشریح کړئ؟

۷- رښتینولۍ څه شي دی؟

۸- استقلال او واقع بینۍ تشریح کړئ؟

۹- سیاسي ناپېیلتوب تشریح کړئ؟

۱۰- د داخلي کنټرول د سیسټم څېړنه توضیح کړئ؟

۱۱- د افغانستان د بیارغونې لپاره د مرستو نړیوال صندوق تشریح کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د ذخیرو تفتیش

## Audit stock

**ټولیزه موخه:**

د ذخایرو کنټرول د موجوده ذخایرو په پام کې نیولو سره لږترلږه باید په کال کې یو ځلی د کنټرول او تفتیش د مسوولینو له خوا ترسره شي.

**د زده کړې موخې:** زده کونکي د دې څپرکي په پای کې باید وپوهیږي چې:

- ذخایر څه شی دي او ولې ترې ساتنه کېږي؟
- ذخایر په کال کې څوځلې باید وارزول شي؟
- د کال په کومو وختونو کې باید موجودی ترسره شي؟
- وروستنی تفتیش څرنګه کېږي ده؟
- څرنګه مجلس ته رپوټ وړاندې کېږي؟

دا خبره باید په پام کې ونیســو، چې ذخایر (stock) ځینې وختونه د موجودۍ (inventory) په نامه هم یادېږي. هغه موضوعات، چې مونږ په دغه څپرکي یې تر بحث لاندې نیسو، په لاندې توګه دي؟

- له ذخایرو سره اشنا کېدل.
- د ذخایرو موجودیت.
- بیه.

ketabton.com - The Digital Library

د اجراييوي معيارونو درک او پېژندنه

د ۱۷,۲ عناصر

– مفتــش بايدخپلې تجربې له هغه ځه سره ســمې ترسره کــړي، چې د تفتيش په پلان کې په ګوته شوې دی. د تجربې پايلې په سمه توګه ثبت کړي او ترې معتبرې پايلې راوباسي.

– بايد د شتمنيو او پورونو موجوديت، بشپړوالی، مالکيت، بيه اېښودنه او نور اړوند توضيحات په سمه توګه تثبيت کړي او د خپلو پايلو د تاييد لپاره مناسب مدرکونه راټول کړي.

– ټول هغه موضوعات، چې د غيرمعمول ماهيت لرونکي وي، په ګوته او ژرترژره يې د تفتيش سرپرست ته راجع کړي.

– عمده او ارزښــتناکې تېروتنې او د يوښــه تفتيش له معيارونو سره په پرتلنه نيمګړتياوې او تفاوتونه په ګوته او ثبت او د تفتيش سرپرست ته يې رپوټ وړاندې کړي.

## د ذخيرو پېژندنه Introduction To Stock

ذخاير کولی شي، هغه بېلانس وي، چې مفتشين د ستونزو په ګاللو سره ترې تفتيش کوي.

**لومړی فعاليت:** آيا تاســې کولی شــئ، دې ټکي ته ورســېږئ، چې ولې د ذخايرو تفتيش د مفتشينو لپاره ستونزمن دی؟

د پورتنې پوښــتنې په تړاو بېلابېل دليلونه. د ذخايرو پای په دواړو رپوټونو کې – يعنې هم په بيلانس شــيت او هم د ګټې او زيان په رپوټ کې جوته شوې او ګټې تر خپلې اغېزې لاندې راولي او ځينــې وختونه دغه مســله د رپوټ د دواړو پورتنيو ډولونو لپاره د ارزښــت وړ وي. د ذخايرو سربېره د حسابدارۍ ځينې سوابق هم معمولي نه وي او په معموله توګه د مالي کال په پای کې محاسبه کېږي او له يوه ژورنال (Wachez) څخه په ګټه اخيستنې سره، د ټوليز مالي رپوټ سربېره وړانــدې کېږي. دا په دې معنــا ده، چې د ذخايرو تېروتنې (لکه د نورو قضاياوو په څېر) هېڅکله د نورو تجربو په وسيله نه جوتېږي.

## د چارو او له ذخيرو څخه د ساتنې تفتيش

د چارو او له ذخيرو څخه د ساتنې تفتيش په لاندې موردونو کې د غور او څېړنې وړ وي:

۱- له ذخيرو څخه د ســاتنې چارې مســووليت د يوې ټاکلې مودې لپاره د يو ځانګړي رســمي کارکوونکــي پر غاړه وي. پر دې بنســټ، د احتمالي زيانونو، غلاوو او داســې نورو... پر وړاندې د ذخيرو د ساتنې په موخه، آيا له ذخيرو څخه په منظمه توګه فزيکي پلټنه ترسره کېږي؟

ketabton.com - The Digital Library

۲- مغایرت: له واقعي بیلانس سره د جمع او خرڅ حســاب په دفتر کې د درج شــوی بیلانس د مغایرت په صورت کې، آیا دغه دوه بیلانسونه په یوه وخت کې سره تطبیقېږي؟

یعنې هغه ټول جنسونه، چې تحویلخونې ته سپارل کېږي، باید په یوه دفتر کې ثبت شي او بیا وروسته د سپارښتونو او غوښتنلیکونو پر بنسټ ووېشل شي، د جنسونو د ورود او خروج بیلانسونو ترمنځ د توپیرونو له رامنځ ته کېدو څخه د مخنیوي په موخه، د چارو مســوولین په دې برخه کې باید اړین تطبیقات ترسره کړي. د زیانونو، کمیو د بوتولو او د مســوولیت د تثبیت په موخه باید د ذخیرو د فزیکي ارزونې د رپوټ په برخه کې مناسب او اغېزمن کاري اقدام ترسره شوی وي.

۳- آیا د هغو جنســونو له وېش څخه د ناوړې ګټې اخیســتنې د مخنیوي لپاره اړین احتیاطي ګامونه اخیستل کوي، چې د کار د پرمخ بیولو په موخه قراردادیانو ته ورکول کېږي، اړین احتیاطي ګامونه اخیستل شوي؟

۴- آیا د ذخیرو له تخریب او زړښت څخه د ساتنې په موخه اړینې اسانتیاوې او احتیاطي کړنې په پام کې نیول شوي وي؟

۵- په دې برخه کې، چې د ذخیرې اضافي (تر اړتیا زیات) توکي، د ګټې اخیستنې په موخه نورو چارو، څانګو او ادارو ته ولېږدول شي، کومې هڅې او کوښښونه صورت موندلی؟

۶- آیا د دلیلونو په څرګندولو سره واک لرونکو مرجعو ته د رســېدنې په موخه د ناکارو اضافي ذخیرو په اړه رپوټ لېږل شوی؟

۷- تر اړتیا زیاتو ذخیرو په اړه باید ټول موضوعات په څو کاپیو کې چمتو او واک لرونکې مرجع یې باید منظور او د ترلاسه کوونکوله خوا تصدیق شوی وي، چې ایا دوی یې ترلاسه کړي او کنه؟

۸- د ذخیرو د ســاتنې کارکوونکي د واک لرونکو مراجعو له خوا له صادر شــویو لارښوونو سره سم باید تضمیني موارد برابر کړي (یعنې ضمانتونه وړاندې شوي او کنه).

**یادښت:** که چېرې د ځېنو لاملونو لکه د اجناسو د مرستو د ترلاسه کولو له امله، د ورته اجناسو کچــه پــه ټاکلې مــوده کې په یوه اداره کې زیاتــه شي، د توکو په وېش کې بایــد له معمول او له مخکني ټاکل شوي حد څخه تیرۀ و نه شي.

## د څپرکي بیا کتنه Chapter Overview

— د ذخیرو د تفتیش چارې ستونزمنې برېښي، ځکه په ټولیزه توګه ارزښت لرونکی دی، خو په عین حال کې، د کوچنیو توکو له زیات شمېر څخه جوړ وي.

— سربېــره پر دې په ذخیرو کې د حســابدارۍ پیچلتیاوې د ذخیــرو د تفتیش چارې نورې هم ستونزمنوي.

ketabton.com - The Digital Library

– هغه کلیدي ټکي چې باید تر ازموینې لاندې ونیول شي، د ذخیرو شــتوالی، بشپړوالی او بیه اېښودنه ده.

– هغــه عمده څارنــې، چې د ذخیرو په تفتیش کــې باید په پام کې ونیــول شي، د ذخیرو د شمېرلو څارنه ده، څو شتوالی یې کره او ثابت کړي.

– مفتش باید د ذخیرو په شــمېرلو کې حاضر وي، څو د ذخیرو د شــتوالي په اړه بشپړ او کافي معلومات ترلاسه کړي.

– مفتش باید د ذخیرو د موجودۍ په اړه لارښوونې ترلاسه او ځان ډاډمن کړي، چې هغوی په داسې بڼه شمېرل کېږي، چې کولی شي، د یوې اغېزناکې شمېرنې تضمین وړاندې کړي.

– مفتش باید د ذخیرو په موجودۍ کې حاضر او ځان پر دې ډاډمن کړي، چې موکل کارکوونکي د ذخیرو د شمېرنې له لارښوونو څخه په سمه توګه پیروي کوي.

– او همدا راز مفتش باید د شــمېرنې تجربه عملي کړي، څو وڅېړي، چې آیا شــمېرنه سمه او کافي ده او کنه؟

– حاضر مفتش، باید د شرکت د ذخیرو تر موجودۍ وړاندې د وروســتیو وارد شــویو او صادر شویو اجناسو تفصیلات ترلاسه کړي.

– د وروســتني تفتیش پر مهال، مفتش بایــد د ذخیرو د موجودۍ تجربې تعقیب کړي او ډاډ ترلاســه کړي، چې آیا جوت شــوي اجناس د ذخیرو د حســاب په صورت (stick sheet) کې ثبت شوې او کنه؟

– هغــوی باید په پیرودلو او پلورلوکې د ذخیرو د انقطاع معلومات وســپړي، څو ډاډمن شي، چې آیا انقطاع په سمه توګه ثبت شوی او کنه؟

– هغوی همدا راز پر لګښتونو او په ځینو حالاتو کې د نغد کېدو وړ خالص ارزښت باندې په تمرکز کولو سره باید د ذخیرو قیمت ګذارۍ وازمویي.

## د ذخیرو شتوالي (موجودیت) Exitence of stock

بایــد پــه یاد ولرو، چې د شرکت مدیران په مالي رپوټونو کې د ذخیرو د اندازې د شــاملولو په برخه کې مســوولیت لري، څو پر دې پوه شي، چې د پام وړ شرکت د مالي کال په پای کې څومره ذخیرې لري. مفتشین مسوولیت لري، چې دغه مسئله وارزوي، چې آیا د مالي کال د پای په رپوټ کې ښودل شوي مبلغونه سم دي او کنه؟

د شرکــت مدیــران په معمــول ډول د مالي کال په پای کې یوه موجــودي ( چې د موجودیو د

ketabton.com - The Digital Library

شمېرلو په نامه هم يادېږي) ترسره کوي، څو پر بنسټ يې د ذخيرو د شتوالي کچه وټاکي.

د مالي کال په پای کې د لاندې موردونو په تړاو شمېرنه ترسره کېږي:

**الف:** که چېرې ممکن نه وي، چې د ذ خيرو د شـــمېرلو لپاره د کارخانې توليدي چارې ودروو، نو پرېکړه دې وشي، چې د ذخيرو د شـــمېرلو چارې په يو وخت کې ترسره شي ( د بېلګې په توګه د اونۍ د رخصتيو په ورځو کې). که موضوع همداســـې وي، نو د شرکت مدير د ذخيرو د شمېرلو پـــه نېټـــه کې د ذخيرو مقدار تثبيتوي او بيا وروســـته د موجودو مدرکونو لـــه مخې، د کارخانې د خرڅلاوو، پيرودلو او فعاليت تعديل تنظيموي.

په دغه حالت کې، د ذخيرو د محاسبې د پايلو اعتبار د لاندې لاملونو له امله اغيزناک کېدای شي:

۱- د ذخيرو د موجودۍ او د مالي کارل د پای ترمنځ مهالنی واټن.

۲- د سوداګريو د داخلي کنټرولونو د سيستم اغېزمنتوب.

۳- د موجودۍ او مالي کال د پای ترمنځ په مهالنی واټن کې د ذخيرو سوابق او نورې اړوندې پېښې.

**ب:** شرکت د کال په بهير کې د دوامدارې موجودۍ يو سيستم ترسره کوي او هر وخت کولی شي، چې تاسې ته ووايي، چې په ګودام کې څومره ذخيرې موجودې دي. که موضوع همداسې وي، نو شرکت لږترلږه په کال کې يو ځلي د ذخيرو شمېرنه ترسره کړي.

## د ذخيرو پرې کېدل (انـقـطـاع) Cut of stock

دا چې د ذخيرو پرې کېدنه (انقطاع) څه وخت بحراني کېږي، دا مســـئله د توليداتو د پړاو په څرنګـــوالي پـــورې تړلې ده، خو بايد يادونه وکړو، څلور مقطع شـــته، چې پـــه هغو کې پرې کېدنه (انقطاع) ډېر مهم وي:

- هغه مهال، چې خام مواد د شرکت له خوا ترلاسه کېږي.
- هغه مهال، چې خام مواد له زيرمې څخه د توليداتو څانګې ته لېږدول کېږي.
- هغه مهال، چې د کار په بهير کې بشپړ شويو اجناسو ته ورکول کېږي.
- هغه مهال، چې بشپړ شوي اجناس مشتريانو ته لېږل کېږي.

## پرې کېدنه (انقطاع) څرنګه عمل کوي؟ How it works

کليدي موضوع دا ده، چې شرکت بايد شـــتمنۍ دوه ځلي (تکراري) و نه شـــمېري او پورونه په سمه توګه ثبت کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د بېلګې په توګه: که شرکت اجناس پرته له دې، چې د ذخیرو له سوابقو څخه یې حذف کړي، اخیستونکو ته وړاندې او خپلې خرڅلاوې ثبت کړي، شتمنۍ بیا شمېرل کېږي (د ذخیرو په بڼه او د پور په ډول)، دا په دې معنا ده، چې له ګټې څخه تر هغه څه زیات رپوټ ورکول کېږي، چې په واقعي توګه ده، ( ځکه: په دې ځای کې هم خرڅلاو او هم د دوره یي پای ذخیرې شمېرل کېږي).

د مثال په ډول: که کوم شرکت، له پلورونکي څخه یو شمېر اجناس وپیري او په ذخیرو کې یې وشمېري، خو پیرېدنې ثبت نه کړي، په دې صورت کې، پورونه نه تثبیتېږي (داسې چې شتمنۍ په ذخیرو کې په پام کې نیول کېږي، خو طلبکاران له پامه غورځي) او ګټې یو وار بیا تر واقعي کچې یې زیات رپوټ ورکول کېږي (ځکه چې دوره یي بسـکتنې ذخیرې لوړېږي، په داسې حال کې چې په پیرېدنو کې هېڅ راز تغییر په پام کې نه دی نیول شوی.)

## د موجودۍ پرمهال At the stock take

دا بایـد لـه پامه و نه غورځـوو، چې مفتش باید د موجودۍ پر مهـال، د ذخیرو پر بهیر او د ذخیرو د شمېرلو په موده کې د هغو ټولو توکو پر سوابقو کنټرول مشاهده کړې وي، چې ځایونو یې تغییر موندلی. همدارنګه مفتش باید شرکت ته د ټولو وروسـتنیو وارد شویو او له شرکت څخه د بهر شویو توکو تفصیلات ترلاسه کړې وي.

– مفتشین باید د ذخیرو په شمېرلو پورې تړلي کلیدي لاملونه (دا موضوع جوته کړي، چې په شرکت کې کوم توکي لوړې بیې لري؟) وڅېړي او په ګوته کړي.

– مفتشـین باید د شرکت د ذخیرو د شمېرنې لارښوونې تر نظر تېر ې کړي، څو جوته شي، آیا د پام وړ لارښـووني شبېي، چې کنټرولونه کافي دي ترڅو په پایله کې ډاډمن شي، چې آیا ذخیرې په سمه توګه شمېرل شوي او کنه؟

– مفتشین هغه کړنلارې، چې باید پلي شي، پلانیزه کړي.

– له اړوند کارپوه څخه د مرستې اړتیا وڅېړي او د اړتیا په صورت کې یې ورسره قرار داد وکړي.

## د ذخیرو د شمېرنې په تړاو کنټرول Control over stock count

د یــو شرکــت اداره باید پر دې ډاډه شي، چې د ذخیرو د شــمېرلو پر بهیر کافي څارنه واکمنه ده؛ یعنې په خپله د ذخیرو د شمېرلو او د شمېرلو په پاڼو کې یې د ثبتولو پر بهیر کافي څارنه موجوده وي.

**الــف – ســازمان Organization :** پخــواني کارکوونکي، چې په معمــول ډول له ذخیرو سره سروکار نه لري، باید د شمېرنې د بهیر سرپرستي وکړي؛ ذخیرې باید ترتیب، په نښه او بیا وروسته د شمېرونکو کارکوونکو په واک کې ورکړل شي. همدارنګه د شمېرنې په بهیر کې باید د تولیداتو

ketabton.com - The Digital Library

کچه محدوده او د شمېرنې په بهیر کې هېڅ راز راکړه ورکړه ترسره نه شي؛ مصدومې، زیانمنې شوې او یا د درېیم لوري ذخیرې باید قرنطین او په مستقله توګه تر بیا کتنې لاندې ونیول شي.

ب – شمېرل **Counting :** شمېرل باید په سیستماتیکه توګه ترسره شي، څو وکولی شي، د ټولو ذخیرو د شـــمېرلو تضمین وړاندې کړي. شمېروونکي باید په غبرګه توګه کار وکړي، یوې وشمېري او بل یې چک کړي.

ج – ثبتول **Recording:** د ذخیرې پاڼې باید په پرله پسې توګه شماره ګذاري شي، څو دا ډاډ ترلاسه شي، چې هېڅ یوه یې حذف او یا نه ده ورکه شوی. د ذ خیرو له پاڼو څخه د ګټې اخیستنې پـــر کړنـــلاره باید کافي څارنه موجوده وي. د شـــمېرلو پاڼې باید په خـــود کار قلم باندې ډکې او بیا د شـــمېروونکو له خوا لاسلیک شي. د شـــمېرلو پر پاڼو باید بشپړ معلومات موجود وي. ( د ذخیرو موقعیت، شومره والي، د تولید د پړاو وضعیت او داسې نور...)

هغه وروســـتي توکي باید یادښـــت شي، چې شرکت ته راوړل کېږي او یا ترې بهر کېږي. که د ذخیرو ســـوابق وساتل شي، نو باید د ذخیرو د شمېرلو سوابق ورسره سمون ورکړل شي او توپیرونه یې (که چېرې موجود وي) وڅېړل شي.

## په موجودۍ کې ګډون Attendance At Stock Take

مفتش د ذخیرو د موجودۍ په بهیرکې باید پلان شوي کړنلارې، چې په لاندې توګه دي، پلي کړي:

– له دې څخه ډاډه کېدل، چې موکل کارکوونکي د ذخیرو د شـــمېرنې له لارښـــوونې څخه په سمه توګه پیروي کوي.

– د ذخیرو د شمېرلو آزمویل، څو ډاډمن شي، چې کړنلارې په اغیزناکه توګه کار ورکوي.

– د زیانمن شـــویو او لـــه کاره لویدلو توکو په اړه د معلوماتو ترلاســـه کـــول او د هغې چارې تشخیصول، چې د بشپړولو لپاره یې جریان لري.

– دا په ګوته کړي، چې توکي باید و نه شـــمېرل شي ( د بېلګې په توګه: په درېیم لوری پورې اړوندې ذخیرې) په شمېرنه کې نه دی شامل شوی.

– لـــه دې څخـــه ډاډه شي، چې د ذخیرو په لېږدونه کې کمي راغلی او که کمۍ نه دی راغلی، نو په سمه توګه وشمېرل شي.

– د هغو وروســـتنیو ذخیرو د تفصیلاتو لاســـته راوړل، چې د پرې کېدنې ( انقطاع) په خاطر، ګودام ته داخل او یا ترې بهر شوي دي.

هغـــه مفتش، چې د ذخیرو د شـــمېرنې په برخه کې دنـــده لري، مکلف دي، چې ډاډه شي، آیا

ketabton.com - The Digital Library

داسې ښکاري، چې د ذخيرو موجودۍ په سمه توګه پلي شوي او آيا دغه شمېرنې د ذخيرو د شتوالی د تشخيص لپاره، مناسب بنسټونه وړاندې کوي او کنه؟

سربېره پر دې، یاد مفتش د شمېرنې په پروسه کې د ځرګندېدونکو موضوعاتو پر بنسټ، بايد جوته کړي، چې د وروستني تفتيش پر مهال، آيا اړينه ده، چې د ذخيرو په پلان شويو کړنلارو کې تعديلونه رامنځ ته شي او کنه؟

## د ذخيرو تر موجودۍ وروستهAfter the stock take

د وروستني تفتيش پر مهال، د تفتيش کارکوونکي په هغو موضوعاتو پورې اړوندې مسئلې تعقيبوي، چې د ذخيرو د موجودۍ پر مهال د مفتش له خوا ثبت شوي دي.

هغه ازمويني او تجربې، چې د ذخيرو د شتوالي په تړاو بايد ترسره شي، په لاندې توګه دي:

– له دې څخه ډاډه کېدل، هغه توکي چې تجربه شوي او شمېرل شوي، د ذخيرو په وروستني صورت کې ثبت شوي دي.

– پر دې ډاډه کېدل، چې د شمېرنې ټولې مخينې، د نهايي ذخيرو په صورت کې شامل شوي او د ذ خيرو صورت د هر توکي لپاره د شمېرنې يوه مخينه (سابقه) شته.

سربېره پر دې که ذخيرې د درېيم لوريو لپاره ساتل شوي وي، مفتشين بايد د همهغو ذخيرو د شتوالي او وضعيت په موخه د پام وړ لوريو تاييد ترلاسه کړي. که يو شرکت د موجودۍ سيستم په دوامداره توګه ترسره کړي، مفتشين بايد ډاډه شي، چې شمېرنه په ډول (ازمايشي) اجرا او د ثبت شويو او شمېرل شويو ذخيرو ترمنځ توپيرونه تعديل شوي دي.

## وروستنی تفتيش Final audit

د وروستني تفتيش پر مهال، ټول هغه تفصيلات تعقيبېږي، چې مخکې له مخکې ترلاسه شوي،څو ډاډ ترلاسه شي، چې د ذخيرو مخينې سمې دي.

د پيرېدنې له بيلونو سره به د وروستيو ترلاسه شويو اجناسو يادښت ته سمون ورکړل شي. څو ډاډ ترلاسه شي، چې هغوی په سمه توګه ثبت شوي دي. (ځکه چې تر بيلونو وروسته، لېږل شوي يادښتونه لېږل شوي دي).

که مشتريانو ته د وروستنيو لېږل شويو اجناسو لپاره يادښتونه شتون ولري، هماغه يادښتونه له لېږل شويو بيلونو سره پرتله کېږي، څو ډاډ ترلاسه شي، چې آيا هغوی په سمه توګه ثبت شوي دي او کنه؟ ( ځکه چې بيلونه  د خرڅلاو په پای کې د مشتريانو لپاره چمتو شوي دي).

ketabton.com - The Digital Library

## د ذخیرو بیه اېښودنه Valuation of stock

د حسابدارۍ یو له ترټولو مهمو اړتیاوو څخه دا دي، چې اجناس له قانون سره سم باید (په تر ټولو ټیټه بیه او د نغد کېدو په خالص ارزښت) قیمت ګذاري شي.

## اومه توکي Raw materials

اومه توکي په دې موخه ازمویل کېږي، ترڅو ډاډ ترلاســه شي، چې دغه توکي د اجناســو په بیه کې په پام کې نیول شــوې دی؛ ځکه دا له امکانه لېرې بریښــي، چې د نغد کېدو خالص ارزښــت له هغه لګښــت سره توپیر وکړي، چې د اومو توکو د برابرولو په موخه ترسره شوي. مګر په هغه صورت کې، چې اجناس خراب او یا د وخت په تېرېدو سره یې بیه راټیټه شي.

مفتــش تر ټولو مخکــې باید پر دې پوه شي، چې شرکت د اومه توکــو بیه څنګه ټاکي. شرکت کېدای شي، دا وړتیا ولري، چې د جنس هر قلم په بېل ډول معرفي کړي؛ په دې صورت کې کېدای شي، چــې هغــوی پر خپلو هماغو اصلي بیو باندې قیمت ګذاري شي. له دې سره، شــونی دی، چې ځینــې ذخیرې د هغوی د ځانګــړي ماهیت له مخې په همدې توګه قیمت ګذاري کړو، نو پر دې بنسټ، شرکت باید له یو ځانګړي تخنیک لکه ( له لومړنۍ واردې څخه لومړۍ صادره) FIFO کار واخلي او تاسې باید د دغه تخنیک په اړه معلومات ولرئ.

## د بیې اېښودنې کړنلاره څرنګه عمل کوي How it wirks

داسې وانګیرئ، چې یو شرکت عین اجناس په تکراري ډول پیري او په یو لوی صندوق کې یې زېرمــه کــوي. نو په دې صورت کې، شرکت څرنګه کولی شي، پر دې پوه شي، چې د ذخیرې د توکو کوم قلم د اپریل په میاشت کې او کوم یې د می په میاشت کې پیرېدل شوي؟

کــه بیې تغییر نه وي کړي، نو کومه خبره نشــته، خو که پــه هغه موده کې، چې دغه ذخیرې پیرېدل شــوي، بیې تغییر کړي وي، نو په دې صورت کې د شرکت کارکوونکي مکلف دي، چې تر ټولو ښه او عادلانه بیه وټاکي او پر بنسټ یې د ذخیرې ټول توکي قمیت ګذاري کړي؛ که څه هم ښایي د ذخیرې هر قلم په بېله بیه پیرېدل شوی وي.

(له لومړنۍ واردې څخه لومړني صادره) –FIFO په سیستم کې شرکت باید داسې اټکل وکړي، هغه ذخیرې، چې تر ټولو ړومبی پیرېدل شوي، تر نورو ړومبي خرڅېږي.

(اجنــاس – موجودي د هغوی د ترلاســه کېدو په ترتیــب سره خرڅېږي) څو ذخیرې د ترټولو وروستي بیې پر بنسټ قیمت ګذاری شي.

مفتشین باید پر دې ډاډه شي، هغه کړنلاره، چې د تقریبي قیمت ګذارۍ لپاره کارول کېږي، له

ketabton.com - The Digital Library

مخکنیو کلونو سره اړخ لګوي او کنه؟ هغوی باید د اجناســو د پیرېدنې بیلونو او یا درېیم لوري د ثبوت (د عرضه کوونکو د بیو لست) پر بنسټ، بیې تثبیت او وڅېړي.

## بانـک او پـیسې Bank And Cash

## (د تفتیش مکلفیتونه)

مفتشــین باید د موکل بانکي بیلانس د تفتیش پر مهال، بشــپړوالي، شتوالي، حقوقو، مکلفیتونو او قیمت ګذارۍ ته یې متوجه وي.

ټول یاد شــوي موضوعات د موکل له بانک څخه د هغه تایید د ترلاســه کولو پر بنسټ ازمویل کېــدای شي، چــې د بانک د مکتوب  په نامه یادېږي. په ځېنو ســوداګریو کې د شرکت په محوطه کې پولي جریان ډېر لږ وي، خو په ځېنو نورو کې کېدای شي، دغه جریان (Cash float) زیات وي.

که پیســې با ارزښــته او که بې ارزښته وي، خو له دې سره سره، د پام وړ پیسې د بشپړوالي په موخه ازمویل کېږي؛ ځکه چې د پیسو د غلا اټکل ډېر کره وي.

## بــانـک Bank

مفتــش د تاییدېــدو لپاره، د یو مکتوب په ترڅ کې له هماغه بانک څخه باید د موکل د بانکي بیلانس غوښــتونکی شي؛ دغه غوښــتنه باید د مالي کال تر پای ته رســېدو دوه اونی وړاندې ترسره شي، څــو بانــک د موضوع په تړاو پر وخت خبرتیا ترلاســه کړي، بانک یوازې په هغه صورت کې د مفتش مکتوب ته ځواب ورکوي، چې په دې تړاو له شرکت څخه مخکنی موافقه لیک ترلاسه کړي وي. لــه همــدې امله، د مفتش لپاره دا اړینه ده، چې پر دې پوه شي، آیا شرکت د مالي کال تر پای ته رسېدو وړاندې همداسې کوم موافقه لیک بانک ته لېږلی، چې پر بنسټ یې بانک اجازه ولري، د مفتش پوښتنو ته لیکلي ځوابونه وړاندې کړي او کنه؟

د مفتش مکتوب له بانک څخه د لاندې معلوماتو غوښتنه کوي:

- د بانکي بیلانس او حساب تفصیل.
- دشرکت لپاره د ګټې اخیستنې وړ امکانات ( لکه: د سندونو کاپي)
- هر راز ضمانت، چې د شرکت له خوا د پور د ترلاسه کولو په موخه بانک ته وړاندې کېږي.
- د شرکت او بانک ترمنځ د بانکدارۍ کوم بل تړاو.

دا باید له پامه و نه غورځوو، چې د یو شرکت حســاب کېدای شي، یو امتیاز وي، خو په هغه صــورت کې، چې شرکت له بانک څخه زیاته اخیســتنه ولري، نو د شرکت بانکي حســاب یو ډول زیان ګڼل کېږي.

دا ډېرله امکانه لېرې بريښي، چې د شرکت د نغدي معاملو د هر کتاب بيلانس د مالي کال په پای کې د بانک له مالي رپوټ او مکتوب سره سمون وخوري. دغه توپيرونه ځکه رامنځ ته کېږي، چې اقلام په همهغه وخت کې، چې بانک ته لېږل کېږي، نغده کتاب ته نه واردېږي او يا په عکس د دې. شرکت بايد هره مياشت يو بانکي همغږي کوونکي سند چمتو کړي او په وسيله يې د بانکي حساب وضعيت د شرکت له نغده کتابونو سره سمون ورکړي.

مفتشــين هغه اقلام څېړي چې د همغږۍ په ســند کې ثبت شوي دي او په دې پوهيږي، چې آيا همغږۍ په سمه توګه ترسره شوي او کنه؟ دوی بايد هغو بانکي پېښو ته پاملرنه وکړي، چې د (د غيرواقعي معلوماتو د وړاندې کولو) په نامه يادېږي. ځکه چې ځينې وختونه، شرکتونه په ارادي توګه په دې موخه، چې بانکي بيلانس غټ وښيي، د پيرېدنې ورکړې په نغده کتاب کې ثبتوي، خو په واقعيت کې هېڅ راز چک نه صادروي او يا دا چې، شرکت د خرڅلاو رسېدونو د ثبتولو لپاره د نغده معاملو کتاب د مالي کال تر پايه پورې پرانيستي ساتي.

هغه ازموينې چې مفتش يې په دغه برخه کې ترسره کوي په لاندې توګه دي:

– د رياضي عمليې، چې له همغږي څخه څېړنه ترسره کوي.

– هغه بيلانسونه، چې د مغايرت اخيستنې په سند کې وړاندې شوي، د بانک له مکتوب او د نغدې له کتاب سره يې سر ورکوي.

– د بانک د مالي رپوټونو تر نېټې وروســته، د همغږۍ په ســند کې، ثابت چکونه تعقيبوي او هغه اقلام روښانوي چې لا روښانه شوي نه دي.

– دغه امر څېړي، چې ايابانکي ناتصفيه شوي حسابونه د تفتيش تر وخت مخکې تصفيه شوي او که څنګه؟

– د هغو اقلامو په اړه توضيحات ترلاسه کړي، چې په نغده کتاب کې شته، خو په بانکي رپوټ کې نشته او يا برعکس.

## پـيسې Cash

مفتــش کولی شي، چې پيســې وشــمېري، څــو ډاډه شي، د پولي جرياناتو وجه په ســمه توګه وړاندې شوي او کنه. د پيسې دا ډول شمېرنه کېدای شي ډېر د حيرانتيا وړ وي. مفتش دا موضوع بايد وڅېړي، چې اړوند نغدي کتاب په خودرنګ قلم باندې ليکل شــوی او که څنګه؟ مفتش بايد هېڅکله پولي بيلانس يوازې پرې نږدي. که مفتش پيسې شمېرلې وي، ده ته اړينه ده، چې تعقيبي کړنــلارې تــرسره کړي؛ لکه: بايد ډاډه شي، چې آيا کوم پــور (زه د IOUS پور وړی يم) بېرته ورکړ شوی دی او که څنګه؟

ketabton.com - The Digital Library

## خومره مو زده کړي ؟ How much you learned?

-۱ ولې د ذخیرو تفتیش ستونزمن دی؟

-۲ هغه کلیدي اعلامیې چې مفتش یې باید وازمویي، کومې دي؟

-۳ ولې مفتش دذخیرودشمېرنې له لارښوونې بیاکتنه ترسره کړي؟

-۴ ولې د ذخیرو د انقطاع ثبتول مهم دي؟

-۵ لګښت څرنګه ازمویل کېږي؟

-۶ د نغد کېدنې وړ ارزښت څرنګه ازمویل کېږي؟

-۷ دلته تاسې د MEM شرکت د هغه کال لپاره د ذخیرو د موجودۍ لارښوونې لولئ، چې د دسمبر په ۳۱ مه نېټه پای ته رسېدلې. دغه لارښوونې یې ستاسې لپاره لېږلي او تاسې باید د خپل تفتیش چارې له هغه سره سم پلان کړئ.

## د شتمنیو تفتیش Audit Of Assets

د دغه څپرکي په لړ کې د شتمنیو د نورو عمده څانګو په تړاو د تفتیش له بنسټیزو کړنلارو څخه بحث کوو. همدارنګه د هغو ازموینو په اړه به یوه لنډه کتنه ولرو، چې مفتش په دغو شتمنیو پورې د اړوندو عوایدو او لګښتونو په تړاو ترسره کوي؛ لکه: استهلاک، ناسم لګښتونه، خرڅلاوې او پورونه.

زموږ د بحث وړ موضوعات په لاندې توګه دي:

- ثابتې شتمنیې.
- نامحسوس ثابتې شتمنۍ.
- پانګه اچونې .
- سوداګریز پورونه.
- پیش پرداختونه .
- خرڅلاو.
- بانک اوپیسې.
- مفتش ازموېښتونه په سمه توګه او له هغې کړنلارې سره سم ترسره کړي، چې د تفتیش په پلان کې ټاکل شوي، د خپلې ازموینې پایلې په سمه توګه یادښت او ترې معتبرې پایلې راوباسي.

ketabton.com - The Digital Library

– د شتمنیو او پورونو شتوالي، بشپړوالي، مالکیت، قیمت ګذارۍ او نور توضیحات تثبیت کړي او د خپلو کتنو د پیاوړتیا لپاره مناسب مدرکونه چمتو کړي.

– ټول هغه موضوعات چې نامعمول ماهیت لري، په ګوته او په اړه یې ډېر ژر د تفتیش ټیم سرپرست ته رپوټ وړاندې کړي.

– عمده او ارزښــتناکې تېروتنې، نیمګړتیاوې او له معیار سره نور توپیرونه تشــخیص او ثبت کړي او د هغو په اړه د تفتیش ټیم سرپرست ته رپوټ وړاندې کړي.

## ملي شورا (پارلمان) ته د تفتیش رپوټ

هغــه مالي بیانات، چــې په .... تر ... پاڼو کې مې تفتیش کړي، د دفتري بیې پر بنســټ چمتو شوي (چې یو شمېر یې د بیا لپاره قیمت ګذاري شوی دی) او د محاسبې له اصولو سره سم یې د پاڼو شرح بیان شوي.

## د مفتش او دولت اړوند مسوولیتونه

لکــه څرنګــه، چې د رپوټ په پاڼه کې هم ترې یادونه وشــوه، دولت د مالي لیکونو د برابرولو مســوولیت لري، او مفتش مسوولیت لري، چې د افغانســتان د تفتیش قانون په رڼا کې، د دولت د قطعیــه حســابونو (د لیکونو بیــان) په تړاو د تفتیش داجرااتو پربنســټ، خپل نظر په ازاده او مستقله توګه وړاندې کړي.

## د نظریې بنسټ

د تفتیش اجراات له هغو منلو شویو قوانینو سره سم تنظیمېږي، چې د نړیوال تفتیش د لوړې موسســې له خوا خپرېږي. د تفتیش اجرا په مالي بیانیو پورې د اړوندو مدرکونو ارزونې په بر کې نیــسي. همدارنګــه هغه اټکلونه او خپرونې هم په بر کې نیسي چې د دولت له خوا د مالي بیانیاتو په اړه وړاندې کېږي.

د دې ترڅنګ رایج محاسبوي اصول، چې د دولت له وضعې سره سمون خوري، په ټولو مراجعو کې (ترسره شــوی او په کافي اندازه) تشریح شــوي دي. تفتیش باید داسې ترسره شي، چې ټول هغه معلومات او مدرکونه وارزوي چې اړین کنټل کېږي.

زموږ په اند د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د ۱۳۸۱ کال مالي بیانات ښې او مناسبې پایلې لري او د همدې کال تر پایه پورې د دولت چارې په سمه توګه سمبال او له قانون سره سم ترسره شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## عمومیات

په دې مبحث کې، هغه بنسټونه او اصطلاحات تر څېړنې لاندې نیول کېږي، چې د تفتیش پر مهال کارول کېږي او یو لړ مفاهیم جوتوي.

پــه دې برخه کې باید یادونه وکړو، بې ګټــې به نه وي، چې لومړی د کنټرول او تفتیش اداره وپیژنــو؛ که څه هم د دغــه ادارې لپاره د کلمو په چوکاټ کې د یو مشــخص او ځانګړي تعریف وړاندې کول ستونزمن بریښي؛ ځکه د یوې موضوع تعریف د مهالني او مکاني شرایطو په پام کې نیولــو سره د بڼو لــه پلوه توپیر کوي، خو له دې سره سره، د دغې ادارې موخو ته په کتو، دلته په اړه یې لنډ معلومات وړاندې کوو:

د کنټــرول او تفتیــش عمومــي اداره په هېواد کــې د تفتیش د ترټولو لــوړ ارګان په توګه، له بانکونو، مختلطو شرکتونو، کوپراتیفونو، ټولنیزو ســازمانونو او (په مرکز او ولایتونو کې) د داســې نــورو ارګانونــو له چارو څخه څېړنــې او پلټنې ترسره کوي. دغه اداره خپلې دندې په مســتقیمه توګه د ولســمشر تر نظر لاندې سرته رســوي. یاده اداره د موخې له پلوه، د عامه ګټو او وجوهو د ســاتونکي ارګان په توګه، له هر راز منفي پدیدو، بې غوریو، له عامه شــتمنیو څخه د غلاوو او ناوړو ګټو اخیســتنو څخه مخنیوی کوي. همدارنګه د ناقانونه لګښتونو مخه نیسي او د عایداتي او مصارفــاتي باقیاتو له تحصیل څخه څارنه کــوي. د درغلیو او سرغړونو موارد په ګوته کوي او عدلي مراجعو ته د تورنو کسانو په پېژندلو کې  اقدام کوي. همدارنګه د کنټرول او تفیش اداره، د دولت له قطعیه حســاب څخــه ارزونه، د بودیجې د کسر د لاملونو تشــخیص او د نیمګړتیاوو، کمیو او اضافه ورکړو د له منځه وړلو په موخه مراجعو ته د رغندو لارښوونو وړاندې کول خپله دنده بولي. دغه اداره په ســاختماني اټکلونو (برآوردونو) کې شته توپیرونه په ګوته کوي او د هغو مرستو او د لګښت له چارې څخه یې، څېړنه ترسره کوي، چې د دوستو هېوادونو له خوا ورکول کېږي.

دغه اداره د تفتیش د نړیوالو سازمانونو غړیتوب هم لري، که څه هم په تېرو کلونو کې د هغو بدلونونو له امله، چې زموږ په هېواد کې رامنځ ته شوي و، غړیتوب یې تعلیق شوی و.

ketabton.com - The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډیز

پــه دغه څپرکــي په ټولیزه توګه د زېرمــو، د زېرمو بنې، موجودۍ، د موجــودۍ ډولونه او د موجودۍ مهال تر بحث لاندې نیول شوی. لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، هره اداره که هغه دولتي وي او شــخصي، د خپلو د اړتیاوړ توکو او جنســونو د ســاتنې په موخه تحویلخونو او زېرمتونونو ته اړتیا لري، څو د غوښــتنې او اړتیا پر مهال ترې ګټه واخیســتل شي او په ورځنیو چارو کې خنډ او ځنډ رامنځ ته نه شي. نو د دغه څپرکي د مطالبو په لوستلو او مطالعه سره د زده کوونکــو لپاره د زېرمتونونو په تــړاو کافي معلومات حاصلېږي. د دې ترڅنګ په دغه څپرکي کې د زیرمتونونــو او تحویلخونو او موجودیو په اړه نوي او پرمختللي میتودونه وړاندې شــوي، څو دغه سیستم په راتلونکي کې زموږ د دولتي او خصوصي ادارو د ذخیرو په برخه کې پلي شي. همدارنګه د حاضر کتاب په یاد څپرکي کې د ذخېرو د راټولولو حســابونه او شکلونه او په پرمختللي سیستم کې د جمع خرچ بهیر چمتو شوی، په پای کې د یاد کتاب منځپانګه د نوي ښوونیز نصاب د تطبیق په موخه د درنو استادانو او ګرانو زده کوونکو خدمت ته وړاندې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې

۱- له ذخیرو سره بلدتیا تشریح کړئ؟

۲- د پیسې او بانک په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۳- ذخیره څه شی ده او څه وخت کنټرولیږي؟

۴- د وروستني تفیتش دندې څه دي؟

۵- موجودي څه شی ده او د ذخیرو موجودۍ په کال کې څو ځله ترسره کیږي؟

۶- د ذخیرو پرې کېدنه (انقطاع) تشریح کړئ.

۷- د دغه څپرکي له محتویاتو څخه مو څه ترلاسه کړل؟

ketabton.com - The Digital Library

# سرچينې او اخځليکونه


۱- مواد مرتبه از اداره کنترول و تفتیش. از منابع اروپا (انتوسای).

۲- مواد ترجمه شده از سیمینارها.(۲۰۰۴)(منش)مربی

۳- تعلیمات نامه تفتیش (CAG) هندوستان.

۴- سایت های انترنتی مطمئن.

۵- تعلیمات نامه تهیه و تنظیم تحویلخانه هاسال۱۳۸۷

۶- مقرره موجوی تصدی هاسال۱۳۸۷ تفتیش وکنترول

۷- گزارش اداره کنترول تفتیش در پارلمان سال۱۳۸۷

۸- مجلات منتشره اداره کنترول و تفتیش سال ۱۳۸۶-۱۳۸۸

۹- کتاب درسی مهارت های مدیریت.اصلاحات اداری سال۱۳۸۵

۱۰- و سایر منابع به شمول اندوخته های شخص خودم.سال۱۳۸۸

ketabton.com - The Digital Library

## د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښـــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســـې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښـــښ وکړي. د خداى(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ ځانګې د ښـــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنيکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ ځانګې د مســـلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســـلکي، تخنيکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوى املايي او انشـــايي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړاى شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والى په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*